# اول فصل

## د ذو الحجې داولو لسو ورځو فضیلتونه

**اول حديث: [عن ابي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ ما من ايام احب الي الله ان يتعبد له فيها من عشر ذی الحجة يعدل صيام كل يوم منها بصيام سنة و قيام كل ليلة منها بقيام ليلة القدر**[1]].

**ترجمه:** د حضرت ابو هريره ﵁ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه ورځ داسي نسته چي په هغه کي عبادت و خدای پاک ته د ذو الحجې تر لسو ورځو زيات خوښ وي، ځکه چه د ذو الحجې په اولو لسو ورځو کي د هري ورځي روژه د يوه کال د روژو سره برابره ده او د هري شپې عبادت ئې د شب قدر د عبادت سره برابر دئ.

**تشريح:** د نبي کريم ﷺ د ارشاد څخه د ذوالحجې د اولو لسو ورځو څومره غټ فضيلت معلوم سو، هغه دا چي که يو سړی په دې ورځو کي يوه روژه ونيسي نو د يوه کال د روژو ثواب ورکول کېږي او که دوې ورځي روژه ونيسي نو د دوو کالو د روژو ثواب ورکول کېږي او که داسي يو څوک چه د آخرت حريص وي په دغو ورځو کي پوره نهه روژې ونيسي نو هغه ته د نهو کالو د روژو ثواب ورکول کېږي، دا خو د ورځي فضيلت دئ او د شپې فضيلت داسي دئ چي اول خو په روژه کي شب قدر معلومول يقيني نه دي که معلوم هم سي

---

[1] مشكوة المصابيح: اول ټوک – ۱۲[illegible] مخ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو هغه صرف د یوې شپې فضیلت دئ مګر په دې شپو کي هره شپه بیداریدل هر سړی د شب قدر د عبادت ثواب حاصلولای سي او د شب قدر ثواب د زرو میاشتو څخه غوره ښودل سوی دئ، چي په هغه کي تقریباً دېرش زره شپې راځي نو ګواکي په شب قدر کي عبادت کول د دېرشو زرو شپو تر عبادت غوره دئ، اوس نو په دغو شپو کي په عبادت کولو سره هر سړی دومره ډېر ثواب تر لاسه کولای سي. (وفي ذلک فلیتنافس المتنافسون) د آخرت د ګټي والا دي راسي او خپل طاقت دي ښکاره کړي.

**دوهم حدیث: [حدثنا مسددنا ابو عوانة عن الحر بن الصیاح عن هنیدة بن خالد عن امراته عن بعض ازواج النبي ﷺ قالت: کان رسول الله ﷺ یصوم تسع ذي الحجة و یوم عاشورا[1]].**

**ترجمه:** د نبي کریم ﷺ د ځینو ښځو (کوروالاوو) څخه روایت دئ چي د نبي کریم ﷺ عادت داسي وو چي روژه به ئې نیوله په نهمه ورځ د ذو الحجې او په ورځ دعاشورا... (د محرم الحرام د میاشتی لسمه ورځ).

**دریم حدیث: [و عن ابن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ما من ایام العمل الصالح فیها احب الي الله عزوجل من هذه الایام یعني ایام العشر قالوا: یا رسول الله ولا الجهاد في سبیل الله؟ قال ولا الجهاد في سبیل الله الا رجل خرج بنفسه و**

(1) سنن لابی داؤد: اول ټوک – ۳۳۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماله ثم لم يرجع من ذلک بشئ[1]].**

**ترجمه:** له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ، ده وويل چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نسته داسي ورځي چي عمل صالح په هغو ورځو کي ډېر محبوب وي الله جل جلاله ته تر دغو لسو ورځو، صحابه کرامو ورته وويل چي: آيا جهاد في سبيل الله هم نه دئ محبوب تر دغو ورځو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چي نه جهاد في سبيل الله، مګر هغه سړی چي په سر او مال سره جهاد ته ولاړ سي وروسته بيا د هيڅ شی سره رجوع ونه کړی (نه خپله راسي او نه مال راوړي).

**څلورم حديث: [وفي رواية البيهقي قال ما من عمل ازكي عندالله ولا اعظم اجرا من خير يعمله في عشر الاضحي قيل ولاالجهاد في سبيل الله الخ فكان سعيد بن جبير اذا دخل ايام العشر اجتهد اجتهادا شديدا حتميا يكاد يقدرعليه[2]].**

**ترجمه:** د بيهقي په يوه روايت کي راغلي دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: نسته يو داسي عمل چي ډېر پاک وي په نزد د الله او غټ وي د اجر په لحاظ تر هغه خير کار چه څوک ئې په لسو ورځو د لوی اختر کي وکړي.

**پنځم حديث: [وعن جابر رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: افضل ايام الدنيا العشر يعني عشر ذی الحجة قيل ولامثلهن في سبيل الله؟ قال ولا مثلهن في سبيل الله**

---

(1) الترغيب والترهيب: اول ټوک – ۱۹۸ مخ.

(2) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۱۹۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الا رجل عفر وجهه بالتراب(1)].**

**ترجمه:** د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چي افضل د ورځو د دنيا لس ورځي د ذو الحجې دي ...

**شپږم حديث: [وعن انس بن مالک ﷺ قال کان يقال في ايام العشر بکل يوم الف يوم ويوم عرفة عشرة الاف يوم قال يعني في الفضل(2)].**

**ترجمه:** د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ويل کېدل د لسو ورځو په باره کي چه د هري ورځي په مقابل کي ئې زر ورځي دي او ورځ د عرفات لس زره ورځي ده يعني په فضيلت کي.

**اووم حديث: [وعن الاوزاعي رحمة الله عليه قال: بلغني ان العمل في اليوم من ايام العشر کقدر غزوة في سبيل الله، يصام نهارها و يحرس ليلها الا ان يختص امر ؤ بشهادة(3)].**

**ترجمه:** د امام اوزاعي رحمة الله عليه څخه روايت دئ، دی فرمايي چي ما ته دا خبره رارسېدلې ده چي يو عمل په يوه ورځ د دغو لسو ورځو کي داسي دئ لکه غزا په لار کي د الله جل جلاله چي د ورځي روژې نيول کېږی په دغه غزا کي او د شپې پيره کېږي مګر هغه څوک چي هغه خاص کړل سي په شهادت سره (يعني د هغه ثوابونه ډېر دي).

---

(1) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۱۹۹ مخ.

(2) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۲۰۰ مخ.

(3) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۲۰۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ذو الحجې په اولو لسو ورځو کې د الله ﷻ د ذکر ډېروالی کوئ

**اول حدیث: [وعن ابن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ما من ایام اعظم عندالله ولا احب الي الله العمل فیهن من ایام العشر فاکثروا فیهن من التسبیح والتهلیل والتحمید والتکبیر(1)].**

**ترجمه:** د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالی ته د ذو الحجې د اولو لسو ماسوا بله ډېره مبارکه ورځ نسته او نه د دغو ورځو تر عمل د بلې ورځې عمل محبوب او خوښ دئ ځکه نو تاسې په دغو ورځو کې تسبیح، تهلیل، تکبیر او تحمید ډېر ډېر کوئ.

**تشریح:** تسبیح، تهلیل، تکبیر او تحمید د دیني ژبې خاص لفظونه دي. له تسبیح څخه سبحان الله ویل، له تهلیل څخه لااله الاالله ویل، له تکبیر څخه الله اکبر ویل او له تحمید څخه الحمد لله ویل مراد دي، دغه ډېر مبارک کلمات دي، په احادیثو کې د دغو ډېر فضایل راغلي دي.

**دوهم حدیث:** نبي کریم ﷺ یو وار صحابو کرامو ته وفرمایل: آیا په تاسې کې داسې سړی سته چه هره ورځ د احد د غره برابر عمل وکړي؟ صحابه کرامو عرض وکړ: یارسول الله ﷺ! د دې څوک طاقت لري چه هره ورځ د احد د غره په اندازه عمل وکړی. نبي کریم ﷺ وفرمایل: په تاسې کی ئې هر څوک طاقت لري. صحابهٔ کرامو

(1) اعلاء السنن: اتم ټوک – ۱۵۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرض وکړ: د دې څه طريقه ده؟ وې فرمايل: د سبحان الله ثواب د احد تر غره زيات دئ، د لااله الاالله ثواب د احد تر غره زيات دئ، د الحمدلله ثواب د احد تر غره ډېر دئ د الله اکبر ثواب د احد تر غره زيات دئ(1).

**دريم حديث:** په يو بل حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي: سبحان الله سل واره واياست د دې ثواب داسي دئ لکه تاسي چي سل عربي مريان ازاد کړئ، او الحمدلله سل واره واياست د دې ثواب داسي دئ لکه تاسي چي سل اسان د سامان سره په جهاد کي د سپرتيا له پاره ورکړئ او الله اکبر سل واره واياست د دې ثواب داسي دئ لکه تاسي چي سل اوښان په خيرات کي حلال کړئ او هغه قبول سوه او لااله الاالله سل واره واياست د دې ثواب د آسمان او مځکي تر مابين خلا ډکوي(2).

لهذا په دې مبارکو ورځو کي په ډېره پابندي سره د ذکر سوو کلماتو ويل په کار دي او د استغفار او درود شريف هم خاص پابندي کول په کار دي.

(1) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۴۳۴ مخ.
(2) فيض القدير: څلرم ټوک – ۱۱۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ذوالحجې په اولو لسو ورځو کښې د روژو او په شپه کې دعبادت فضيلت

**اول حديث: [وعن ابي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ ما من ايام احب الي الله ان يتعبد له فيها من عشر ذي الحجة يعدل صيام كل يوم منها بصيام سنة و قيام كل ليلة منها بقيام ليلة القدر(1)].**

**ترجمه:** د حضرت ابو هريره ﵁ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه ورځ داسي نسته چې په هغه کې عبادت و خداى پاک ته د ذو الحجې تر لسو ورځو زيات خوښ وي ځکه چه د ذي الحجې په اولو لسو ورځو کې د هري ورځي روژه د يوه کال د روژو سره برابره ده او د هري شپې عبادت ئې د شب قدر د عبادت سره برابر دئ.

**تشريح:** د شپې فضيلت ئې داسي دئ چې اول خو په روژه کې شب قدر معلومول يقيني نه دي که معلوم هم سي نو هغه صرف د يوې شپې فضيلت دئ مګر په دې شپو کې هره شپه بيدارېدل هر سړى د شب قدر د عبادت ثواب حاصلولاى سي او د شب قدر ثواب د زرو مياشتو څخه غوره ښودل سوى دئ چې په هغه کې تقريباً دېرش زره شپې راځي نو ګواکي په شب قدر کي عبادت کول د دېرشو زرو شپو تر عبادت غوره دئ، اوس نو په دغو شپو کې په عبادت کولو سره هر سړى دومره ډېر ثواب تر لاسه کولاى سي. (و

(1) مشکوة: اول ټوک – ۱۲۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


في ذلک فليتنافس المتنافسون) د آخرت ګټې والا دي راسي او خپل طاقت دي ښکاره کړي.

## د ذو الحجې د مياشتي د نهم تاريخ (د عرفات د ورځي) روژه

**اول حديث: [عن ابي قتادة رضي الله عنه ... قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صيام يوم عرفة احتسب علي الله ان يكفر السنة التي قبله والسنة التي بعده...(1)].**

**ترجمه:** د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د لوی اختر د مياشتي د نهم تاريخ (د عرفات د ورځي) د روژې په باره کي وفرمايل چي: زه د الله پاک څخه ټينګک اميد لرم چه دا روژه دي د يو کال ګناهونو دمخه او د يو کال ګناهونو وروسته له پاره کفاره وي.

**تشريح:** د ذو الحجې په نهم تاريخ چه کومه ورځ ده هغه ته د عرفات ورځ وايي د ذي الحجې په اولو لسو ورځو کي د هغې ورځي خاص اهميت او فضيلت دئ، د دې ورځي په روژه نيولو سره د يوه کال دمخه او تر يوه کال وروسته کوچني ګناهونه ټول معافېږي نو ځکه د دغه فضيلت د حاصلولو له پاره د دغي ورځي نفل روژه نيول په کار دي او د عبادت کولو خاص شوق کول او د ګناهونو د معافی او د دنيا او آخرت عافيت غوښتل په کار دي، البته په ځينو ځايو کي بعض خلک په خپلو علاقو کي په يو ميدان کي سره جمع سي او د

(1) رواه مسلم: اول ټوک –٣٦٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرفات د خلکو سره مشابهت اختیار کړي په ذکر او دعاء کي مشغول وي دا بالکل بې بنیاده خبره ده او بدعت دئ د دې څخه ځان ساتل په کار دي.

**دوهم حدیث:** [**عن مهدي الهجري نا عکرمة قال کنا عند ابي هریرة رضي الله عنه في بیته فحدثنا ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهي عن صوم یوم عرفة بعرفة**[1]].

**ترجمه:** عکرمه رضي الله عنه وایي چي موږ د ابوهریره رضي الله عنه په کور کي وو، نو موږ ته ئې حدیث بیان کړ، چي رسول الله رضي الله عنه منع کړېده د عرفات د ورځي د روژې څخه په عرفات کي.

**دریم حدیث:** [**عن ابي قتادة رضي الله عنه قال: سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم عن صوم یوم عرفة قال یکفر السنة الماضیة والباقیة**[2]].

**ترجمه:** د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه څخه روایت دئ، دی وایي چي سوال وسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د روژې د ورځي د عرفات، ده مبارک وفرمایل: چي د عرفات د ورځي روژه د تېر کال او راروان کال له پاره کفاره ده (د کوچنیو ګناهونو له پاره).

**یادونه:**

د پورتنیو دواړو حدیثونو په مابین کي هیڅ قسم تضاد نسته ځکه کوم کسان چي حج ته تللي وي او د عرفات په میدان کي وي د هغوی له پاره په عرفات کي د روژې نیولو څخه منع راغلې ده او په

---

(1) سنن ابي داؤد: اول ټوک – ۳۳۱ مخ.

(2) الترغیب والترهیب: دوهم ټوک – ۱۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم حديث کي بيا فضيلت بيان سوی دی د هغو کسانو له پاره چي د عرفات په ميدان کي نه وي.

## د کوچني او لوي اختر د شپې فضيلت

**اول حديث: [و عن ابي امامة ﷺ عن النبي ﷺ قال: من قام ليلتي العيدين محتسبا لله لم يمت قلبه يوم تموت القلوب**(1)**]**.

**ترجمه**: د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چي: کوم سړی د دوو اخترو (کوچني اختر او لوی اختر) د شپو د ثواب يقين درلودی روڼي ئې کړې نو د هغه زړه نه مړ کېږي په هغه ورځ چي د نورو خلګو زړونه مړه کېږي.

**تشريح**: د کوچني اختر او لوی اختر د شپې د روڼولو مطلب دا دئ چي دغه شپې د الله ﷻ په عبادت کي تېري کړي او په ذکر و تسبيح، صله رحمي، د نېکانو خلکو په صحبت او ناسته کي دا وخت تېر کړي، د خپل عيال سره د محبت او ګرانښت سلوک وکړي، د قريبانو او خپلوانو سره ښه سلوک وکړي دا ټول د خير کارونه دي وکړي او په عبادت کي دي دغه شپې تېري کړي.

او دا خبره چي (په دغو شپو کي د عبادت کوونکو زړه نه مري) د دي مطلب دا دئ چي د قيامت په سخته ورځ چه هر طرف ته به بېره او خوف وي خلک به بې حواسه وي او نشه غوندي به وي او حال دا

---

(1) سنن ابن ماجه: ۱۲۷ مخ، کذا في الترغيب والترهيب: دوهم ټوک - ۱۵۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي نشه به بالکل نه وي مګر د الله پاک عذاب داسي سخت دئ چي د خلګو به دا حالت وي په دغسي سخته ورځ مګر الله تعالی و دغه بنده ته ډېر آرام ژوند ورکوي د بېري او خوف څخه به ليري وي، الله تعالی دي موږ ته هم دغه نعمت راکړي ځکه نو د لوی اختر شپه ډېره مبارکه ده د هغه قدر کول په کار دي او د هغه قدرداني دا ده چي دا شپه د خدای پاک په ذکر، درودشريف او په نورو عبادتونو کي تېرول په کار دي که ګرده شپه نه سي ويښېدلای نو په آساني سره چه څو مره ويښېدلای سي عبادت وکړي لږ تر لږه د ماخستن او سهار لمونځ په تکبير اولی په جماعت سره ادا کړي په مابين کي چه څو مره وخت ذکر او عبادت کولای سي وئې کړي وروسته بيده سي پر دغه باندي هم اميد دئ چي الله تعالی مو محروم نه پرېږدي.

**دوهم حديث:** **[و روی عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من احيا الليالي الخمس وجبت له الجنة ليلة التروية و ليلة عرفة و ليلة النحر و ليلة الفطر و ليلة النصف من شعبان[1]].**

**ترجمه** : د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم سړی چي (د ذکر او عبادت په ذريعه) پنځه شپې ژوندی کړي (ويښ پاته سي) د هغه له پاره جنت واجب سو هغه پنځه شپې دغه دي، د ذو الحجې د اتمي ورځي شپه، د عرفات شپه، د لوی اختر شپه، د کوچنی اختر شپه او د شعبان د

---

(1) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۱۵۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځلسمي ورځي شپه (د پنځلسی شپه).

**تشریح**: داسي نو د ذو الحجې د اولو لسو ورځو شپې ټوله مبارکي او فضیلت لرونکي دي لکه څنګه چه په مخکي احادیثو کي د هغو فضیلت بیان سو. دا ټولي شپې دومره غټي شپې دي چه خپله الله تعالی په سورة الفجر کي په دغو شپو قسم اخیستی دئ، بیا نو په دې ګردو شپو کي د ذو الحجې داتم، نهم، او لسم تاریخ شپې مهمي او فضیلت والا دي.

د دغو شپو یو خاص فضیلت دا ښودل سوی دئ چه کوم سړی کوښښ وکړي چي دا شپې د خدای پاک په عبادت کي روښي کړي او پنځلسی او د کوچني اختر شپه هم د الله ﷻ په عبادت کي تېره کړي نو د داسي سړي د کوښښ او محنت په بدله کي الله تعالی صرف جنت ورکوي د ټول کال په سوونو شپو کي صرف په دغو پنځو شپو کي ویښېدل او عبادت کول کوم ګران کار نه دئ، د دنیا د معمولي فایدې له پاره موږ په شپو شپو ویښ یو لکه چوکیدار چه د یو څو پیسو په خاطر ټوله شپه ویښ وي د ټوکرانو جوړولو په میلانو کي مزدوران ټوله شپه خپله وظیفه سر ته رسوي او داسي نور ډېر مثالونه...

نو آیا د آخرت د سختي ورځي څخه د ژغورلو، د پاک ژوند د حاصلولو او جنت ته د رسېدلو له پاره موږ ټوله شپه نه سو ویښېدلای او عبادت نه سو کولای؟ خامخا ئې کولای سو نو ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library


وتړي د نفس او شیطان مقابله وکړئ او دغه قیمتي شپې مه برباد وئ په ذکر، تسبیح، عبادت او نور د خیر په کارونو کې چه څومره کولای سي دغه مبارکي شپې روښي کړئ.

## د لوی اختر د شپې ناقدري:

د تېرو احادیثو څخه ثابته سوه چي د ذو الحجې د اولو لسو ورځو ټولي شپې ډېري مبارکي دي، په دې کي بیا د اتم، نهم، او لسم تاریخ شپې ډېري مهمي دي بیا په دغو شپو کي د لوی اختر شپه چي د ذو الحجې د اولو لسو ورځو آخري شپه ده ډېره مبارکه او مهمه ده کوم چه د هغې فضایل په تفصیل سره بیان سول مګر افسوس چه موږ خپل ځانونه د دغو ټولو برکتو څخه محروم کړیدي، نه صرف محروم کیدل بلکي دغه شپه په بې ځایه خبرو او ناحقه کارونو او په رکم رکم ګناهونو کي تېرېږي د هغه یو څو مثالونه دغه دي:

● ځیني خلک دغه مبارکه شپه په ډول ډول بازیو کي تېروي، مثلاً شطرنج، چکه، کرم بوټ او په نورو نوي د ګټلو او بایللو بازیو کي چي په هغه کي شطرنج خو حرام دئ او نوري بازۍ هم د جواز د شرائطو نه لرلو له وجهي ناروا دي، بالفرض که کومه بازي روا هم وي بیا هم دغه مبارکه شپه د لهو و لعب لپاره نه ده د عبادت او اطاعت لپاره ده دا شپه په عبادت کي تېرول په کار دي ډېر خلک د ټي وي د پروګرامونو په لیدلو کي مصروف وي حالانکه ټي وي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېرو ګناهونو او فساداتو مجموعه ده له دې وجهې څخه ئې لیدل هم جائز نه دي که څه هم پروګرام مذهبي یا تعلیمي قسم وي. نو په دې مبارکي شپې کي په دې لعنت کي اخته کېدل د هغه ګناه نوره سختوي لهذا د دې بې مقصده شي څخه بالعموم او په دغه مبارکه شپه کي بالخصوص ځان ساتل په کار دي.

- ځیني خلک په دغه مبارکه شپه کي د بازارو د ښایست، رنګ و روغن د رانیوونکو د لیدلو لپاره په بازارو کي تفریح کوي او په دا ډول د شپې ډېر ه برخه ضایع کړي حالانکه بازار د ځمکي پر مخ و الله ﷻ ته تر ټولو ځایونو بد او مبغوض دئ وجه ئې دا ده چي بازار د ډېرو غټو ګناهونو مرکز وي، مثلاً د ښځو سینګار، بې پردګي، خرڅول، رانیول او په بازار کي بې فایدي ګرځېدل د سروز عامېدل، چم بازي، درواغ، غیبت او ښکنځل کول، جنګونه کول، په تللو کي خیانت، په ګزولو کي خیانت، لهذا په بازار کي حتی الامکان د ټولو ګناهونو څخه د ځان ساتلو سره سره د ضرورت په وخت کي د ضرورت په اندازه تلل په کار دي، بې ضرورته په بازارو کي تفریح کوونکی هم په ډول ډول ګناهونو کي مبتلا کېږي په دې ډول چه په دې مبارکه شپه کي د دې پر ځای چي یو څه حاصل سي نور په ګناهو کي اخته کېدل او د الله تعالی و ناخوښه ځای ته بې له ضرورته تلل خپل ځان د الله تعالی د رحمت او بخښلو څخه محرومول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځیني خلګ په دغه شپه کي په هوټلونو کي د یخو او تودو مشروباتو په څښلو کي مصروف سي او په ساعتو ساعتو په بې ځایه خبرو بلکي د ګناه په خبرو کي مشغول سي د دغه مبارکي شپې زیاته حصه ضایع کوي چه دا ټول د الله تعالی د رحمت څخه محرومي ده او په ګناهونو کي اخته کېدل دي.

- ډېر خلګ داسي هم دي چه د دې شپې په فضیلت او عظمت خبر هم نه دي ځکه نو په دغه شپه کي د ذکر او عبادت او تسبیح او مناجات و طرفته نه متوجه کېږي او نوري ډېري شپې ئې په غفلت کي تېري کړي وي دغه ناپوهي دوی د آخرت د ډېر غټ ثواب څخه محرومه کړېدي چه د ډېر تاوان خبره ده.

- لیدل کېږي چه ځیني خلګ د دې شپې په فضیلت او عظمت باندي خبر وي د دین او علم سره د هغو تعلق وي هغوی هم و دې شپې ته هیڅ اهمیت او ارزښت نه ورکوي که یو وخت په ناپامي هغوی و دې طرف ته متوجه کړل سي نو دستي دا جواب درکوي (چه ایا په دې شپه ویښېدل فرض او واجب دي) بېشکه چي په دې شپه کي ویښېدل او نفلي عبادت کول فرض او واجب نه دي مګر ایا د الله تعالی او د هغه د نبي محمد ﷺ ترغیبات ناحقه دي او پرېښودل سي؟ آخر نو د دغو ترغیباتو څوک مکلف دئ؟ اهل علم و هغه ته غیر ضروري ووایي او عوام د خپلي ناپوهۍ له وجهي د هغه اهتمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه کړي نو په امت کي به څوک پر دې عمل کوي راته وواياست چه د آخرت د دومره غټ ثواب او د خدای تعالی د رضا او جنت د حاصلولو څخه خپل ځان محروم کول د تاوان خبره نه ده؟ او آيا دغه شيان تاسي تر لاسه کړيدي؟ که مونډي حاصل کړي نو د دې څخه پناه وغواړئ او استغفار ووایاست.

- ځيني تاجران په دغه شپه کي دنيوي مصروفيت د کمولو پر ځای نور زياتوي او په دې کي مصروف وي چي کله کله فرض لمنځونه هم پاتېږي چي دا په هيڅ ډول جائز نه دي داسي تاجران که خپل مصروفيت نه سي کمولای او دغه شپه په ذکر، تلاوت، عبادت او طاعت کي نه سي تېرولای نو کم از کم د سهار او ماخستن لمونځ دي په جماعت سره ادا کړي او په ګرځېدو راګرځېدو کي د ذکر و دعا په ذريعه د دغه شپې فضيلت په يوه درجه کي لا حاصلولای سي اصل خبره د فکر د غوښتني او د قدر او قيمت ده چه د چا په زړه کي لږ اهميت او فکر وي نو هغه به ډېر سخت مصروفيت د دې فضيلت د حاصلولو لپاره پرېږدي او څوک چه فکر نه لري دنيا او د هغه ګټي و هغه ته اهميت ولري نو د هغه په زړه کي د دغو خبرو څخه بې قدري پيدا سي او د هغه نفس رکم رکم بهانې او چمونه رامخ ته کړي بالاخره هغه د دغي شپې د فضيلت څخه محروم کړي، الله تعالی دي مو وساتي آمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اختر د تیارۍ فتنه:

یو بله فتنه (د اختر د تیاریو) ده چه په کوچني اختر کي زیاته او په لوی اختر کي لږ کمه وي، کوچنی اختر او لوی اختر الله تعالی د مسلمانانو لپاره ښېشکه او شبهې د خوشحالۍ ورځ ګرځولې ده او دو مره خبره هم د شریعت څخه ثابته ده چه په دا ورځ چه تر ټولو ښه جامه و چا ته پیدا سي هغه دي واغوندي مګر نن سبا د دغه مقصد په خاطر ډېر بې ځایه مصرفونه او اسراف کول د اخترونو په ضروري شیانو کي شمېرل سویدي چي د هغه د شریعت سره هیڅ تعلق نسته نن دا خبره فرض او واجب بلل سوېده چه کوم سړی مالي طاقت که لري او که ئې نه لري مګر هغه د کور د هر غړي لپاره کالي، خولۍ او هر شی نوی رانیسي د کور د ښایستوالي لپاره نوي سامانونه پیدا کوي په نورو ښارو کي چه قریبان او دوستان اوسي هغو ته ګران کارډونه لېږي او په دې ټولو کارو کي د هیڅ چا څخه شا ته نه وي، د دې نتیجه دا سي چه د یوه میانه حاله سړي لپاره د اخترونو تیاري یو جلا غم جوړ سي چي کله هغه د خپل کور د غړو فرمایشاتو د پوره کولو لپاره جائز او روا ذرائع او اسباب ناکافي وبولي نو په جلا لارو د نورو خلګو جیبونه پرې کړي او پیسې پیدا کړي تر څو د هغه خواهشات پوره سي او د دغه اختر د تیارۍ یو تاوان دا دی چي روژه او بیا خاص آخري لس شپې او دغه ډول د لوی اختر د میاشتي اولي لس شپې او بیا خاص د لوی اختر شپه چه په تنهائي کي د الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه د مناجات د غوښتلو او ذکر و فکر شپې دي ټوله په بازارو کي
تېري سي مطلب دا چي د روژې وروسته د ذو الحجې اولي ورځي او
شپې ډېري مبارکي دي او د آخرت د ګټې ډېر ښه موسم دئ د مؤمن
بنده لپاره چه د هغه د ژوند مقصد صرف د الله تعالی رضا او جنت
دئ ډېر ښه موقع او وخت دئ چي خدای پاک محض په خپل رحمت
سره راکړی دئ دغه مبارکي ورځي او شپې باید غنیمت وبلل سي او
هر سړی چي څونه طاقت ولري په دغه ورځو کي زیات عبادت،
تلاوت، ذکر، تسبیح، مناجات، توبه او استغفار وکړي، او که ډېر
نفلي عبادت نه سي کولای د ګناهو څخه دي ځان لیري کړي او که
ټوله شپه یو سړی نه سي ویښېدلای پروا نه لري په اساني سره چه
څونده وخت ویښېدلای سي عبادت دي وکړي او که نور نه وي
دومره نو باید خامخا وسي چي د ماخستن او سهار لمنځونه په
جماعت په تکبیر اولی سره وکړی او د شپې په آخري کي چه لږ
عبادت وسي او دعاء او مناجات وسي ډېر به ښه وي د خدای څخه د
دغي شپې رحمتونه او برکتونه وغوښتل سي، توبه او استغفار
وغوښتل سي زموږ د الله تعالی څخه امید دئ چي هغه د خپلو
کمزورو بندګانو څخه د دوی کوښښونه قبلوي او نه ئې محروم
کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوهم فصل

## د تشريق د تکبيراتو احکام

### په آيتونو سره د تشريق د تکبيراتو اثبات:

ټول اهل علم پر دې باندي متفق دي چي پر تکبيرات تشريق باندي عمل وسي او په دې باره کي د الله تعالی ارشاد دئ:

وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ (البقره:۲۰۳).

دلته مقصد په دغو ورځو کي د تشريق تکبيرات ويل دي تر ټولو لمنځونو وروسته[1].

### په احاديثو سره د تشريق د تکبيراتو اثبات:

نبي کريم ﷺ به تکبيرات تشريق ويل او عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه به هم ويل:

**اول حديث: [عن ابي الاسود قال كان عبدالله (ابن مسعود) يكبر من صلاة الفجر يوم عرفة الي صلاة العصر من يوم النحر الله اكبر الله اكبر لااله الاالله والله اكبر الله اكبر ولله الحمد[2]].**

**دوهم حديث: [و عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ اذا صلي الصبح من غداة عرفة اقبل علي اصحابه فيقول علي مكانكم و يقول الله اكبر الله**

---

(1) اجمع اهل العلم على العمل به والاصل فيه قوله تعالى، جاء في التفسير والله اعلم ان المراد به التكبير في هذه الايام عقيب الصلوات. (تاتارخانيه: دوهم ټوک – ۷۸ مخ).

(2) نصب الرايه: دوهم ټوک – ۲۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد**[1]].

## د اسمعیل علیه السلام په قصه سره د تشریق د تکبیراتو اثبات:

د تشریق د تکبیراتو اثبات د هغي قصې څخه هم کېږي کوم چي د اسماعیل علیه السلام ذبح پکښې ده هغه واقعه داسي وه چي کله ابراهیم علیه السلام وغوښتل چي اسماعیل علیه السلام حلال کړي نو جبرائیل علیه السلام د ذبحي لپاره یو پسه راوستی چي کله جبرائیل علیه السلام و سمآء دنیا ته راورسېدی نو پر دې وېرېدی چي ابراهیم علیه السلام تلوار وکړي نو ځې وویل **چي الله اکبر الله اکبر**، ابراهیم علیه السلام دغه الفاظ واورېدل نو سر یې پورته کړ او چي کله په دې پوه سو چي جبرائیل علیه السلام پسه راوړی دئ نو وئې ویل: **لااله الاالله والله اکبر** او کله چي اسماعیل علیه السلام واورېدل نو وې ویل : **الله اکبر ولله الحمد** نو د قیامت تر ورځي پوري دغه تکبیرونه سنت سول[2].

## د تشریق د تکبیراتو عدد یو وار دئ:

**(الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد)**[3].

---

(1) نصب الرایه: دوهم ټوک – ۲۳۱ مخ.

(2) والاصل فیه ما روی في قصة الذبیح علیه السلام ان الخلیل صلوات الله علیه لما اخذ في مقدمات الذبح جاء جبریل علیه السلام بالفداء فلما انتهی الی سماء الدنیا خاف علیه العجلة فقال الله اکبر الله اکبر فسمعه ابراهیم علیه السلام فرفع راسه فلما علم انه جاء بالفداء قال : لااله الا الله والله اکبر فسمعه الذبیح صلوات الله علیه فقال: الله اکبر ولله الحمد، فصارت سنة الی یوم القیامة. [الاختیار لتعلیل المختار: ۱ – ۳ټوکونه، ۱۱۶ مخ].

(3) واما عدده وماهیته فهو ان یقول مرة واحدة الله اکبر... [هندیه: اول ټوک – ۱۵۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د تشريق د تکبيراتو وخت:

د تشريق د تکبيراتو وخت د ذوالحجې د مياشتي د نهمي نېټي يعني د عرفات د ورځي د سهار له لمانځه څخه شروع بيا د ذو الحجې د مياشتي تر ديارلسم تاريخ د مازديګر تر لمانځه پوري او د مازديګر لمونځ پکښې شامل دئ ټوله لمنځونه درويشت کېږي[1].

## تکبيرات تشريق د هر فرضي لمانځه وروسته ويل کيږي:

تکبيرات تشريق د هر فرضي لمانځه وروسته ويل کيږي او د جمعې تر لمانځه وروسته په زوره اواز سره ويل واجب دي خو د اختر د لمانځه وروسته مستحب دي[2].

## د لمانځه څخه وروسته که د چا څخه تکبيرات تشريق هير سي:

تر هر فرضي لمانځه وروسته تکبيرات تشريق فوراً ويل واجب دي نو که د چا څخه د اختر په لمانځه کي يا په بل لمانځه کي دغه تکبيرونه هېر سول يا ئې خبري وکړې يا ئې بل کار وکړ نو بيرته

---

(1) واما وقته فاوله عقيب صلاة الفجر من يوم عرفة وآخره في قول ابي يوسف ومحمد رحمهما الله تعالي عقيب صلاة العصر من آخر ايام التشريق هكذا في التبيين. [هنديه: اول ټوک – ۱۵۲].

(2) قال الله تعالي واذكروالله في ايام معدودات ،وقال ابن عباس ﵁ ويذكرون اسم الله في ايام معلومات ايام العشر والايام المعدودات ايام التشريق مع اجماع الصحابة على الجهر بالتكبير دبر الصلوات في تلک الايام علي وجوب الجهر بالتكبير فيها ولهذا افتى علماء الحنفية بقولهما... و لا باس به عقب العيد... [اعلاء السنن: اتم ټوک – ۱۴۸ – ۱۵۲ مخونه]. والجهر به واجب وقيل سنة [ردالمحتار: دوهم ټوک – ۱۷۸ مخ]. و يجب تكبيرالتشريق في الاصح ... عقب كل فرض قوله كل فرض شمل الجمعة [الدرالمختار مع ردالمحتار: دوهم ټوک – ۱۷۷ – ۱۷۹ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیرونه نه سي ویلای او د ده څخه تکبیرونه ساقط سول[1].

**تکبیرات تشریق څو واره ویل واجب دي؟**

تکبیرات تشریق یو وار ویل واجب دئ دوه یا درې واره ویل مسنون نه دئ[2].

**تکبیرات تشریق پر چا فرض دي؟**

د تشریق تکبیرات پر مسافر، ښځه، صحرائي او یوازي لمونځ کوونکي باندي پر مفتی به قول باندي واجب دی[3].

**که امام تکبیرونه پرېښودل؟**

که امام تکبیرونه پرېښوول نو مقتدي به ئې نه پرېږدي او ژر به ئې وایي[4].

**پر مسبوق تکبیرات تشریق واجب دي:**

پر مسبوق باندي هم تکبیرات تشریق واجب دي تېر سوی لمونځ به پوره کوي او تکبیرونه به و وایي او که چیري ئې د امام سره

---

(1) و اما محل ادائه فدبر الصلاة و فورها من غیر ان یتخلل ما یقطع حرمة الصلاة حتی لوضحک قهقهة او احدث متعمدا او تکلم عامداً او ساهیاً لا یکبر لان التکبیر من خصائص الصلاة [البحر الرائق: دوهم ټوک – ۲۸۸ مخ، کذا في بدائع الصنائع: اول ټوک – ۴۶۰ – ۴۶۱ مخونه].

(2) حتی لو زاد لقد خالف السنة [مجمع الانهر: اول ټوک – ۲۶۰ مخ].

(3) و اما عندهما فهو واجب علي کل من یصلي المکتوبة لانه تبع لها فیجب علي المسافر والمراة والقروي قال في السراج الوهاج والجوهرة الفتوی علي قولهما في هذا ایضا فالحاصل ان الفتوی علي قولهما في اخر وقته و فیمن یجب علیه [البحر الرائق: دوهم ټوک – ۲۹۰ مخ]. والفتوی والعمل في عامة الامصار و کافة الاعصار علي قولهما [هندیه: اول ټوک – ۱۵۲ مخ].

(4) دل قول ابی یوسف علی ان الامام وان ترک التکبیر لایدعه المقتدي [مجمع الانهر: اول ټوک – ۲۶۰مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


سهواً سلام وګرځوی او تکبیرونه ئې وویل نو لمونځ ئې فاسد نه دئ خپل پاته لمونځ دي پوره کړي او سجده سهوه دي وکړي او تر سلام ګرځولو وروسته دي بیرته تکبیرونه د سره ووایي[1].

## د تشریق په ورځو کي قضایي لمونځونه کول:

که یو چا د تشریق په ورځو کي قضا لمنځونه کول نو ایا هغه به تکبیرونه وائي او که یا؟

ددې سوال په جواب کي علامه ابن عابدین څو صورتونه لیکلي دي:

**اول صورت**: د تشریق د ورځوماسوا د نورو ورځو لمنځونه په ایام تشریق کي کوي.

**دوهم صورت**: د تشریق د ورځو قضا سوي لمنځونه په نورو ورځو کي کوي.

**دریم صورت**: د یوه کال د تشریق د ورځو د قضا سوو لمنځونو قضا په دوهم کال کي راوړي.

**څلورم صورت**: د یوه کال د تشریق د ورځو د قضا سوو لمنځونو قضا د داغه کال د تشریق په ورځوکي راوړي، په دغه ټولو صورتو

---

(1) وکذا یجب علي المسبوق و یکبر بعد ما قضي ما فاته [هندیه: اول ټوک – ۱۵۲ مخ]. و ذکر في الملتقط ان المسبوق اذا سلم مع امامه و کبر تکبیرالتشریق مع امامه سهوا فعلیه السهو [کبیري: ۳۹۸مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي په آخري صورت کي د قضا سوو لمنځونو وروسته تکبيرونه ويل کيږي نه په نورو صورتو کي[1].

(1) او قضي فيها منها من عامه لقيام وقته كالاضحية قال ابن عابدين تحت المسئلة رباعية فائتة غير العيد قضاها في ايام العيد فائته ايام العيد قضاها في غير ايام العيد، فائته ايام العيد قضاها في ايام العيد عام آخر فائتة ايام العيد قضاها في ايام العيد من عامه ذلک لايکبر الا في الاخير فقط کذا فی البحر [رد المحتار: دوهم ټوک – ۱۷۹ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم فصل

## د اختر دلمانځه احکام

### په کوچني او لوی اختر کي دوولس مستحبات دي:

**اول**: د کوچني اختر په ورځ د اختر د لمانځه تر مخه خوراک کول او د لوی اختر په ورځ د لمانځه وروسته خوراک کول.

**دوهم**: غسل کول.

**دریم**: عطر لګول.

**څلورم**: مسواک وهل.

**پنځم**: د اختر د لمانځه تر مخه سرسایه ورکول.

**شپږم**: ښه او مباحي جامې اغوستل.

**اووم**: ګوتمۍ په ګوته کول.

**اتم**: تبکیر یعني وختي راکښېنستل او وختي خپل د محل مسجد او عیدګاه ته تلل.

**نهم**: و عیدګاه ته په تللو کي تلواره کول.

**لسم**: د سهار لمونځ د خپل کلي په مسجد کي کول.

**یولسم**: پر پښو باندي و عیدګاه ته تلل.

**دوولسم**: د مسجد څخه بیرته پر بله لار راتلل(1).

---

(1) ويستحب يوم الفطر ان يطعم الانسان قبل الخروج الى المصلى ويغتسل ويتطيب قال في القنية المستحبات اثنا عشر ثلاث منها في المتن وتسع اخرى وهي سواک واخراج صدقة الفطر ويلبس احسن ثيابه المباحة ويتختم والتبكير وهو سرعة الانتباه والابكار وهو المسارعة الى المصلى و صلوة الفجر في مسجد حيه والخروج ماشيا والرجوع في طريق اخرى ... وقوله ويستحب في يوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اختر د لمنځونو وخت:**

د اختر د لمنځونو اصلي وخت کله چي لمر يوه نېزه راپورته سي او بيا تر زوال پوري[1].

**په صحراء کي د اختر لمونځ:**

په صحراء کي د شرائطو د نه موجوديت په خاطر د اختر لمونځ واجب نه دئ[2].

**د اختر لمونځ پر چا واجب دی؟**

د اختر لمونځ پر هغه چا واجب دئ کوم چه جمعه پر واجبه وي[3].

**د اختر د لمانځه طريقه:**

د کوچني او لوی اختر په لمنځونو کي په اول رکعت کي د تکبير تحريمه سره چي فرض دئ دري تکبيره واجب دي د تکبير تحريمه تر ويلو وروسته به لاس تر نامه لاندي نيسي او په دوهم او دريم تکبير کي به لاسونه ايله نيسي او په څلورم تکبير کي به هم لاسونه تر نامه لاندي نيسي.

**اول تکبير:** لاسونه پورته کېږي او تر نامه لاندي نيول کېږي.

---

الاضحی ان يغتسل ويتطيب ويؤخر الاكل حتی يفرغ من الصلوة [الجوهرة النيرة: اول ټوک – ۱۱۱ – ۱۱۳ مخونه].

(1) و وقتها من الارتفاع قدر رمح فلا يصح قبله بل تكون نفلا محرما الي الزوال باسقاط الغاية [درمختار: دوهم ټوک – ۱۷۱ مخ].

(2) وفي القنية صلوة العيد في القرٰی تكره تحريما اي لانه اشتغال بما لايصح الخ [در مختار: دوهم ټوک – ۱٦۷ مخ].

(3) تجب صلوة العيد علي كل من تجب عليه صلوة الجمعة [هدايه: اول ټوک – ۱۵۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم تکبیر**: لاسونه پورته کېږي او ایله کېږي.
**دریم تکبیر**: لاسونه پورته کېږي او ایله کېږي.
**ځلورم تکبیر**: لاسونه پورته کېږي او تر نامه لاندي نیول کېږي. او په دوهم رکعت کي د رکوع د تکبیر سره ځلور تکبیره واجب دي په اولو درو تکبیرو کي لاسونه تر غوږو پورته کېږي او ایله کېږي ا و په ځلورم تکبیر کي به بي له لاسو پورته کولو رکوع ته ولاړ سئ.

**قانون**: یاد ولرئ چي په کوم ځای کي تر تکبیر وروسته یو څه ویل کېږي هلته لاسونه تر نامه لاندي نیول کېږي او په کوم ځای کي چي تر تکبیر وروسته یو څه نه ویل کېږي هلته لاسونه ایله کېږي[1].

**داختر دلمانځه نیت**:

فقهاء کرامو فرمایلي دي چه په نیت کي ضروري ده چه انسان په زړه سره د هغه لمانځه اراده وکړي کوم چه دی ئې ادا کوي البته که یو څوک په ژبه سره د نیت الفاظ ووایي هم پروا نه لري لکه په لاندي ډول:

**نیت**: نیت کوم د اختر د لمانځه په شپږ تکبیره واجب په دې

---

(1) ویرفع یدیه في الزوائدوان لم یر امامه ذلک الا اذا کبر راکعا کما مر فلایرفع یدیه علي المختار لان اخذ الرکبتین سنة في محله و لیس بین تکبیراته ذکر مسنون ولذا یرسل یدیه الخ ... قال في الشامي تحت قوله ولذا یرسل یدیه اي في اثناء التکبیرات ویضعهما بعد الثلاثة کما في شرح المنیة لان الوضع سنة قیام طویل فیه ذکر مسنون [درمختار مع ردالمحتار: دوهم ټوک – ۱۷۴ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


حاضر وخت د څاښت مخ مي دئ پر لوري د کعبې شریفې اقتداء مي ده په دې حاضر امام پسي ...

**اول:** به تکبیر تحریمه ووایي.

**دوهم:** به ثناء (**سبحنک اللهم** ...) تر اخره پوري ووایي.

**دریم:** به درې واره تکبیرونه ووایي او په هر تکبیر کي به لاسونه غوږو ته پورته کوي او ایله کوي به ئې او د هرو دوو تکبیرو تر مابین به دومره سکوت کوي چي درې تسبیحات پکښي ویل کېدلای سي.

**څلورم:** سورة فاتحه او قرائت به وائي او رکوع ته به ځي دا رکعت به پوره کړي کله چي دوهم رکعت ته راپورته سي.

**پنځم:** نو امام به سورة فاتحه او قرائت وایي او بیا درې واره تکبیر وایي پر هغه طریقه چي پورته لیکل سوې ده په څلورم تکبیر سره به رکوع ته ولاړ سي[1].

---

(1) والنیة هی الارادة والشرط ان یعلم بقلبه ایّ صلاة یصلی.... ویحسن ذالک (الذکر باللسان) لاجتماع عزیمته [هدایه: اول ټوک - ۹۰ مخ].

(ویصلي الامام رکعتین فیکبر تکبیرة الافتتاح ثم یستفتح ثم یکبر ثلاثا ثم یقرأ جهرا ثم یکبر تکبیرة الرکوع فاذا قام الي الثانیة قرأ ثم کبر ثلاثا ورکع بالرابعة فتکون التکبیرات الزوائد ستا ثلاثا في الاولی وثلاثا في الاخری وثلاث اصلیات تکبیرة الافتتاح وتکبیرتان للرکوع الخ) ویرفع یدیه في الزوائد ویسکت بین کل تکبیرتین مقدار ثلاث تسبیحات کذا في التبیین وبه افتی مشایخنا) [هندیه: اول ټوک - ۱۵۰ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که مقتدي د امام سره په رکوع کي شامل سو:

که یو سړی د اختر په لمانځه کي په داسي حال کي راغلی چي امام پر رکوع وو نو دی به په ولاړه تکبیر تحریمه ووایي او که ئې امکان وو چي رکوع هم کولای سي نو تکبیرونه دي ووائي او که ئې امکان نه وو نو رکوع دي وکړي او تکبیرونه دي په رکوع کي ووایي خو لاسونه به نه پورته کوي[1].

## که مقتدي د امام سره په قومه کي شامل سو:

که مقتدي د امام سره په قومه کي شامل سو نو په قومه کي به تکبیرونه نه وایي ځکه چي مقتدی د اول رکعت سره د تکبیرو قضاء را وړي[2].

## که د یو چا څخه د لمانځه یو رکعت تېر سو:

که د یو چا څخه د اختر د لمانځه یو رکعت د جماعت تېر سو نو امام چي کله سلام وګرځوي مقتدی به ولاړ سي او ثناء (**سبحنک اللهم...**) **تعوذ** (**اعوذبالله**) **تسمیه** (**بسم الله...**) **فاتحه** (**الحمدلله ...**) او سورت دي ووایي بیا دي تکبیرات زائده ووایي او رکوع دي وکړي او پاته لمونځ دي پوره کړي[3].

---

(1) (ولو انتهى رجل الي الامام في الركوع في العيدين فانه يكبر الافتتاح قائما فان امكنه ان ياتي بالتكبيرات ويدرک الركوع فعل ويكبر على رأى نفسه وان لم يمكنه ركع اشتغل بالتكبيرات ولايرفع يديه اذا أتى بتكبيرات العيد فى الركوع كذا فى الكافى) [هنديه: اول ټوک – ۱۵۱ مخ].

(2) (ولو ادركه في القومة لايقضي فيها لانه يقضي الركعة الاولى مع التكبيرات [هنديه: اول ټوک – ۱۵۱ مخ].

(3) (فاذا فرغ الامام من صلوته يقوم الي قضاء ماسبق به ثم ان كان رايه يخالف راي الامام يتبع راي نفسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



### که مقتدي په رکوع کي یو یا دوه تکبیرونه وویل:

که مقتدي په رکوع کي یو یا دوه تکبیره وویل بیا امام سر راپورته کړي نو مقتدی به هم سر راپورته کوي او د امام متابعت به کوي او پاته سوي تکبیرونه د ده څخه ساقط کېږي[1].

### که مسبوق په التحیات کي د امام سره شامل سو:

مسبوق یعني هغه څوک چي د اختر لمونځ څني تېر سوی وي او په آخره ناسته کي د التحیات وروسته تر سلام مخکي یا تر سلام وروسته تر سجده سهوي مخکي یا تر سجده سهوي وروسته خو امام لا سلام نه وي ګرځولی راسي، نو دغه نفر به ولاړ سي او نور پاته لمونځ به پوره کړي[2].

### د قرائت وروسته تکبیرونه ویل:

که د امام څخه تکبیرونه هېر سوه او قرائت ئې وو ایه نو دی به تر قرائت وروسته تکبیرونه وائي یا به ئې په رکوع کي وايي[3].

---

لانه منفرد فيما يقضي بخلاف اللاحق لانه في الحكم كانه خلف الامام وان كان رايه موافقا لراي امامه بان كان امامه يرى راى ابن مسعود ﵁ وهو كذلک بدا بالقراءة ثم بالتكبيرات) [بدائع الصنائع: اول ټوک – ۶۲۳ مخ]. (واذا سبق بركعة يبتدي في قضائها بالقراءة ثم يكبر لانه لو بدا التكبير...) [حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح: دوهم ټوک – ۱۵۶ مخ].

(1) (ولو رفع الامام راسه بعد ما ادى بعض التكبيرات فانه يرفع راسه ويتابع الامام وتسقط عنه التكبيرات الباقية) [هنديه: اول ټوک – ۱۵۱ مخ].

(2) (اذا ادرک الامام فی صلوة العيد بعد ما تشهد الامام قبل ان يسلم او بعد ما سلم قبل ان يسجد للسهو او بعد ما سجد للسهو و لم يسلم الامام فانه يقوم و يقضى صلوة العيد [هنديه: اول ټوک – ۱۵۱ مخ].

(3) (واذا نسي الامام تكبيرات العيدين حتى قرأَ فانه يكبر بعد القراءة او في الركوع مالم يرفع راسه)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**که د یو چا څخه د اختر د ورځي د سهار لمونځ قضا سو:**

که د یو چا څخه د اختر د ورځي د سهار لمونځ قضاء سو نو د اختر د لمانځه تر مخه ئې قضاء را وړلای سي البته که ئې په کور کي وکړي نو ښه به وي تر څو نورو کسانو ته بدګوماني ور پیدا نه سي(1).

**که څوک اختری نکوي بیا به هم د اختر لمونځ کوي:**

کوم څوک چي اختری نه کوي د هغه لپاره هم د اختر لمونځ سته ځکه چي د اختر لمونځ مستقل واجب دئ او اختری کول مستقل واجب دئ نو که څوک د قدرت باوجود اختری نه کوي هغه سړی ګناه ګار دئ(2).

**که د یو چا څخه د اختر لمونځ تېر سو:**

که چیري د یو چا څخه د اختر لمونځ تېر سو نو په هغه ځای کي چي عیدګاه وه بل جماعت کول جائز نه دي بلکي بل ځای به په بل امام پسي د اختر لمونځ کوي(3).

**د ښار په جامع مسجد کي لمونځ کول:**

ښه کار دا دئ چي عیدګاه د ښار څخه لیري په صحراء کي وي

---

[هندیه: اول ټوک – ۱۵۲ مخ].

(1) احسن الفتاوی: څلرم ټوک – ۱۳۰ مخ.

(2) (قلت في هذه الاثار دلالة علی ان المراد ... صلوة العید یوم النحر فدل علي وجوبها) [اعلاء السنن: اتم ټوک – ۱۰۴ مخ]. وایضا من کان له سعة ولم یضح فلا یقربن مصلانا .... اقول احتج به لابي حنیفة علي قوله لوجوب الاضحیة [اعلاء السنن: اووه لسم ټوک – ۲۱۲ مخ].

(3) (فاذا فاتت مع امام وامکنه ان یذهب الي امام اخر فانه یذهب الیه لانه یجوز تعدادها في مصر واحد في موضعین واکثر اتفاقا) [البحر الرائق: دوهم ټوک – ۲۸۳ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه چي د اختر په لمانځه کي ګڼه ګوڼه ډېره وي خو د کلي او ښار په جامع مسجد کي هم د اخترو لمنځونه کول جائز دي[1].

**تکبيرات په زوره ويل کيږي او که په کراره؟**

په کوچني اختر کي چي کله سړی و عيدګاه ته ځي نو تکبيرات کرار ويل مستحب دي او په لوی اختر کي تکبيرات په لوړ اواز سره ويل مستحب دي[2].

**د اختر د لمانځه مخکي نفل کول:**

په کوچني او لوی اختر کي د اختر د لمانځه ترمخه نفل په کور او عيدګاه کي نه سي کېدلای او تر لمانځه وروسته په مصلی يعني عيدګاه کي نه سي کيدلای مګر تر لمانځه وروسته په کور کي بيا نفل کېدلای سي[3].

**ايا د اختر په لمانځه کي سجده سهوه سته؟**

زموږ مشائخو فرمايلي دي چي په اخترونو او جمعه کي سجده سهوه نسته تر څو خلګ په فتنه او اشتباه کي مبتلا نه سي[4].

---

(1) (والخروج اليها اي الجبانة لصلوة العيد سنة وان وسعهم المسجد الجامع الخ) [درمختار: دوهم ټوک – ۱۶۹ مخ].

(2) (ولايکبر في طريق المصلی عند ابي حنيفة يعني جهرا اما سرا فمستحب وهذا في عيد الفطر الخ ويتوجه الی المصلی وهو يکبر يعني جهرا) [الجوهرة النيرة: اول ټوک – ۱۱۳ مخ].

(3) (ولايتنفل قبلها مطلقا الخ وکذا لايتنفل بعدها في مصلاها وان تنفل بعدها في البيت جاز) [درمختار: دوهم ټوک – ۱۷۰ مخ].

(4) (الا مشائخنا قالوا لايسجد للسهو في العيدين والجمعة لئلا يقع الناس في الفتنة) [هنديه: اول ټوک – ۱۲۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د اختر د لمانځه لپاره اذان کول:**

د اخترونو لپاره اذان کول د سنت خلاف دئ[1].

**د اختر د لمانځه وروسته دعاء کول:**

د اختر تر لمانځه وروسته دعا کول د امت د کبارو علماوو تعامل راغلی دئ ځکه نو په دې کي شرعاً هيڅ قباحت نسته بلکي دعا غوښتل مستحب دي[2].

**د جمعې او اختر لمونځ که په يوه ورځ سي:**

د جمعې او اختر د دواړو لمنځونو جلا جلا اداء کول لازم دي، نو د اختر د لمانځه په اداکولو د جمعې لمونځ نه ساقطيږي، او دا چي په عوامو کي مشهوره ده چي که د جمعې او اختر لمونځ په يوه ورځ سو نو د اختر د لمانځه په کولو سره د جمعې لمونځ ساقطيږي غلطه خبره ده شرعاً هيڅ حيثيت نه لري[3].

**که په ښار کي دوې يا درې عيدګاوي وي:**

که چيري په يوه ښار کي دوې يا درې عيدګاوي وي نو په ټولو کي د اختر لمونځ پروا نه لري[4].

---

(1) (لايسن لغيرها كعيد) [درمختار: اول ټوک – ۲۸۵ مخ].

(2) (لما قال الله تبارک وتعالى واذا سالک عبادي عني فاني قريب اجيب دعوة الداع اذا دعان) [سورة البقره] [فتاوى حقانيه: دريم ټوک – ۳۹۶ مخ، كذا فى امدادالاحكام: اول ټوک – ۷۴۲ مخ].

(3) (اما مذهبنا فلزوم كل واحد منهما) [ردالمحتار: دوهم ټوک – ۱٦٦ مخ].

(4) (وتؤدي بمصر واحد بمواضع كثيرة اتفاقا) [درمختار: دوهم ټوک – ۱۷٦ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کوچني او لوی اختر لمونځ تر څه وخته ځنډېدلای سي؟

د کوچني اختر لمونځ د شرعي مجبورۍ په خاطر لکه باران او نور... تر دوو ورځو پوري کېدلای سي او د لوی اختر لمونځ د شرعي عذر په خاطر تر درو ورځو پوري کېدلای سي خو دا ضروري ده چي دواړه لمنځونه تر زوال پوري اداء کېدلای سي او تر زوال وروسته که په عذر سره قضاء سوي وي او که بې له عذره نه سي اداء کېدلای[1].

## د اختر لمانځه ته د ښځو تلل:

د اختر د لمانځه لپاره و عیدګاه ته د ښځو تلل مکروه دي که ئې په تللو کښې فتنه وه[2].

## د اختر لمونځ ژر کول او که په ځنډ سره؟

د لوی اختر لمونځ ژر کول مستحب دي تر څو اختری هم ژر وسي او د کوچني اختر لمونځ په ځنډ سره کول ښه دي تر څو سرسایه ادا سي[3]

---

(1) (ولو زالت الشمس یوم الفطر قبل ان یصلي صلوة العید سقطت صلوة العید ولایصلي من الغد الا اذا ترکوا بعذر فیصلي عن الغد قبل الزوال وان زالت الشمس من الغد سقطت صلوة العید سواء ترکوها بعذر او بغیر عذر، وفي عید الاضحی اذا لم یصل من الغد حتی زالت الشمس یصلي بعد الغد قبل الزوال فاذا زالت الشمس في آخر ایام النحر ولم یصل سقطت سواء کان بعذر او بغیر عذر غیر ان التاخیر اذا کان بعذر لا یلحقهم الاساءة وان کان بغیر عذر فقد اساؤا) [خلاصة الفتاوی: اول ټوک – ۲۱۴ مخ، کذا في الهندیة: اول ټوک ۱۵۱ مخ، کذا في الجوهرة النیرة: اول ټوک – ۱۱۳ مخ].

(2) (ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة ووعظ مطلقا ولو عجوزا لیلا علي المذهب المفتی به لفساد الزمان) [درمختار: اول ټوک – ۵۶۶ مخ].

(3) (ویندب تعجیل الاضحی لتعجیل الاضاحي وتاخیر الفطر لیؤدي الفطر کما في البحر) [ارد

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د اختر د لمانځه وروسته روغبړ كول:

د اختر تر لمانځه وروسته روغبړ ونه لازم بلل په شريعت كي كوم ثبوت نه لري(1).

## د اختر لمونځ د تېرېدلو وروسته په جماعت كول:

كه چيري د يوه نفر يا درو څلورو كسانو څخه د اختر لمونځ تېر سو نو هغوى دي يوازي په جماعت لمونځ نه كوي بلكي په خپل كور كي دي دوه يا څلور ركعته نفل وكړي(2).

## د اختر او جنازې لمونځ كه يو ځاى سي:

كه چيري د اختر د لمانځه وخت وو او جنازه هم وه نو اول دي د اختر لمونځ وسي بيا دي د جنازې لمونځ وسي بيا دي خطبه وويل سي(3).

## د اختر او لمر ترندي لمونځ كه يو ځاى سي:

كه چيري د اختر په ورځ د كسوف (لمرترندي) لمونځ يو ځاى

---

المحتار: دوهم ټوک – ۱۷۱ مخ].

(1) (نقل في تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعد اداء الصلاة بكل حال لان الصحابة ما صافحوا بعد اداء الصلاة ولانها من سنن الروافض الخ). [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۸۱ مخ].

(2) (وقال ابوحنيفة رحمه الله تعالي ان شاء صلي وان شاء لم يصل فان شاء صلى اربعا وان شاء ركعتين) [اعلاء السنن: اتم ټوک – ۱۴۸ مخ].

(3) (ويصلي المغرب ثم الجنازة ... و تقدم صلاة العيد ثم هي علي الخطبة) [درمنتقى في شرح الملتقى على هامش مجمع الانهر: اول ټوک – ۲۷۷ مخ]. (وتقدم صلاتها على صلاة الجنازة اذا اجتمعا لانه واجب عينا والجنازة كفاية وتقدم صلاة الجنازة على الخطبة : اي خطبةالعيد وذلک لفرضيتها وسنية الخطبة) [رد المحتار: دوهم ټوک – ۱٦٧ مخ، كذا في الهندية: اول ټوک – ۱۵۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي که د اختر د لمانځه د قضاء کېدو بېره نه وه نو کسوف لمونځ ترمخه کېږي(1).

**په هديره کي لمونځ کول:**

په هديره کي مطلقاً د لمانځه کولو څخه منع راغلې ده که د اختر لمونځ وي او که نور(2).

**د اختر په لمانځه کي د تکبير ويلو پر وخت لاسونه پورته کول:**

که يو څوک د اختر په لمانځه کي د تکبير ويلو په وخت کي لاسونه پورته نه کړي نو لمونځ ئې صحيح دئ خو لاس پورته کېدل سنت دي او د سنتو ثواب نه ورکول کېږي خو آئنده به داسي نه کوي(3).

**که څوک په عيدګاه کي لمونځ اداء نکړي نو:**

په عيدګاه کښي لمونځ سنت مؤکده متوارثه دئ نبي کريم ﷺ همېشه د اختر لمونځ په عيدګاه کي اداء کاوه صرف يو وار ئې د باران د وجهي په مسجد کي اداء کړی دئ او د اختر د لمانځه لپاره تلل سنت دي که څوک دغه سنت پرېږدي نو دغه سړی د عتاب

---

(1) (وتقدم صلوة الكسوف على صلوة العيد والمكتوبة ان امن الفوت) [فقه اسلامی: دوهم ټوک – ۱۴۳۷ مخ].

(2) (عن ابی سعيد الخدری رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الارض كلها مسجد الا المقبرة والحمام) [جامع الترمذي: اول ټوک – ۱۸۱ مخ].

(3) (عن بكربن سوادة ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه كان يرفع يديه مع كل تكبيرة فی الجنازة والعيدين) [السنن الكبرى للبيهقی: دريم ټوک – ۴۱۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحق دئ[1].

**که په هديره کي عليحده د لمانځه لپاره ځای جوړ سوی وي:**

که په هديره کي عليحده د اختر د لمانځه لپاره ځای جوړ سوی وي نو په هغه ځای کي بيا لمونځ کول پروا نه لري[2].

**د اختر په لمانځه کي کوم سورتونه ويل سنت دي؟**

د اختر په لمانځه کي مستحب دا دئ چي په اول رکعت کي سورة الاعلى ووايي او په دوهم رکعت کي سورة الغاشيه ووايي[3].

**ايا پر ښځو د اختر لمونځ واجب دی؟**

پر ښځو باندي د اختر لمونځ واجب نه دئ او که ئې هم وکړي نو لمونځ ئې نفل دئ[4].

**ښځي د اختر لمونځ په جماعت نسي کولای:**

يوازي ښځي د اختر لمونځ په جماعت سره نه سي ادا کولای[5].

---

(1) (کان ﷺ يصلي العيدين في المصلى الخ ولم يصل العيد بمسجده الا مرة واحدة اصابهم مطر فصلى بهم العيد في المسجد) [زاد المعاد: اول ټوک – 315 مخ د فتاوى رحيميه: ۵ – ٦ ټوکونه – ۱۸۵ مخ په حواله].

(2) (وکذا تکره في اماکن کفوق کعبة وفی طريق ومزبلة ومجزرة ومقبرة الخ ولاباس بالصلاة فيها اذا کان فيها موضع اعد للصلاة وليس فيه قبر ولانجاسة کما في الخانية)
[درمختار مع رد المحتار: اول ټوک – ۳۷۹ – ۳۸۰ مخونه].

(3) (وندب ان تکون سورة الاعلى تماما... وندب ان تکون سورة الغاشية) [فقه اسلامي: دوهم ټوک – ۱۳۹٦ مخ].

(4) (وشرائطها کشرائط الجمعة وجوبا واداء) [مجمع الانهر: اول ټوک – ۲۵۴ مخ]. (وشرط وجوبها ستة الاقامة بمصر والذکورة (ملتقى الابحر) فلاتجب على المراة) [مجمع الانهر: اول ټوک – ۲۵۰ مخ].

(5) (والسادس الجماعة واقلها ثلاثة رجال (قوله ثلاثة رجال) واحترز بالرجال عن النساء والصبيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خطبي احکام

## د خطبې اورېدل واجب دي:

د خطبې اورېدل واجب دي او که څوک ئې واجب نه بولي او ولاړېږي نو ښه کار نه دئ بلکي ګناهګار دئ[1].

## خطبې به په عربي ژبه وي:

د اختر خطبې به خامخا په عربي ژبه وي د خطبې وروسته به نه احکام بیانوي او نه به د خطبې ترجمه کوي بلکي ضروري مسائل او احکام به د خطبې ترمخه بیانوي[2].

## د خطبې تر مخه اذان نسته:

په اختر کي د خطبې تر مخه اذان نسته[3].

## د خطبې په دوران کي باید هیڅ ونسي:

د اختر د خطبې په دوران کي خلګ باید چپه خوله وي، په ډېر

---

فان الجمعة لاتصح بهن وحدهن لعدم صلاحيتهن للامامة فيها بحال بحر عن المحيط) [درمختار مع ردالمحتار: اول ټوک – ١٥١ مخ]. (تجب صلاتهما في الاصح على من تجب عليه الجمعة بشرائطها المتقدمة سوى الخطبة فانها سنة بعدها) [درمختار: اول ټوک – ١٦٦ مخ].

(1) (وكل ماحرم في الصلوة حرم فيها اي فى الخطبة فيحرم اكل وشرب وكلام ... بل يجب عليه ان يستمع ويسكت ... وكذا يجب الاستماع لسائر الخطب كخطبة نكاح وخطبة عيد وختم علي المعتمد) [درمختار: دوهم ټوک – ١٥٩ مخ].

(2) (لان النبي ﷺ واصحابه قد خطبوا دائما بالعربية ولم ينقل عن احد منهم انهم خطبوا خطبة ولو خطبة غير الجمعة بغير العربية) [مجموعه رسائل اللكنوي: څلرم ټوک – ٤٣ مخ، رساله آكام النفائس].

(3) (عن جابر رضي الله عنه قال : صلى بنا رسول الله ﷺ في عيد قبل الخطبة بغير اذان ولااقامة ) [سنن النسائي: اول ټوک ٢٣٢ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب سره خطبه واوري په دې وخت کې د هر ډول کار کولو څخه منع راغلې ده[1].

**خطبه په ولاړه ويل سنت ده:**

د اختر په لمانځه کې خطبه په ولاړه ويل سنت دي شرط نه دئ نو که چا په ناستې وويل هم روا ده[2].

**مستحب دا دی چې لمونځ او خطبه يو امام ووايي:**

مستحب کار دا دئ چې کوم امام لمونځ ورکړي هغه دي خطبه هم ووايي او که يو چا لمونځ ورکړی او بل چا خطبه ووېل هم روا دی[3].

**د خطبو په منځ کې ناسته پرېښودل مکروه ده:**

د اختر د دوو خطبو په مابين کې ناسته پرېښول مکروه او بد کار دئ[4].

---

(1) (اذا خرج الامام فلا صلوة ولاكلام ... والصواب انه يصلي على النبي ﷺ عند سماع اسمه في نفسه ولايجب تشميت ولارد سلام به يفتي وكذا يجب الاستماع لسائر الخطب كخطبة نكاح وخطبة عيد وختم على المعتمد) [درمختار: دوهم ټوک – ۱۵۹ مخ، كذا فى مجموعة رسائل اللكنوى: ثلرم ټوک – ۱۴۲ مخ].

(2) (ومنها ان يخطب قائماً هو سنة فليس بشرط حتى لوخطب قاعدا يجوز عندنا) [بدائع الصنائع: اول ټوک – ۵۹۲ مخ].

(3) (لاينبغي ان يصلي غير الخطيب لانهما كشئ واحد فان فعل بان خطب صبي باذن السلطان وصلى بالغ جاز هو المختار) [درمختار: دوهم ټوک – ۱۴۷ مخ].

(4) (والاصح انه يكون مسيئا بترک الجلسة بين الخطبتين كذا في القنية) [هنديه: اول ټوک – ۱۴۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د خطبو په دوران کي لکړه یا توره په لاس کي نیول:**

د خطبو په دوران کي امام که لکړه وي او که توره هم په راسته لاس کي نیولای سي او هم په چپه لاس کي، او که ئې خطبه په لاس کي وه نو بیا دي لکړه یا توره په چپه لاس کي ونیسي(1).

**مقتدیان به د خطبې په دوران کي تکبیرونه په زړه کي وایي:**

امام چي د خطبې په دوران کي تکبیرونه وایي نو مقتدیان به هم هغه تکبیرونه وایي خو په زړه کي به ئې وایي نه په زوره آواز سره(2).

**که امام خطبې پرېږدي:**

که یو امام اصلاً خطبې پرېښولي لمونځ ئې صحیح دی مګر د خطبې په پرېښولو سره ګناه ګار دئ(3).

**د خطبې په آخر کي د دعاء د ویلو پر وخت باید لاسونه پورته نسي:**

د اختر په خطبو کي ځیني خلګ او ګاهي وخت ټول خلګ د دوهمي خطبې په پای کي (چه خطبه لا ختمه سوې نه وي) امام دعاء کوي نو مقتدیان لاسونه پورته کړي او آمین وایي دا صحیح کار نه دئ او ممنوع دئ(4).

---

(1) (وفي الحاوي القدسي اذا فرغ المؤذن قام الامام والسيف في يساره وهو متكئ عليه) [البحرالرائق: دوهم ټوک – ۱۴۸مخ، کذا في مراقي الفلاح: دوهم ټوک – ۱۲۹مخ].

(2) (واذا كبر الامام بالخطبة يكبر القوم معه واذا صلى علي النبي ﷺ يصلي الناس في انفسهم امتثالا للامر وسنة الانصات كذا في التتارخانية) [هنديه: اول ټوک – ۱۵۱مخ].

(3) (ولوترک الخطبة في صلاة العيد تجوز صلاة العيد وفي الولوالجية لكن يكره تركها وفي المختار اساء) [تاتاخارنية: دوهم ټوک – ٦٩ مخ].

(4) (ومايفعله المؤذنون حال الخطبة من الصلوة علي النبي ﷺ والترضي من الصحابة والد عاء

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د خطبو په دوران کي چنده کول:

د اختر د خطبو په دوران کي چنده کول جائز نه دي تر خطبې وروسته ئې کولای سي او که د يو چا سفارش امام کوي نو دا کار هم تر خطبې وروسته کېدلای سي نه د خطبې په دوران کي(1).

## په لمانځه کي اوږدوالی او په خطبه کي لنډوالی ښه دی:

په لمانځه کښي طوالت (اوږدوالی) ښه دئ او په خطبه کي قصر (لنډوالی) ښه دئ(2).

## د خطبې د شروع تر مخه تکبيرونه ويل:

په دواړو اخترونو کي به امام پر منبر باندي د خطبې تر مخه مسلسل نهه واره تکبير تشريق وايي او د دې په مابين کي به هيڅ نه وايي بې له تکبير تشريق بيا به خطبه وايي او په دوهمه خطبه کي به اول اووه واره تکبير تشريق مسلسل وايي(3).

## خطبې بېله تکبيرونو ويل:

که يو امام خطبې بې له تکبيراتو وويلې نو صحيح دي ځکه

---

للسلطان بالنصر ينبغي ان يكون مكروها اتفاقا) [حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح: دوهم ټوک – ١٢٩ مخ].

(1) (وكل ما حرم في الصلاة حرم فيها اي في الخطبة) [درمختار: دوهم ټوک – ١٥٩ مخ].

(2) (فقال انی سمعت رسول الله ﷺ يقول ان طول صلوة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه فاطيلوا الصلوة واقصروا الخطبة وان من البيان سحراً) [مسلم: اول ټوک – ٢٨٦ مخ].

(3) (٦٢١٨): عن عبيد الله بن عبد الله بن عتبة قال: السنة في تكبير يوم الاضحى والفطر على المنبر قبل الخطبة ان يبتدي الامام قبل الخطبة وهو قائم علي المنبر بتسع تكبيرات تترى لايفصل بينها بكلام ثم يخطب ثم يجلس جلسة ثم يقوم في الخطبة الثانية فيفتتحها بسبع تكبيرات تترى لايفصل بينها بكلام ثم يخطب) [السنن الكبرى للبيهقى: دريم ټوک – ٤٢١ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیرونه ویل د خطبې په دوران کي مستحب دي[1].

**ایا د اختر د لمانځه د مخه خطبه ویل د لمانځه وروسته راګرځول غواړي؟**

که یو امام د اختر تر لمانځه د مخه خطبه ووایي نو غلط کار دئ او تر لمانځه وروسته بیا د خطبې اعاده (راګرځول) نسته[2].

**خطبې دوې دي:**

د کوچني اختر او لوی اختر دوې خطبې دي، دواړي سنت دي او تر لمانځه وروسته دي او امام به د دواړو خطبو په مابین کي ناسته کوي[3].

**د خطبې وروسته دعاء کول:**

د اختر په لمانځه کي تر خطبې وروسته دعا کول ښه دي[4].

---

(1) (ویستحب ان یستفتح الاولی بتسع تکبیرات تترى والثانیة بسبع) [البحر الرائق: دوهم ټوک – ۲۸۳ مخ].

(2) (وان خطب قبل الصلوة اجزأ مع الاساءة ولاتعاد بعد الصلوة) [الجوهرة النیرة: اول ټوک – ۱۱۳ مخ].

(3) (ویخطب بعد الصلوة خطبتین.... والخطبة لیست بواجبة لان الصلوة تتقدم علیها وهي سنة فان ترکها کان مسیئا الخ) [الجوهرة النیرة: اول ټوک – ۱۱۳ مخ].

(4) کفایت المفتي: ۳ – ۴ ټوکونه – ۳۳ مخ، کذا فی خیر الفتاوی: دریم ټوک – ۱۲۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم فصل

## د اختري فضائل او احکام

### په آیتونو سره د اختري اثبات:

اختری په اسلام کي یو عظیم عبادت دئ د هغه اندازه د دې څخه کېدلای سي چي الله تعالی اختری او د هغه متعلقات، اهمیت، حکمت او فلسفه په مختلفو امتونو کي پر جلا جلا صورتو او شکلو باندي بیان کړې ده او د ابراهیمي ملت لپاره ئې دغه اختری دیني شعار ګرځولی دئ. الله تعالی فرمائي:

**اول آیت:** وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ [الحج: ۳۴]

**ترجمه:** او موږ د هر امت لپاره اختری مقرر کړی دئ تر څو یاد کړي د الله جل جلاله نوم پر ذبح باندي دالله له طرفه پر ورکړل سوو حیواناتو.

او دلته د منسکا څخه مقصد ذبح کول یعني اختری کول دي او د اختري د فایدو په باره کي الله تعالی فرمائي:

**دوهم آیت:** لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ [الحج: ۳۷]

**ترجمه:** الله تعالی ته د اختري غوښي او د اختري ویني نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيږي مګر و هغه ته ستا سي تقوی رسيږي.

او بل ځای الله تعالی فرمائي:

**دريم آيت:** فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ۝٢ [الکوثر: ۲]

**ترجمه:** نو ته د خپل رب لپاره لمونځ وکړه او اختری وکړه.

## په احاديثو سره د اختري اثبات:

**اول حديث:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم لس کاله په مدينه منوره کي واوسېدی او اختری ئې کوی[1].

**دوهم حديث:** حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چي: يو وار نبي کريم صلی الله علیه وسلم په مدينه منوره کي غنم رنګه دوه مږ پسونه اختريان کړل[2].

**دريم حديث:** نبي کريم صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهرات له طرفه د غوايي اختری وکړی[3].

**څلورم حديث:** نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل چي کوم څوک د استطاعت باوجود اختری ونه کړی هغه دي زموږ وعيدګاه ته نږدې نه راځي[4].

---

(1) (عن ابن عمر رضي الله عنه قال اقام رسول الله صلی الله علیه وسلم بالمدينة عشر سنين يضحي) [الترمذي: اول ټوک – ۴۰۹ مخ].

(2) عن انس رضي الله عنه قال ضحی النبي صلی الله علیه وسلم بکبشين املحين الخ) [بخاري شريف: دوهم ټوک – ۸۳۴ مخ].

(3) (قالوا ضحی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن ازواجه بالبقر) [بخاري شريف: دوهم ټوک – ۸۳۲ مخ].

(4) (عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من کان له سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا) [ابن ماجه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم حدیث:** د نبي کریم ﷺ څخه صحابهٔ کرامو وپوښتل چي دغه اختریان څه شي دي؟ ده مبارک وفرمایل چي ستاسي د پلار ابراهیم علیه السلام سنت دئ او د اختري د هر وریښته په بدله کي ستاسي لپاره نیکي ده(1).

**شپږم حدیث:** ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي: د لوی اختر په ورځ و الله تعالی ته د ابن آدم یو عمل لا تر اختري محبوب نه دئ د قیامت په ورځ هغه نفر د اختري ښکرونه، نوکان او وریښتان راوړي (یعني د هغه اعمال حسنه زیاتیږي) د هغه دویني څاڅکی پر مځکه باندي د لوېدلو تر مخه والله تعالی ته قبلیږي نو په طیب نفس (د زړه په خوشحالي) اختری کوئ(2).

## د ابراهیم علیه السلام په قصه سره د اختري اثبات:

د اختري ابتداء: حضرت ابراهیم علیه السلام په خوب کي لیدلي وه چي زه خپل زوی حلالوم، د نبیانو خوب ربښتیا وي او د الله له طرفه څخه

---

۲۲۶ مخ].

(1) (عن زید بن ارقم رضي الله عنه قال قال اصحاب رسول الله ﷺ یارسول الله! ماهذه الاضاحي؟ قال سنة ابیکم ابراهیم صلوات الله علیه السلام قالوا فما لنا فیها یارسول الله! قال بکل شعرة من الصوف حسنة قالوا فالصوف یارسول الله ! قال بکل شعرة من الصوف حسنة) [الترغیب والترهیب: دوهم ټوک – ۱۵۴ مخ].

(2) (عن عائشة رضي الله عنها ان النبي ﷺ قال ما عمل ابن آدم یوم النحر عملا احب الی الله عزوجل من هراقة دم وانه لیاتي یوم القیمة بقرونها واظلافها واشعارها وان الدم لیقع عن الله عزوجل بمکان قبل ان یقع الارض فطیبوا بها نفسا ) [ابن ماجه: ۲۲۶ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي او داسي خبره د الله تعالي له طرفه څخه د حکم کولو سره برابره منل کېږي ځکه نو هغه و خپل زوی ته وویل چي ما دا ډول خوب لیدلی دئ ستا څه رایه ده؟ زوی جواب ورکوي: ... يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾ [صافات: ۱۰۲].

**ترجمه**: اې پلاره! تا ته چه کوم حکم سوی دئ په هغه عمل وکړه ته به انشاء الله ما د صبر کوونکو څخه پیدا کړې.

نو حضرت ابراهیم ﷺ خپل زوی اسمعیل ﷺ د مکې مکرمې څخه بوتلی او منی ته ولاړی د حلالیدلو لپاره ئې یوه چاړه هم ورسره واخیسته (منی د مکې معظمې څخه درې میله لیري ده د دوو غرو په مابین کي یو اوږد میدان دئ) چي کله منی ته داخلېدی نو شیطان د هغه د زوی د خطا ایستلو کوښښ وکړ، حضرت ابراهیم ﷺ ته چي کله معلومه سوه نو الله اکبر ئې ووایه شیطان ئې په اوو ډبرو وویشتی چي د دې وجهي څخه په مځکه ننوتی، پلار او زوی چي دواړه مخ ته روان سوه نو مځکي شیطان ایله کړی یو څه لیري ولاړی بیا شیطان د هغه د زوی اسماعیل ﷺ د خطا ایستلو کوښښ وکړ، بیا حضرت ابراهیم ﷺ الله اکبر ووایه او په اوو ډبرو ئې وویشتی هغه بیا په مځکه ننوتی دوی دواړه بیا مخ ته روان سول مځکي بیا هغه پرېښودی او د خطا ایستلو کوښښ ئې شروع کړ، حضرت ابراهیم ﷺ بیا الله اکبر ووایه په اوو ډبرو ئې وویشتی هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library


مځکه ننوتی او تر دې وروسته مخ ته ولاړل، حضرت ابراهیم عليه السلام خپل زوی پړمخي پر مځکه پرې ایستی حلال کړی ئې لا نه وو چه د الله تعالی له طرفه اواز راغلی وَنَـٰدَيْنَـٰهُ أَن يَـٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ [صافات: ١٠٥-١٠٤].

**ترجمه:** او موږ هغه ته اواز وکړ داسي چه اې ابراهیمه! تا خپل خوب رښتیا کړی بیا الله تعالی یو پسه راولېږی چه ابراهیم عليه السلام د خپل زوی له طرفه حلال کړی لکه څنګه چه الله تعالی فرمایي: وَفَدَيْنَـٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ [صافات: ١٠٧].

د تفصیل لپاره وګورئ د تفسیر کتابونه روح المعاني او نور... حلال خو ئې پسه کړ، مګر ثواب د زوی د حلالیدو ورکول سو، ځکه چي پلار او زوی دواړه د دغه کار و کولو ته دزړه له کومي تیار سوي وه د کوم کار چه د الله تعالی له طرفه حکم سوی وو، پلار زوی پړمخي پرې ایستی او زوی د حلالیدلو لپاره په خوشحالۍ پرېوتی، دواړو هیڅ کمي نه راوستله الله تعالی ته نیت معتبر دئ دواړه په خپل نیت کي رښتیا ګویه وه، لکه الله تعالی چي فرمایي: فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ [صافات: ١٠٣]

دا واقعه د اختري ابتداء وه او د حج په وخت کي چه کمي ډبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځول کېږي د هغو ابتداء هم د دغي واقعې څخه وسوه په هغو درو ځايو کي ډبري غورځوي چيري چه شيطان ننوتلی وو اوس د دغه ځای د نښاني کېدلو لپاره د ډبرو ميناورونه جوړ سويدي تر دې وروسته د الله تعالی د رضا لپاره د حيواناتو قربانول په عبادت کي شمار سوه او د نبي کريم ﷺ د امت لپاره هم اختری روا سو، پر هر قدرتمند سړي اختری واجب دئ او که د چا دومره طاقت او وس نه وي او بيا هم اختری وکړي نو هغه هم د ډېر غټ ثواب حقدار دئ(1).

## د اختري کولو فضيلت:

**اول حديث: [عن عائشة رضي الله عنها ان رسول الله ﷺ قال ما عمل آدمي من عمل يوم النحر احب الي الله من اهراق الدم انه لياتي يوم القيامة بقرونها واشعارها واظلافها وان الدم ليقع من الله بمكان قبل ان يقع بالارض فطيبوا بها نفسا(2)].**

**ترجمه:** د حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دئ چه رسول الله ﷺ وفرمايل: د لوی اختر (پر لسم تاريخ) بنه کار و خدای تعالی ته د اختري تر وينو تويولو څخه زيات بل خوښ او محبوب کار نسته او د قيامت په ورځ اختری کوونکی خپل د حيوان وريښتان، ښکرونه او نوکان راوړي (دا شيان د ډېر غټ ثواب ذريعه جوړيږي) او وئې فرمايل چي د اختري وينه پر مځکه د توئېدلو څخه تر مخه و الله تعالی ته مقبوله ګرځي ځکه نو تاسي په خوشحالۍ

(1) معارف القرآن: اووم ټوک – ۴۶۰ مخ.
(2) الترمذي: اول ټوک – ۴۰۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اختری وکړئ.

**دوهم حديث:** **[عن ابن عباس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ في يوم اضحي ما عمل ادمي في هذا اليوم افضل من دم يهراق الا ان يکون رحما توصل]**(1).

**ترجمه:** حضرت ابن عباس ﷺ وفرمایل چي: رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ وفرمایل چي نن ورځ يو سړي تر اختري کولو بل ښه کار نه دئ کړی مګر چه صله رحمي وکړي (دا خبره دي د ياد وړ وي چي صله رحمي د نفلي اختري پر ځای خو دربدلای سي مګر د واجب اختري پر ځای نه سي دربدلای).

**د اختري د اول څاڅکي د توئېدلو سره سم د ټولو کوچني ګناهو نو معافي:**

**اول حديث:** **[وعن علي ﷺ ان رسول الله ﷺ قال يا فاطمة قومي فاشهدي اضحيتک فان لک باول قطرة تقطر من دمها مغفرة لکل ذنب اما انه يجاء بلحمها ودمها توضع في ميزانک سبعين ضعفا قال ابوسعيد يارسول الله هذا لال محمد خاصة فانهم اهل لما خصوا به من الخير وللمسلمين عامة؟ قال لال محمد خاصة وللمسلمين عامة]**(2).

**ترجمه:** د حضرت علی ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ارشاد وفرمايه! اې فاطمې ولاړه سه او پر خپل اختري حاضره سه ځکه د هغه د ويني څخه چه څنګه اول څاڅکی توی سي ستا ټول ګناهونه معافېږي او هغه حيوان به (د قيامت په ورځ) د خپلي ويني

---

(1) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۱۵۴ مخ.

(2) الترغيب والترهيب: دوهم ټوک – ۱۵۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او غوښي سره راوړل سي او بیا به هغه اویا (۷۰) چنده دروند کړل سي ستا په ترازو کي ایښودل کېږي، حضرت ابو سعید رضي الله عنه (چه کله دغه غټ فضیلت واورېدی) سوال ئې وکړ، چي یا رسول الله! دغه (غټ فضیلت یوازي) د آل محمد صلی الله علیه وسلم سره خاص دئ ځکه چه رښتیا هم هغوی د دغه ښه کار ډېر حقدار دی یا د ټولو مسلمانانو لپاره عام دئ؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (دغه غټ فضیلت) د آل محمد لپاره خاص دئ او د ټولو مسلمانانو لپاره عام دئ (یعني تر اختري وروسته هر مسلمان د دغه فضیلت وړ دئ).

**لاندي ضروري فضیلتونه معلوم سوه:**

- د اختري د حیوان د اول څاڅکي د توئېدلو سره سم دستي د اختري کوونکي بخشش کېږي.
- د قیامت په ورځ د اختري حیوان د ویني او غوښي سره به راوړل سي او بیا به اویا چنده دروند کړه سي په ترازو کي ایښودل کېږي. ځکه نو په ډېره خوشحالي او پراخ زړه اختری کول په کار دي که واجب نه وي بیا هم د دغو فضیلتونو د حاصلولو لپاره اختری کول په کار دئ.

**د لوی اختر په ورځ پر اختري باندي پیسې خرڅول ښه کار دئ:**

**اول حدیث: [عن ابن عباس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما انفقت الورق في شئ احب الي الله من نحر ينحر في يوم عيد]**[1].

(1) الترغیب والترهیب: دوهم ټوک – ۱۵۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ترجمه:** د حضرت ابن عباس ﵁ څخه روایت دئ چه نبي کریم ﷺ وفرمایل: د اختر په ورځ د اختري (د رانیولو) لپاره پیسې خرڅول و خدای پاک ته پر نورو شیانو تر خرڅولو افضل او ښه دئ.

## د اختري د هر ورېښته په بدله کي یوه نېکي:

**اول حدیث:** **[عن زید بن ارقم ﵁ قال قال اصحاب رسول الله ﷺ یارسول الله ماهذه الاضاحي؟ قال سنة ابیکم ابراهیم صلوات الله علیه وسلم قالوا فما لنا فیها یارسول الله؟ قال بکل شعرة من الصوف حسنة قالوا فالصوف؟ قال بکل شعرة من الصوف حسنة]**(1).

**ترجمه:** حضرت زید بن ارقم ﵁ فرمائي چي اصحابو عرض وکړ: یا رسول الله؟ دغه اختری څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا ستاسي د پلار ابراهیم ﵇ سنت دئ. دوی عرض وکړ: یا رسول الله! په دې کي زموږ کومه فایده ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل ستاسي فایده دا ده چي ستاسي د اختري د حیوان د هر ورېښته په بدله کي یوه نېکي ده. هغوی بیا عرض وکړ: یا رسول الله! د کومو حیواناتو پر بدن چي وړی وي د هغه وړیو څه حکم دئ؟ (ایا پر هغه یو څه ورکول کېږي) رسول الله ﷺ وویل د وړیو د هر ورېښته په بدله کي هم یوه نېکي ورکول کېږي.

**تشریح:** فکر وکړئ چه د دې څخه زیات بل کوم ثواب دئ چي په اختري کولو سره په زرونو او لکونو نېکیاني پیدا سي د پسه او

---

(1) الترغیب والترهیب: دوهم ټوک – ۱۵۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوزګړي پر بدن څونده بې حسابه وریښتان وي که څوک ئې د سهار څخه تر ماښامه حساب کړي نه سي ئې حسابولای نو فکر وکړئ زموږ د دوو زرو په مقابله کي څومره بې شماره نېکۍ سوې دغسي ثواب ته چه وکتل سي نو ښه اختری کول پکار دي، واجب خو دئ که طاقت وي نو نفلي ا ختری هم په کار دئ د دغو مبارکو ورځو تر تېرېدلو وروسته بیا دا ثواب چیري دئ او په داسي اساني سره بیا دا بې شماره نېکیاني چیري پیدا کېږي. که الله تعالی بیا ډېر مال چا ته ورکړی وي نو که ئې د ځان لپاره اختری کوي د نورو مړه سوو قریبانو له طرفه دي ئې هم وکړي، مثلاً مور، پلار، ورور او نور... د دوی له طرفه په اختري کولو سره د دوی و روح ته څومره غټ ثواب ور رسېږي او څونده ښه کار به وي چي د محسن اعظم نبي کریم ﷺ او د هغه د اهل بیت له طرفه هم اختری وسي که نه نو خپل واجب اختری باید خامخا وسي که یو چا د اختري د واجب کېدو باوجود اختری ونه کړ، نو تر دې به بل بدنصیبه او محروم څوک وي او په حدیث کي دغسي سړی و عیدګاه ته دحا ضرېدلو څخه منع سوی دئ، چه څوک واجب اختری ونه کړي هغه دي عیدګاه ته نه راځي.

**دوهم حدیث: [عن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من وجد سعة لان یضحي فلم یضح فلایحضر مصلانا ][1].**

---

(1) الترغیب والترهیب: دوهم ټوک – ۱۵۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ترجمه:** د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ هغه فرمایي چي: محسن اعظم نبي کریم ﷺ وفرمایل چي کوم سړی د اختري کولو طاقت لري او بیا هم اختری ونه کړي (نو داسي سړی دي) زمونږ و عیدګاه ته نه حاضرېږي.

**تشریح:** کوم خلګ چه مالي وسعت او د اختري کولو د طاقت باوجود خپل واجب اختری نه اداکوي هغه دي سترګي خلاصي کړي او خپل د ایمان خبر دي واخلي اول خو دا تاوان کم دئ چي د اختري د نه کولو د دومره غټ ثواب څخه محروم سي او بیا پر دې نبي کریم ﷺ ناراضه سي او د عیدګاه څخه ئې منع کړي نو د داسي سړي ځای به چیري وي؟ عیدګاه او مسجدونه د الله تعالی خوښ ځایونه دي په دغه ځای کي چه کوم خلګ جمع کېږي پر هغوی د عفو او کرم باران اوري د دغه ځای د حاضرۍ څخه بد نصیبه منع کېدلای سي ځکه نو د بخل څخه کار مه اخلئ چا چه دغه مال درکړی دئ دا حکم هم د هغه دئ دا حکم پر ځای کړئ په دې کي سلامتي ده.

## اختري ته ولي د ابراهیم ﷺ سنت ویل سویدي؟

نبي کریم ﷺ و اختري ته د ابراهیم ﷺ سنت ویلي دي حال دا چه کوم عمل چي ابراهیم ﷺ کړی وو هغه بل وو او د حیوان اختری کول بل عمل دئ د ابراهیم ﷺ عمل خو د هلک د حلالولو وو او په اختري کي خو حیوان حلالېدل وي او اختري کول د ابراهیم ﷺ سنت څنګه سو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه هغه وخت کېدلای سي چي موږ ته په اختري کولو کي دومره ثواب راکول سي څونه چي ابراهیم ﷤ ته د هلک په حلالېدلو کي ورکول سوی وو، د دواړو کارو آخري نتیجه یوه وه نو ځکه دواړو عملونو ته یو عمل وویل سو که څه هم عمل جلا جلا وو ګواکي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي اې محمدي امته! تاسي ته د حیوان په حلالېدلو کي هغه ثواب درکول کېږي کوم چي ابراهیم ﷤ ته د هلک په حلالېدلو کي ورکول سوی وو نو ګورئ چي د دغه حدیث څخه د اختري څومره فضیلت معلوم سو.

**د اختري فضیلت څو داسي دئ که واجب نه وي بیا هم کول پکار دي:**

د اختري فضیلت او د هغه ثواب څو دومره دئ که پر چا واجب نه وي نو د ثواب د حاصلولو په خاطر هم باید وسي د دنیا ډېر کارونه محض د تفریح لپاره بې له ضرورته کوي نو که د الله ﷻ د رضا لپاره یو څه خرچه وکړی نو کوم مشکل دئ او که مو مقصد ضرورت وي او دا وایاست چي موږ څو یوازي فرائض او واجبات ادا کوو نو د دنیا په کارو کي ولي په هغه عمل نه کوئ په دنیا کي بس دومره ضرورت دئ چي د ځان د ساتلو لپاره د اوربښو ډوډۍ کافي ده او د ګرمي او د یخ د هلاکت څخه د ساتلو لپاره که پنډ ټوکر پیدا سي کافي دئ بیا نو ولي تاسي رکم رکم ښه خوراکونه، پنډي او نازکي ښه جامې اغوندی؟ د نفس دخوشحاله کولو لپاره څو غیر ضروري کارونه کوی څو د دین په کار کي دا پوښتنه کوی چي آیا دغه اختری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ضروري دئ، د دې خو مطلب دا دئ چې که د اختري په نه کولو کي ډېر تکليف نه وي نو اهتمام کول په کار دي که نه نو پرې ايږدئ لهذا د الله ﷻ د خوشحاله کولو لپاره بې له تامل او فکر په شوق سره مصرفول ښه دي او پر هغه باندي ثواب هم دئ.

## د محبت او ميني درواغجنه دعوه:

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي دي چي يو صحرايي سړی ډېر حيران او پريشان وو حواسو ئې کار نه کاوه او ژړل ئې او د ډوډي ډکه کڅوړه ئې نږدې پرته وه يو چا ورته وويل چي ولي ژاړې؟ صحرايي وويل چي زما سپی مړ کېږي، هغه سړي ورته وويل چي په کڅوړه کي څه شي دي؟ صحرايي وويل چي ډوډي ده، هغه سړي ورته ويل چي ولي ئې نه ورکوې؟ صحرايي وويل دومره محبت نه دئ چي ډوډي ورکړم په ډوډۍ پيسې خرڅي سويدي صرف د اوښکو بهېدلو محبت دئ چي دا مفت دئ. د ځينو خلګو د محبت دعوی په اختري کولو کي هم داغسي وي کوم ځای چي د خرڅ کولو وي هلته صفر وي او حال دا چي د اختري کولو خرچه کول خو ييخي صفر نه دئ بلکي ثوابونه ئې بېخي ډېر دي[1].

---

(1) قرباني کے فضائل و مسائل: ۳۱–۳۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځم فصل
# د اختري كولو ورځي، وخت او قضاء

## د اختري كولو وخت:

د لوی اختر د لسم تاريخ د سهار څخه بيا د دوولسم تاريخ تر ماښام (لمر لوېدو) پوري د اختري كولو وخت دئ او هره ورځ چي وغواړي اختری كولای سي مګر د اختري تر ټولو ښه ورځ د لوی اختر ورځ (ذي الحجې لسم تاريخ) ده، بيا دوهمه ورځ (يوولسم تاريخ) بيا دريمه ورځ (دوولسم تاريخ)[1].

## په صحراء كي د سپېدو تر راختلو وروسته اختری كول:

په كوم ځای كي چي د اختر لمونځ نه كېږي يعني صحراء وي هلته د سپېدو تر راختلو وروسته اختری كول صحيح دي[2].

## په ښار كي د اختر د لمانځه تر مخه اختری كول صحيح ندي:

په ښار يعني په هغه ځای كي چي د اختر لمونځ كېږي هلته كه چا د اختر د لمانځه ترمخه اختری وكړ، صحيح نه دی او پر ده باندي تر

---

(1) (وقت الاضحية ثلاثة ايام العاشر والحادي عشر والثاني عشر اولها افضلها واخرها ادونها) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۵ مخ]. (فجر يوم النحر الي آخر ايامه وهي ثلاثة افضلها اولها ثم ا لثاني ثم الثالث) [درمختار مع ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱٦ مخ].

(2) (وذبح غيره اي غيراهل المصريجوزلهم ذبحها بعد طلوع الفجر قبل ان يصلي الامام صلوة العيد) [تبيين الحقائق: شپږم ټوک – ۴۷۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه وروسته بل اختری واجب دئ[1].

**که صحرايي خپل اختری و ښار ته راولېږي نو....:**

که يو صحرايي خپل اختری و ښار ته راولېږي نو د اختر تر لمانځه مخکي اختری کول نه صحيح کېږي که څه هم دی په صحراء کي وي او که ښار والا سړی خپل اختری و صحراء ته ولېږي نو هلته تر صبح صادق وروسته اختری کول صحيح دي[2].

**که د اختر لمونځ ونسي نو د زوال تر مخه اختری کول څنګه دی؟**

که د ذو الحجې په لسم تاريخ يعني د لوی اختر په ورځ په يو وجه د اختر لمونځ نه وسو نو په دغه ورځ د زوال ترمخه اختری کول صحيح نه دئ بلکي تر زوال وروسته اختری کول صحيح دئ ځکه چي د لمانځه وخت تر زوال پوري دئ[3].

---

(1) (غير ان للجواز في حق اهل المصر شرطا زائدا وهو ان يكون بعد صلوة العيد لايجوز تقديمها عليه عندنا... والصحيح قولنا لما روينا عن رسول الله ﷺ انه قال من ذبح قبل الصلوة فليعد اضحيته...) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۲۱۱ مخ].

(2) (فلوكانت في السواد والمضحي في المصر جازت قبل الصلوة وفي العكس لم تجز) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۸ مخ]. (والمعتبر في ذلک مکان الاضحية حتی لو كانت في السواد والمضحي في المصر يجوز كما انشق الفجر وفي العكس لايجوز الا بعد الصلوة) [البحر الرائق: اتم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(3) (ولو لم يصل الامام العيد في اليوم الاول اخروا التضحية الى الزوال ثم ذبحوا ولاتجز ئهم التضحية مالم يصل الامام العيد في اليوم الاول الابعد الزوال فحينئذ يجوز لخروج وقتها) [تبيين الحقائق: شپږم ټوک – ۴۷۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**که په ښار کي يو ځای لمونځ وسي نو اختری وروسته دستي صحيح دی:**

که په يو ښار کي څو ځايه د اختر لمونځ کېږي نو انتظار تر هغو نه غواړي چي ټوله لمنځونه وسي بيا اختری وسي بلکي که يو ځای لمونځ وسي نو اختری کېدلای سي(1)

**که امام بې اودسه لمونځ ور کړی وو او خلکو اختريان کړي وه نو...:**

که يو امام د اختر د لمانځه امامت ورکړي او خلګو تر لمانځه وروسته دستي اختريان وکړه او بيا معلومه سوه چي امام بې اودسه وو نو د لمانځه راګرځول ضروري دي او اختريان صحيح سوه(2).

**اختری تر څو ورځو پوري کېدلای سي؟**

د لسم تاريخ څخه تر دوولسم تاريخ پوري چي کله مو خوښه وي اختری کولای سئ که ورځ وي او که شپه خو په شپه کي اختری کول مکروه تنزيهي دي ځکه چي کېدلای سي د اختري د حيوان يو رګ پرې نه سي او اختری هم صحيح نه سي او که چيري روڼا زياته وي لکه په ښارونو کي چي برق سته نو بيا په شپه کي اختری کول صحيح دئ(3).

---

(1) (ولو ضحي بعد ما صلي اهل المسجد ولم يصل اهل الجبانة اجزاه استحسانا لانها صلاة معتبرة حتى لو اكتفوا بها اجزاتهم) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۸ مخ].

(2) (تبين ان الامام صلي بغير طهارة تعاد الصلوة دون الاضحية) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۱۹ مخ].

(3) (والمستحب ذبحها بالنهار دون الليل لانه امكن لاستيفاء المعروف كذا في الجوهرة النيرة) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۶ مخ]. (وكره تنزيها الذبح ليلا لاحتمال الغلط) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۰ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم فصل

## اختري پر چا واجب دئ او پر چا واجب نه دئ؟

### د سپينو زرو نصاب معتبر دی:

مخکي تر دي چي و مسائلو ته راسو اول به دا خبره واضحه کړو چي ايا په اوسنيو حالاتو او شرايطو کي د سرو زرو نصاب معتبرېدلای سي او که د سپينو زرو نصاب پر خپل حال پاته او معتبر دئ؟

د دغه سوال په جواب کي بايد ووايو چي کله موږ خپل تحقيق مکمل کړ نو و دې نتيجې ته ورسېدو چي په اوسنيو حالاتو او شرايطو کي بيا هم د سپينو زرو نصاب اعتبار لري او د دغي مسئلې د نور تائيد لپاره مو د خپلو محترمو اساتذهٔ کرامو څخه مسئله طلب کړه لکه دارالافتاء دارالعلوم کراچي، دارالافتاء جامعة العلوم الاسلاميه علامه بنوري ټاون کراچي، دارالافتاء جامعه فاروقيه کراچي.

نو هغوی ټولو داسي جوابونه راواستول چي د سپينو زرو نصاب داسي منصوصي دئ چي هيڅ څوک ئې بدلولای نه سي لهذا د هري دارالافتاء د جواب يوه کاپي ستاسي په خدمت کي حاضروو چي په لاندي ډول ده:

دارالافتاء جامعۃ العلوم الاسلامیۃ

Date:

بسم اللہ الرحمن الرحیم

کیا فرماتے ہیں علماء دین اس مسئلہ کے بارے میں؟

آج کل کے شرائط اور حالات میں کونسا نصاب معتبر ہے سونے کا یا چاندی کا
اگر چاندی کا نصاب معتبر ہے تو بہت سارے مشکلات سامنے آجاتی ہیں
مثلاً اگر ایک بندے کے پاس تقریباً دس ہزار روپے موجود ہوں اور حاجت
ضروریہ سے زائد بھی ہوں تو کیا اس شخص پر زکوۃ دینا فرض ہے حالانکہ
بہت کم ایسے افراد موجود ہیں جنکے پاس (۱۰۰۰۰) ہزار روپے موجود نہ ہوں
اور اگر سونے کا نصاب معتبر ہے تب بھی مشکلات ہیں مثلاً ایک بندے کے
پاس (۴۰۰۰۰) یا (۵۰۰۰۰) ہزار روپے ہیں جو سونے کے نصاب سے کم
اور چاندی کے نصاب سے زیادہ ہیں تو کیا اس شخص پر زکوۃ دینا فرض ہے
اور کیا اس شخص کا زکوۃ لینا صحیح ہے خلاصہ یہ کہ آج کل کے حالات
اور شرائط اور مشکلات کو مدنظر رکھتے ہوئے کونسا نصاب معتبر ہے
سونے کا یا چاندی کا؟

المستفتی جان لہراسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الجواب حامداً ومصلیاً

موجودہ حالات میں سونے اور چاندی کی قیمتوں کے درمیان بہت زیادہ فرق کی وجہ سے وجوبِ زکوٰۃ اور وجوبِ قربانی کے لیے چاندی کے نصاب کے معیار ہونے کا مسئلہ کچھ عرصہ سے علماءِ کرام کے ہاں زیرِ غور ہے، اور اس بارے میں کچھ مضامین بھی لکھے جا چکے ہیں، تاہم ہماری تحقیق کے مطابق اب تک وجوبِ زکوٰۃ کے لیے چاندی کا نصاب ہی معیار ہے، مزید تفصیل کے لیے منسلکہ فتویٰ ملاحظہ فرمائیں۔ واللہ سبحانہ وتعالیٰ أعلم بالصواب۔

محمد احمد رضا

دار الافتاء دار العلوم کراچی ۱۴

۲۱ / ۲ / ۱۴۲۸ھ

الجواب صحیح

محمد عبد المنان عفی عنہ

۲۱/۲/۱۴۲۸ھ

نائب مفتی — دار العلوم کراچی

الجواب صحیح

۲۱/۲/۲۸ھ

دار الافتاء — نمبر ۹۵۸/۶ — مورخہ ۲۵/۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفحہ نمبر 99

# رجسٹر نقل فتاویٰ جامعہ دارالعلوم کراچی

| فتویٰ نمبر مع رجسٹر نمبر | تاریخ نقل فتاویٰ | نام و پتہ مستفتی | مضمون سوال و جواب | تبویب | عنوان |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۹۲ | ۸/۲۹ ۹۲۰ ۱۲/۸ ۹۹ء | | اضافی شیٹ | | |

۱۲/۸/۲۹ (۱

## بورڈ آف انٹرمیڈیٹ اینڈ سیکنڈری ایجوکیشن N.W.F.P.

رول نمبر ______ مضمون ______ پرچہ ______

محترم مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب

السلام علیکم، آپ کی تصنیف کردہ کتابچہ "احکام زکوٰۃ" کا مطالعہ کیا۔ چند سوالات ذہن میں ابھرے۔ آپ سے تفصیلی اور مدلل جواب کا متمنی ہوں۔ امید ہے آپ مجھے مایوس نہیں کریں گے اور جواب لکھ کر ثواب دارین حاصل کریں گے۔ سوالات ذیل ہیں۔

پہلا سوال: بے شک اسلام ایک متوازن دین ہے جو ہر وقت اور ہر زمانے سے مطابقت رکھتا ہے۔ لیکن الف ب
زکوٰۃ کے لئے سونے اور چاندی کی مقدار [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library





# رجسٹر نقل فتاوی جامعہ دارالعلوم کراچی

| عنوان | تبویب | مضمون سوال وجواب | نام وپتہ مستفتی | تاریخ نقل فتاوی | فتوی نمبر مع رجسٹر نمبر |
|---|---|---|---|---|---|

بے حد حیران کن ہے -

(ا) اگر چاندی کا نصاب زکوٰۃ کے لئے شرط رکھیں تو پھر اکثر لوگ امیر کی تعریف میں آتے ہیں -
ساڑھے باون تولے ($52\frac{1}{2}$) چاندی کی مالیت آجکل بحساب /110 روپیہ فی تولہ -/5775 روپیہ بنتی ہے

(ب) اب اگر سونے کا نصاب زکوٰۃ کے لئے شرط رکھیں تو پھر اکثر لوگ غریب کی تعریف میں آتے ہیں -
$7\frac{1}{2}$ تولے سونے کی مالیت آجکل بحساب /6000 روپیہ فی تولہ /45000 روپیہ بنتی ہے

چاندی اور سونے کی مالیت میں زمین و آسمان کا فرق ہے - یہ تفاوت یہ فرق، یہ عدم توازن، یہ عدم توازن بت یقیناً حیران کن ہے اور یہ انسان کو ہیجانی کیفیت میں مبتلا کر دیتی ہے - میرے خیال میں یا عام خیال میں سونے کا نصاب زکوٰۃ قریب از عقل معلوم ہوتا ہے کیونکہ موجودہ دور میں اندرون ملک اور بیرون ملک معیشت کی اکائی "سونا" ہے - مہربانی کر کے اس مسئلے میں میری رہنمائی فرمائیں کہ کون سا نصاب معتبر ہے -

سوال نمبر ۲: ایک عورت ہے جس کے پاس $7\frac{1}{2}$ تولے سونا زیور کی شکل میں موجود ہے - اس زیور کے علاوہ اس کے پاس کسی قسم کا نقدی یا جنسی مال نہیں - اسکے نام کسی قسم کی ملکیت یا جائیداد بھی نہیں - آمدنی کا بھی کوئی ذریعہ نہیں صرف اور صرف اپنے خاوند کے رحم وکرم پر ہے - خاوند کماتا ہے اور گھر کے سارے اخراجات برداشت کرتا ہے.
اب ~~یہ عورت~~ سال پورا نہیں ہوا ہے کہ عیدالاضحیٰ آ گئی - اس نے قربانی کی اور اس قربانی کے لئے رقم اپنے خاوند سے لی - پھر چند دن بعد سال پورا ہوا تو اس نے واجب الادا زکوٰۃ ادا کی - اور اس کے لئے رقم بھی اپنے خاوند سے لی - پھر عیدالاضحیٰ آئی تو پھر قربانی کی اور رقم اپنے خاوند سے لی - پھر دوسرا سال پورا ہوا - دوسرے سال پورا ہونے پر سونے کی مقدار جوں کی توں ہے - یعنی $7\frac{1}{2}$ تولے سونا -
کیا اس عورت پر زکوٰۃ فرض ہے؟ (عورت کے پاس چاندی کا کوئی ذریعہ آمدن نہیں، اس سونے کے علاوہ بالکل کچھ نہیں)
مہربانی کر کے جواب لکھ کر بھیج دیں - شکریہ
میرے ذہن میں جو نکتہ انگڑائی لے رہا ہے وہ یہ ہے کہ بظاہر سونے کی مقدار میں کمی نہیں آئی ہے اور مقدار جوں کی توں ہے لیکن حقیقتاً سونے کی مقدار میں کمی آ گئی ہے - دو دفعہ قربانی اور ایک دفعہ زکوٰۃ کی کل رقم ملا کر آدھے تولے سونے کی مالیت بن جاتی ہے - گویا ایک طرح کی یہ رقم بیوی کے ذمے خاوند کا قرض بنتا ہے - یعنی بیوی اپنے خاوند کی مقروض بن گئی ہے اور یہ کچھ مستقبل میں بنتی جا رہی ہے -

مہربانی فرما کر جواب لکھ کر بھیج دیں کہ آئندہ سال زکوٰۃ ادا کرے گی یا نہیں؟

والسلام

آپ کا خیرخواہ
فضل الحق مظہر
گاؤں گلاب دین کلے (مبانکی)
ڈاکخانہ اندر بانڈہ - تحصیل محمد [illegible] ضلع نوشہرہ M.W.F.P.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# رجسٹر نقل فتاوی جامعہ دار العلوم کراچی

| عنوان | تبویب | مضمون سوال وجواب | نام وپتہ مستفتی | تاریخ نقل فتاوی | فتوی نمبر مع رجسٹر نمبر |
|---|---|---|---|---|---|
| زکوٰۃ میں چاندی کے بجائے سونا کے نصاب کو معیار قرار دینا جائز ہے یا نہیں؟ | | (see below) | | | |

الجواب حامداً ومصلیاً

جاننا چاہیئے کہ اگر کسی شخص کی ملکیت میں صرف ۷ ½ تولہ یا اس سے زائد سونا ہو یا ۵۲ ½ تولہ یا اس سے زائد چاندی ہو، تو ان دونوں صورتوں میں زکوٰۃ واجب ہونے کے سلسلہ میں اس سونے یا چاندی کی قیمت کا لحاظ نہیں ہوگا، یعنی انکی قیمت خواہ کتنی ہی کم ہو یا زیادہ ہو، مذکورہ شخص پر زکوٰۃ واجب ہوگی، سونے اور چاندی کا یہ نصاب احادیث مبارکہ سے صراحۃً ثابت ہے، اسلئے ان دونوں صورتوں میں حالات یا زمانہ کے انقلابات وتغیرات سے نصاب میں کوئی تبدیلی واقع نہیں ہوگی، قیامت تک سونے کا نصاب ۷ ½ تولہ ہوگا، اور چاندی کا ۵۲ ½ تولہ ہوگا، خواہ انکی قیمتوں میں کتنی ہی کمی بیشی ہوتی رہے ـــــ البتہ اگر کسی شخص کی ملکیت میں نقد رقم ہے، یا مال تجارت ہے، تو ان دونوں صورتوں میں نصاب پورا ہونے اور زکوٰۃ واجب ہونے کے لئے ان اشیاء کی قیمت کا اعتبار ہوگا کہ اگر وہ نقد رقم یا مال تجارت سونے یا چاندی کے نصاب کی قیمت کے برابر ہے تو زکوٰۃ واجب ہوگی ورنہ نہیں، نیز اگر کسی کی ملکیت میں نصاب سے کم سونا اور اسکے ساتھ نصاب سے کم چاندی ہو، تو دیکھا جائے گا کہ اگر ان دونوں کی مجموعی قیمت سونے یا چاندی کے نصاب کی قیمت کے برابر ہوگی تو زکوٰۃ واجب ہوگی ورنہ نہیں ـــــ رہی یہ بات کہ اسمیں قیمت سونے کے نصاب کی معتبر ہوگی یا چاندی کے نصاب کی؟ تو اسمیں حنفیہ سمیت جمہور فقہاء کا اصول یہ ہے کہ یہ دیکھا جائیگا کہ فقراء کا فائدہ کس میں زیادہ ہے؟ اگر سونے کی قیمت کے اعتبار کرنے میں ہے تو اسکی قیمت معتبر ہوگی اور اگر چاندی کی قیمت کے اعتبار کرنے میں فقراء کا فائدہ زیادہ ہے تو اسکی قیمت معتبر ہوگی، ہمارے زمانہ میں چاندی کی قیمت چونکہ سونے سے کم ہے، لھذا فقراء کا فائدہ اسمیں ہے کہ چاندی کے نصاب کا اعتبار کیا جائے، لھذا اگر ان مذکورہ اشیاء کی مجموعی قیمت ۵۲ ½ تولہ چاندی کی قیمت کے برابر ہو تو زکوٰۃ واجب ہوگی ورنہ نہیں۔ اور قیمت لگانے کے اس طریقہ کو فقہی اصطلاح میں "تقویم" کہتے ہیں، اور یہ طریقہ قرآن وحدیث سے صراحۃً ثابت نہیں، بلکہ مجتہدین نے شریعت کے مجموعی دلائل کو سامنے رکھ کر اختیار فرمایا ہے، لیکن سونے اور چاندی کی قیمتوں میں بہت زیادہ فرق واقع ہونے کیوجہ سے کچھ عرصہ سے یہ سوال گردش میں ہے کہ کیا بحالات موجودہ چاندی کے بجائے سونے کو معیار نصاب مقرر کیا جا سکتا ہے؟ چنانچہ بعض علماء عرب نے یہ موقف اختیار کیا کہ بحالات موجودہ معیار نصاب سونا ہونا چاہئے نہ کہ چاندی، جبکہ جمہور علماء کا موقف اب بھی یہی ہے کہ معیار نصاب چاندی ہی ہے نہ کہ سونا۔

تفصیل مسئلہ یہ ہے کہ نصاب کی کچھ قسمیں ہیں:

گائے بیل کا نصاب ۳۰ عدد، بکریوں کا ۴۰ عدد، اونٹوں کا ۵ عدد، زمینی پیداوار کا ۵ وسق سونے کا ۲۰ مثقال اور چاندی کا ۲۰۰ درہم ـــــ زمانۂ قدیم میں ان نصابوں کی قیمتوں میں کوئی خاص فرق ان نصابوں میں قیمت کے اعتبار سے ایک خاص توازن تھا، چنانچہ اس زمانہ میں "دو سو درہم" جو چاندی کا نصاب ہے قیمت کے اعتبار سے "بیس دینار" کے جو سونے کا نصاب ہے برابر تھے، کیونکہ اسوقت دینار و درہم میں ۱ : ۱۰ کی نسبت تھی، یعنی قیمت کے اعتبار سے ایک دینار دس درہم کے برابر تھا، لھذا اس حساب سے:

(c) ketabton.com: The Digital Library





# رجسٹر نقل فتاوی جامعہ دار العلوم کراچی

| فتوی نمبر مع رجسٹر نمبر | تاریخ نقل فتاوی | نام وپتہ مستفتی | مضمون سوال وجواب | تبویب | عنوان |
|---|---|---|---|---|---|

۱ : ۱۰ = ۲۰ × ۱۰ = ۲۰۰ درہم ہو گئے۔

عن عمرو بن شعیب عن ابیہ عن جدہ قال:
کانت قیمۃ الدیۃ علی عہد رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم
ثمانمائۃ دینار او ثمانیۃ آلاف درہم
الحدیث (ابوداؤد باب "الدیۃ کم ھی؟")
وفی بذل المجہود: ای قیمۃ ابل الدیۃ
التی ھی الاصل فی الدیۃ اھ (۱۸: ٦٤)

ترجمہ: "حضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم کے زمانہ میں دیت کی
قیمت آٹھ سو دینار یا آٹھ ہزار درہم تھی۔۔۔۔
بذل المجہود (شرح ابوداؤد) میں ہے، یعنی دیت کے ان
اونٹوں کی قیمت (اتنی تھی) جو دیت میں اصل ہیں"
اس روایت میں آٹھ سو دینار آٹھ ہزار درہم کے قائم مقام قرار
دیئے، یعنی:

۸۰۰ : ۸۰۰۰ = ۱ : ۱۰

واما القول الثالث فان یجعل قیمۃ
الدنانیر عشرۃ عشرۃ اھ (کتاب الاموال
لابی عبید القاسم رحمہ اللہ تعالی (ص ٤٢٢)

اسکا حاصل بھی یہی ہے کہ ایک دینار قیمت کے لحاظ سے دس دراہم کے برابر
تھا، جیسا کہ محشی نے لکھا ہے کہ:

ولست ادری لھذا الرأی وجھا الا ان
اصحابہ قاسوا احد النصابین علی الآخر فوجدوا
ان کل دینار من نصاب الذھب یقابلہ عشرۃ
دراھم من الفضۃ اھ (ص ٤٢٢)

وفی المبسوط للامام السرخسی قدس سرہ:
وقیل: المعنی فیہ انہ اعتبر للقیمۃ فی المقادیر،
فان الشاۃ تقوم بخمسۃ دراھم فی ذلک
الوقت وبنت المخاض من الابل باربعین درھما
فایجاب الزکوٰۃ فی کل خمس من الابل کایجاب
الزکوٰۃ فی مائتی درھم اھ (۲: ۱۵۰)

مبسوط کی اس عبارت کا حاصل بھی یہی ہے کہ اس زمانہ میں
مختلف قسم کے اموال کے نصابوں اور ان میں واجب شدہ مقدار زکوٰۃ کی قیمت
میں کوئی خاص فرق نہیں تھا، چنانچہ پانچ اونٹوں میں ایک بکری واجب
ہے، اور دو سو درہم میں پانچ درہم، اور ایک بکری کی قیمت اس زمانہ
میں پانچ درہم تھی، یعنی:

۵ اونٹ ⟵ بکری = ۲۰۰ ⟵ ۵ درہم

(c) ketabton.com: The Digital Library





| فتویٰ نمبر مع رجسٹر نمبر | تاریخ نقل فتاویٰ | نام و پتہ مستفتی | مضمون سوال وجواب | تبویب | عنوان |
|---|---|---|---|---|---|

وفی فقہ الزکوٰۃ للعلامۃ الحموی الی السعود :

والمنصوص لما کتبہ الاقدمون وما روی عنہم

یجمع ان خمس اواق من الفضۃ کانت

تعادل مائتی درھم ، وان مائتی درھم کانت

تساوی عشرین دینارًا ( ص۹۳ )

خلاصہ اس عبارت کا یہ ہے کہ متقدمین کی کتابوں اور عبارات پر غور کرنے سے معلوم ہوتا ہے کہ پانچ اوقیہ چاندی اسوقت دوسو درھم کے برابر ہوتی تھی اور دوسو درھم بیس دینار کے برابر ہے ۔ اسکا حاصل بھی یہی نکلتا ہے کہ اسوقت دینار و درھم میں ۱ : ۱۰ کی نسبت تھی ۔

وفی التطبیق المعاصر للدکتور شوقی اسماعیل

شحاتہ :

ومما یبین لنا ان نصاب الزکوٰۃ الاربع

نصاب موحد قیمتہ عشرون دینارًا او مائتا

درھم اھ ( ص۱۱۲ )

اس عبارت کا حاصل یہ ہے کہ چاروں زکوٰتوں کا نصاب قیمت کے اعتبار سے ایک ہے یعنی بیس دینار یا دوسو درھم ، اور چاروں نصابوں سے مراد ہمارا سونا ، چاندی ، مویشی اور زمینی پیداوار ہے ۔

مذکورہ بالا عبارات سے معلوم ہوتا ہے کہ اس زمانہ میں زکوٰۃ کے مختلف نصابوں اور ان میں واجب شدہ مقدار زکوٰۃ کی قیمت میں کوئی خاص فرق نہیں تھا ، اسلئے اس وقت کسی بھی نصاب کو مذکورہ صورتوں میں مالیت لگانے کے لئے معیار بنایا جاسکتا تھا ، کیونکہ بہرصورت توازن برقرار رہتا تھا ۔ لیکن عہد رسالت اور خلافت راشدہ کے بعد کی صدیوں میں نصابوں اور خاص طور پر سونے اور چاندی کے نصابوں میں مذکورہ نسبت باقی نہیں رہی ، اور بنو امیہ کے دور سے دونوں نصابوں میں فرق آنا شروع ہوگیا ، اور مختلف مراحل سے گزرتے ہوئے آج دونوں نصابوں میں قیمت کے اعتبار سے جو تفاوت ہے وہ بالکل ظاہر ہے ، جس سے دونوں نصابوں میں توازن باقی نہیں رہا ، اور مذکورہ سوال گردش میں آگیا کہ کیا اب بھی معیار نصاب چاندی ہے ؟ اگر ہے تو پھر اس تفاوت ...... اور عدم توازن جو مزاج اسلام کے خلاف ہے اسکا کیا حل یا جواب ہے ؟ جیسا کہ سوال میں مذکور ہے ۔

[illegible]

اسکو حل کرنے کے لئے بعض علماء عرب جن میں عالم عرب کے مشہور عالم محقق علامہ ڈاکٹر یوسف القرضاوی اور مشہور محقق ڈاکٹر وھبۃ الزحیلی بھی شامل ہیں ، نے ذکر کردہ صورتوں میں یعنی جبکہ نہ سونے کا نصاب مکمل ہو اور نہ چاندی کا ، یہ موقف اختیار کیا کہ اب بجائے چاندی کے سونا ہی معیار ہے ۔ چنانچہ علامہ قرضاوی صاحب فرماتے ہیں :

ویذھب علماء آخرون الی ان تقدیر

النصاب یجب ان یکون بالذھب ... وھذا ما

اختارہ الاساتذۃ ابو زھرۃ وخلاف ...

(c) ketabton.com: The Digital Library





فی بحثهم عن الزكاة .

ويبدو لي ان هذا القول سليم الوجهة

قوي الحجة اهـ (فقه الزكاة ١ : ٢٦٤)

اور علامہ زحیلی صاحب فرماتے ہیں :

والاهم تقدير النصاب الورق بالذهب

لانه المعادل لنصاب الانعام ولارتفاع مستوى

المعيشة وغلاء الحاجيات ، وان كان يرى كثير

من علماء العصر تقدير النصاب بالفضة لانه انفع

للفقراء ، وللاحتياط في الدين ولان نصاب الفضة

مجمع عليه وثابت بالسنة الصحيحة اهـ

(الفقه الاسلامي وادلته ٢ : ٧٧٣)

جبکہ جمہور علماء کا موقف اب بھی یہی ہے کہ مذکورہ صورتوں میں یعنی جبکہ (کسی کی ملکیت میں نقد رقم یا مال تجارت یا کچھ سونا اور اس کے ساتھ کچھ چاندی وغیرہ ہو) تو قیمت لگانے کا معیار چاندی ہی ہے نہ کہ سونا ، کیونکہ :

(۱) چاندی کا نصاب احادیث صحیحہ صریحہ مشہورہ سے ثابت ہے ، جبکہ سونے کا نصاب اگرچہ احادیث میں مذکور ہے لیکن یہ احادیث اس درجہ قوت و شہرت کو نہیں پہنچ سکی تھیں ، اسکی وجہ یہ ہے کہ عہد رسالت میں سونا کا رواج چاندی کے مقابلہ میں بہت کم تھا ، جیسا کہ مشہور تابعی حضرت عطاء رحمہ اللہ فرماتے ہیں :

انما كان اذ ذاك الورق ولم يكن الذهب

(مصنف ابن ابی شیبہ کتاب الزکوٰۃ)

(۲) چاندی کا نصاب اجماعی ہے ، بخلاف سونے کے نصاب کے کہ اسمیں مختلف اقوال بھی پائے جاتے ہیں ، چنانچہ حضرت حسن بصری رحمہ اللہ سے سونے کا نصاب چالیس دینار بھی منقول ہے ۔

(۳) چاندی کا نصاب بذاتِ خود معتبر ہے ، یعنی اسکے نصاب میں مالیت اور قیمت لگانا کسی کے نزدیک بھی اعتبار نہیں ، جبکہ سونے کے نصاب میں بعض علماء نے چاندی کے ساتھ مالیت لگانے کا اعتبار بھی کیا ہے (یعنی سونے کے نصاب کو چاندی کا تابع بنایا ہے) ، وهو المنقول عن طاؤس وعطاء والزهري وسليمان بن حرب والوب وغيرهم رحمهم الله تعالى (فقه الزكاة ١ : ٢٤٧ بحواله المغني لابن قدامه ٣ ، ٤)

وفي فقه الزكاة : واما النقود الذهبية (الدنانير) فلم يجئ في نصابها احاديث في قوة احاديث الفضة وشهرتها ، ولذا لم يظفر نصاب الذهب بالاجماع كالفضة غير ان الجمهور الاكبر من الفقهاء ذهبوا الى نصابه عشرون دينارا وروي عن الحسن البصري ان نصابه اربعون دينارا وروي عنه مثل قول الاكثرين اهـ (١ : ٢٤٧ بحواله نيل الاوطار ٤ : ١٣٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۴) فرائض میں احتیاط کا تقاضہ بھی یہی ہے کہ معیار چاندی ہو نہ کہ سونا جیسا کہ ظاہر ہے۔

(۵) زکوٰۃ میں دو پہلوؤں کو خاص طور پر شریعت نے ملحوظ رکھا ہے یعنی:

(۱) فقیر کی مالی مصلحت

(۲) زکوٰۃ ادا کرنے والے پر بہت زیادہ بوجھ (بار) نہ پڑے، جسے "اجحاف" کہتے ہیں، شریعت نے زکوٰۃ کے باب میں دونوں کی مصلحت کا خیال رکھا ہے، چنانچہ اگر کسی کے پاس پانچ اونٹ ہوں، تو شریعت نے ان میں ایک بکری دینے کو واجب کیا ہے، حالانکہ زکوٰۃ میں اصل یہ ہے کہ مقدارِ واجب اسی نصاب کی جنس میں سے ہو، لیکن یہاں صاحبِ مال اور فقیر دونوں کی مصلحت کا لحاظ رکھا گیا، اور پانچ اونٹوں میں شریعت نے اونٹ کی بجائے ایک بکری کو واجب کیا اسلئے کہ پانچ اونٹ خاصا بڑا مال ہے اب اگر اس مال پر زکوٰۃ بالکل واجب نہ ہوتی تو اسمیں فقیر کی مصلحت نظر انداز ہو جاتی، اور اگر اونٹ واجب ہوتا تو صاحبِ مال پر بہت زیادہ بار پڑجاتا، بکری کے واجب کرنے میں دونوں کی مصلحت برقرار رہی، چنانچہ اسی کے بارے میں علامہ سرخسیؒ فرماتے ہیں:

والمعنی فیہ ان الواجب فی کل مال من جنسہ فان الواجب جزء من المال الا ان الشرع عند قلۃ الابل اوجب من خلاف الجنس نظرا للجانبین فان خمسا من الابل مال عظیم ففی اخلائہ عن الواجب اضرار بالفقراء، وفی ایجاب الواحدۃ اجحاف بارباب الاموال الخ (المبسوط للامام السرخسی ۲: ۱۵۲)

چاندی کو بحالاتِ موجودہ بھی معیارِ نصاب باقی رکھنے میں جانبین کی مصلحت ملحوظ ہے، کیونکہ مال تجارت وغیرہ میں چاندی کو معیار بنانے کی صورت میں زکوٰۃ زیادہ لوگوں پر واجب ہوگی، جس سے فقراء کو مالی نفع زیادہ پہنچ جائیگا، جبکہ سونے کی صورت میں فقراء کی مصلحت نظر انداز ہو جائیگی، اور صاحبِ مال پر زیادہ بار بھی نہیں پڑتا، کیونکہ ایک آدمی ہے مثلاً اسکے پاس چھ ہزار روپے رکھے ہوئے ہیں، اور اسنے سال بھر اپنی مرضی کے مطابق جسطرح چاہا اور جتنا چاہا پیسے کو خرچ کیا، پورا سال گزر گیا اور اسکے پاس اب بھی تمام خرچوں کے بعد بھی چھ ہزار روپے مثلاً بچے ہوئے ہیں، اور اسپر اتنا قرضہ بھی نہیں ہے کہ اسکو منہا کرنے سے مذکورہ رقم بالکل نہ بچے یا کم بچے، تو ایسا شخص اگر ان چھ ہزار روپے میں سے صرف ڈیڑھ سو روپے کسی ایسے شخص کو بطورِ زکوٰۃ دیدے جسکی ملکیت میں اتنا پیسہ بھی نہیں ہے، یا وہ قرض کے نیچے دبا ہوا ہے، تو اسمیں صاحبِ مال کا کیا نقصان ہے؟ ظاہر ہے کہ ایسے شخص پر زکوٰۃ واجب کرنا عین حکمت اور عین انصاف ہے، صاحبِ مال کے پاس پانچ ہزار آٹھ سو پچاس روپے بچ گئے، اور فقیر کو ڈیڑھ سو روپیہ مل گئے، جس سے وہ اپنی کسی ضرورت کو ادا کر لیگا

چاندی کو معیار بنانے کی صورت میں

اس دوران اسکے پاس اضافی پیسے آتے رہے

مقدارِ نصاب سے

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفحہ نمبر 106

# رجسٹر نقل فتاویٰ جامعہ دارالعلوم کراچی

| فتویٰ نمبر مع رجسٹر نمبر | تاریخ نقل فتاویٰ | نام و پتہ مستفتی | مضمون سوال وجواب | تبویب | عنوان |
|---|---|---|---|---|---|

سونے اور چاندی کی قیمتوں میں تفاوت کے باوجود زکوٰۃ کے مسئلہ میں صاحب مال اور فقیر کی مصلحت اب بھی برقرار ہے، اور زکوٰۃ کے باب میں اسپر کوئی بڑا اثر نہیں پڑا ہے، لہذا اسکو "بے اعتدالی" "غیر توازنیت" وغیرہ کہنا درست نہیں ——— نیز یہ بھی یاد رکھنا چاہئے کہ سونے اور چاندی کی قیمتوں میں تفاوت کوئی نئی بات نہیں، بلکہ یہ تفاوت خلافت راشدہ کے بعد سے شروع ہوا ہے، چنانچہ بنوامیہ کے نصف آخر میں دینار کی قیمت بارہ درہم ہوگئی، بنو عباس کے دور میں یہ قیمت بڑھ کر پندرہ درہم سے بھی تجاوز کرگئی، اور فاطمیین کے زمانہ میں "حاکم" کے دور حکومت میں تو یہ قیمت ۳۴ درہم تک جا پہنچی، اور بعض اوقات ۳۵ درہم تک ایک دینار کی قیمت ہوگئی تھی (البلاغ جمادی الاخریٰ ۱۴۰۳ھ بحوالہ فقہ الزکاۃ) تو سونے اور چاندی کی قیمتوں میں تفاوت سے جس طرح ہم کو واسطہ پیش آرہا ہے، ہمارے اسلاف کو بھی اپنے دور عروج میں پیش آچکا ہے، مگر انہوں نے پھر بھی ایک نصاب کو دوسرے کی قیمت کے تابع نہیں کیا، چاندی کا نصاب الگ رکھا اور سونے کا الگ کیونکہ یہ نصاب آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم کا فرمودہ ہے اور اس پر اجماع ہے، جیسا کہ حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب دامت برکاتہم نے البلاغ کے مذکورہ شمارہ میں تفصیل سے اسکا جواب ارشاد فرمایا ہے۔ اسی طرح ہمارے زیر بحث مسئلہ میں یعنی جبکہ کسی شخص کی ملکیت میں نقد رقم، یا مال تجارت یا نصاب سے کم کچھ سونا اور اسکے ساتھ کچھ چاندی وغیرہ ہو، ان صورتوں میں ہمارے اسلاف نے قیمت ومالیت لگانے میں چاندی کی جگہ سونے کو معیار نصاب نہیں بنایا، کیونکہ اس تفاوت کے باوجود زکوٰۃ کے باب میں جانبین کی مصلحت برقرار ہے۔

خلاصہ یہ کہ مذکورہ مسئلہ میں جمہور کا مذہب مذکورہ بالا وجوہات کی بناء پر قوی و راجح ہے، لہذا زکوٰۃ کے مسئلہ میں اسی پر عمل کرنا چاہئے۔

فی المبسوط للامام السرخسی رحمہ اللہ تعالیٰ:

فلابد من اعتبار منفعة الفقراء عند التقويم لأداء الزكوة، فيقومها بانفع النقدين الاترى أنه لو كان بتقويمه باحد النقدين يتم النصاب وبالآخر لا يتم فانه يقوم بما يتم به النصاب لمنفعة الفقراء اهـ

(٢: ١٩١)

كذا في جميع كتب الفقه المعتبرة -

وفي الفقه الاسلامي وادلته:

وطريقة تقويم العروض هي عند الجمهور غير الشافعية ان تقوم السلع اذا حال الحول بالأحظ للمساكين من

(جاری ...)

الجواب حامداً ومصلیاً

صورت مسئولہ میں چاندی اور سونے کا انفرادی نصاب وہ منصوص ہے
اس میں کوئی انسان تبدیل نہیں کر سکتا، چاندی دو سو درہم جس کا وزن ہمارے
ہاں ساڑھے باون تولہ اور موجودہ وزن کے اعتبار سے چھ سو بارہ ۶۱۲ گرام
پینتیس ۳۵ ملی گرام بنتا ہے، اور خالص سونا بیس مثقال جس کا موجودہ
وزن کے اعتبار سے ستاسی ۸۷ گرام چار سو اناسی ۴۷۹ ملی گرام ہے
جیسا کہ بدائع میں ہے:

اما الاثمان المطلقة وهي الذهب والفضة
فان كان له فضة فلا زكوة فيها حتى تبلغ مائتي
درهم وزناً وزن سبعة، واذا كان له ذهب
مفرد فلا شئ فيه حتى يبلغ عشرين مثقالاً
(بدائع الصنائع ص ۱۶/۲ ط سعید)

رہا موجودہ نقدیت اور مال تجارت کا نصاب، تو اس نصاب کا اندازہ
اس چیز کے نصاب سے کریں گے جو فقراء کے لئے انفع ہو، اور چونکہ چاندی کا
نصاب موجودہ نقدیت کے لحاظ سے فقراء کے حق میں زیادہ انفع ہے
اس لئے اسی کا اعتبار کیا جائے گا۔
بدائع میں ہے:

وكذا روى عن ابي حنيفة رحمه الله تعالى
في الامالي انه يقومها بانفع النقدين
للفقراء ... وجه قول ابي حنيفة رحمه الله
ان الدراهم والدنانير وان كانا في الثمنية
والتقدير بهما سواء لكنا رجحنا احدهما
بمرجح وهو النظر للفقراء والاخذ بالاحتياط
(بدائع الصنائع ص ۲۱/۲ ط سعید) فقط والله اعلم

کتبہ
محب الله
المتخصص في الفقه الاسلامي
جامعة العلوم الاسلامية
علامہ بنوری ٹاؤن کراچی نمبر ۵
۲۹/۴/۱۴۲۸ھ ۱۷/۵/۲۰۰۷م

الجواب صحیح

الجواب صحیح

دار الافتاء جامعة العلوم الاسلامية علامہ بنوری ٹاؤن کراچی ۵ پاکستان

جامعة العلوم الاسلامية نائب رئيس دار الافتاء علامہ بنوری ٹاؤن کراچی پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللہ الرحمن الرحیم

الجواب حامداً ومصلیاً

آج کل عروض اور نقدی وغیرہ کی زکوۃ ادا کرنے کے لئے چاندی کا نصاب معتبر ہے کیونکہ یہ انفع للفقراء ہے۔

لہٰذا جس آدمی کے پاس چالیس، پچاس ہزار روپے ہوں اس پر زکوۃ فرض ہے اور اس آدمی کا زکوۃ لینا درست نہیں ہے۔

قال ابن عابدین: "و آن یجب أن یکون التقویم بما هو أنفع للفقراء رواجاً."

(ردالمحتار علی الدر المختار (حاشیۃ ابن عابدین) کتاب الزکاۃ باب زکاۃ المال: ۲/۲۲۹، ط: حقانیہ)

"وعن أبي حنیفة في الأمالي أن یقومها بأنفع النقدین للفقراء......

وجه قول أبي حنیفة أن المال کان في ید المالك، وهو المنتفع به في زمان طویل، فلا بد من اعتبار منفعة الفقراء عند التقویم لأداء الزکاة فیقومها بأنفع النقدین بالآخر لا یتم، فإنه یقوم بما یتم به النصاب لمنفعة الفقراء فهذا مثله."

(المبسوط، کتاب الزکاۃ، باب زکاۃ المال: ۱/۲۳۵۶، ط: الغفاریۃ)

"ولو ضم أحد النصابین إلی الآخر...... لکن یجب أن یکون التقویم بما هو أنفع للفقراء قدراً ورواجاً."

(الهندیة، کتاب الزکاۃ، الباب الثالث: ۱/۱۷۹، ط: رشیدیة)

(وکذا في بدائع الصنائع، کتاب الزکاة: ۲/۱۰۸، ط: رشیدیة).

(وکذا في منحة الخالق علی هامش البحر الرائق، کتاب الزکاة: ۲/۲۰۱، ط: رشیدیة).

(وهکذا في التاتارخانیة، کتاب الزکاة: ۲/۱۷۹، ط: قدیمی کتب خانہ).

قال الکاساني: "الغنا أنواع ثلاثة: غنی تجب به الزکاة، وغنی یحرم به أخذ الصدقة وقبولها، ولا تجب به الزکاة...... أما الغنا الذي تجب به الزکاة: فهو أن یملك نصاباً من المال النامي الفاضل عن الحاجة الأصلیة.

وأما الغنا الذي یحرم به أخذ الصدقة وقبولها: فهو الذي تجب به صدقة الفطر والأضحیة، وهو أن یملك من الأموال التي لا تجب فیها الزکاة ما یفضل عن حاجته وتبلغ قیمة الفاضل مائتي درهم من الثیاب والفرش...... زیادة علی ما یحتاج إلیه کل ذلك للابتذال والاستعمال لا للتجارة والإسامة، فإذا فضل من ذلك ما یبلغ قیمته مائتي درهم وجب علیه صدقة الفطر والأضحیة وحرم علیه أخذ الصدقة."

(بدائع الصنائع، کتاب الزکاة، مصارف الزکاة: ۲/۱۵۸، ط: بیروت) فقط۔

واللہ أعلم بالصواب

کتبہ: سجاد خان

المتخصص في الفقہ الإسلامي

بالجامعۃ الفاروقیۃ کراتشی

۱۲/۴/۲۸ھ

الجواب صحیح

الجواب صحیح

۲۲/۴/۲۸ھ

جامعہ فاروقیہ ... دار الافتاء

(c) ketabton.com: The Digital Library


## که چا خالص سره زر تر نصاب کم درلودل:

که یو چا خالص سره زر تر نصاب (۲۰مثقاله) کم درلودل نور ئې نه یوه افغانۍ نغده درلوده او نه ئې نور د زکات قابل مال درلودی نو په دې صورت کې اختری پر هغه واجب نه دئ ځکه چې په سرو او سپینو زرو کې دارمدار پر نصاب دئ نه پر قیمت(1).

## که چا خالص سره زر تر نصاب کم درلودل خو قابل زکاة سامان یې هم درلودی:

که یو چا سره زر تر نصاب (۲۰ مثقاله) کم درلودل او نور ئې داسې سامان درلودی چې قابل زکاة وو یا ئې یوه افغانۍ درلوده یا ئې تر افغانۍ زیاتې درلودې نو په دې صورت کې سره زر، نغدې پیسې یا نور قابل زکاة مال سره ګډېږي نو که ئې قیمت دوپنځوس نیمو تولو سپینو زرو ته رسېدی اختری سته او که نه رسېدی نو نسته(2).

---

(1) ولیس فی اقل من عشرین مثقالاً من الذهب زکاة [المبسوط للسرخسي: ۱-۲ټوکونه، ۲۵۵ مخ].
فاما اذاکان له ذهب مفرد فلا شيئ فیه حتی یبلغ عشرین مثقالاً...[بدائع الصنائع: دوهم ټوک - ۱۰۵ مخ].

الجواب (۱): سونے چاندی میں زکاة کا دارمدار نصاب پر ہے نہ کہ قیمت پر لہذا سات تولے سونے کے زیورات پر زکات نہیں اگر چہ قیمت اس کا دو ہزار روپیہ ہو اور ساڑے سات تولے سونے میں زکات واجب ہے اگر چہ قیمت کوئی چیز نہ ہو... [فتاوی فریدیه: دریم ټوک - ۴۰۸مخ]. اور دوسری صورت میں اس لیے زکات فرض نہیں کہ اس کے پاس صرف سونا ہے چاندی یا تجارتی مال یا نقد رقم نہیں ہے اس لیے نہ تو سونے کا نصاب بنتاہے نہ چاندی کا لہذا اس صورت میں زکاة فرض نہ ہوگی [فتاوی رحیمیه: ۷-۸ټوکونه -۱۵۶مخ].

(2) فافاد ان التقویم انما یکون بالمسکوک عملاً بالعرف مقوماً باحدهما ان استویا فلو احدهما اروج تعین التقویم به ولو بلغ باحدهما نصاباً دون الآخر تعین مایبلغ به ولو بلغ باحدهما نصاباً وخمساً

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر چا چي زكاة فرض وي پر هغه اختری او سرسايه هم واجب دي:

پر كوم چا چي زكوة فرض وي نو پر هغه باندي اختری او سرسايه هم واجب دي، ډېر خلګ دا فكر كوي چي پر كوم چا زكوة فرض نه وي پر هغه اختری هم نه دئ واجب دا خبره صحيح نه ده بلكي داسي ويل صحيح دي چي پر كوم چا چي زكوة فرض وي پر هغه اختری هم واجب دئ ولي چه ډېر داسي خلګ سته چه زكوة وربانديپه دې خاطر فرض نه وي چه سره زر يا سپين زر يا د تجارت مال او يا د هغو په اندازه نصاب نه لري مګر نور سامان بيا زيات پروت وي لكه د ضرورت څخه زيات سامان وغيره(1).

## د اختري په ورځو كي اختری واجب دی نه قيمت:

د اختري په ورځو كي اختری واجب دئ قيمت وركول صحيح نه دي او كه د يو عذر په خاطر د اختر په ورځو كي اختری ونه سو نو بيا ئې قيمت خيراتول ښه دي(2).

---

وبالآخر اقل قومه بالانفع للفقير [درمختار: دوهم ټوک – ۲۹۹ مخ]. نقد پانچ روپے زاید از ضرورت اور تین تولہ سونا ہو تو زکاۃ اس لیے فرض ہوجاتی ہے کہ نقد رقم چاندی سونے کے حکم میں ہے اور تین تولہ سونا اور نقد پانچ روپے مل کر ساڑے باون تولہ چاندی کی قیمت کے برابر ہوجاتے ہیں اس لیے زکاۃ فرض ہوجاتیگی [فتاوی رحیمیه: ۷ – ۸ټوکونه – ۱۵۵مخ].

(1) (والموسر في ظاهر الرواية من له مائتا درهم او عشرين دينارا او شئ تبلغ ذلك سوى مسكنه ومتاع مسكنه ومركوبه وخادمه في حاجته التي لايستغني عنها فاما ما عدا ذلك من سائمة او رقيق او خيل او متاع لتجارة اوغيرها فانه يعتد به من يساره) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۲ مخ].

(2) (ومنها ان لايقوم غيرها مقامها حتى لو تصدق بعين الشاة او قيمتها في الوقت لايجزيه عن الاضحية لان الوجوب تعلق بالاراقة) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۲۰۰ مخ]. (ولوتركت التضحية ومضت ايامها تصدق به حية ناذر... و تصدق بقيمتها غني شراها او لا)؟ [درمختار: شپږم ټوک –

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختری پر چا واجب دی؟

اختری پر هر مقیم، ازاد، مسلمان، عاقل چي مالک د نصاب وي واجب دئ یعني دوپنځوس نیمي تولې سپین زر یا اوه نیمي تولې سره زر یا مال تجارت ولري مګر تر حاجت اصلیه زیات وي(1).

## د کور د ټولو له طرفه یو اختری کول:

د کور د ټولو غړو له طرفه یو اختری کول په دي خاطر چي د ټولو واجب په ساقط سي صحیح نه دئ بلکي اول به هغه ځوک اختری کوي چي باندي واجب وي وروسته که توفیق وو نو د هر چا له طرفه ئې کولای سي(2).

## ایا پر پلار د کوچني اولاد اختری سته؟

د کوچني اولاد له طرفه پر پلار اختری واجب نه دئ(3).

## که فقیر د اختر په ورځو کي د اختري په نیت حیوان رانیسي:

که فقیر او غریب سړی د اختر په ورځو کي د اختري په نیت

---

۳۲۰ مخ].

(1) (الموسر الذي له مئتادرهم او عرض يساوي ماتي درهم سوى المسكن والخادم والثياب التي يلبس ومتاع البيت الذي يحتاج اليه) [خلاصة الفتاوى: څلرم ټوک – ۳۰۹ مخ].

(2) (فتجب الاضحية علي حر مسلم مقيم موسر عن نفسه لاعن طفله شاة او بدنة) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۱۳ – ۳۱۵ مخونه].

(3) (وتجب عن نفسه لانه اصل في الوجوب عليه على ما بيناه وعن ولده الصغير... و روي عنه ا نه لايجب عن ولد وهو ظاهر الرواية) [هدايه: څلرم ټوک – ۴۴۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیوان رانیسي نو پر هغه واجب کېږي[1].

**که یو چا اختری رانیوی او ځني ورک سو:**

که یو چا اختری رانیوی او ځني ورک سو وروسته ئې بل اختری رانیوی او بیرته اول اختری د اختر په ورځو کي پیدا سو نو که دا سړی مالدار وو او اختری باندي واجب وو نو پر ده باندي یو اختری واجب دئ، او که دا سړی مالدار نه وو غریب وو اختری باندي واجب نه وو نو پر ده باندي دواړه واجب دي، البته که دې غریب سړي د دې دوهم اختري د رانیولو په وخت کي دا نیت کړی وو چي دا د هغه اول پر ځای باندي رانیسم نو پر ده باندي هم یو واجب دئ[2].

**که چا اختری رانیوی خو اختری مړ سو:**

که یو چا اختری رانیوی خو اختری مړ سو نو واجب ئې نه ساقطېږي بلکي که غني وو نو بل اختری به رانیسي او که فقیر وو نو هیڅ نه دي باندي لازم[3].

**که چا اختری رانیوی خو وروسته فقیر سو:**

که یو چا د اختري لپاره حیوان رانیوی وروسته فقیر سو نو که د

---

(1) (وفقیر... شراها لها لوجوبها علیه بذلک حتی یمتنع علیه بیعها) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(2) (وان سرقت او ضلت فشری اخری ثم وجدها في ایام النحر ذبح احداهما لو غنیا وکلاهما لو فقیرا الا اذانواها عن الاولی لعدم تعدد الالتزام بالشراء حینئذ) [درمنتقی علی هامش مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۲ مخ].

(3) (وکذا لو ماتت فعلي الغني غیرها لاالفقیر) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختري تر آخري ورځې پورې صاحب نصاب نه وو نو اختری نه دئ باندي واجب او دغه حیوان به خرڅ کړي قیمت به ئې خپله مصرف کړي او که تر اخري ورځې پوري صاحب نصاب سو نو اختری باندي واجب دئ[1].

## که چا حیوان درلودی وروسته یې د اختري کولو نیت وکړی:

که چا حیوان درلودی وروسته ئې د اختري کولو نیت وکړ یا ئې حیوان رانیوی خو د رانیولو په وخت کي ئې د اختري کولو نیت نه وو وروسته ئې د اختري نیت وکړ نو په دې صورت کي هغه سړی که غني وي او که فقیر اختری نه دئ باندي واجب ځکه چه د رانیولو په وخت کي نیت معتبر دئ[2].

## که یو چا د بل چا له طرفه اختری وکړی:

که یو چا د بل چا له طرفه اختری وکړ نو که دغه اختری د غائب ملکیت وي بیا صحیح دئ اجازې ته ضرورت نسته او پر ذابح ضمان

---

(1) (ولایشترط ان یکون غنیا في جمیع الوقت حتی لوکان فقیرا في اول الوقت ثم ایسر في اخره تجب علیه.... ولو اشتری الموسر شاة للاضحیة فضاعت حتی انتقص نصابه وصارفقیرا فجاءت ایام النحر فلیس علیه ان یشتري شاة اخری.... فلو انه وجدها وهو معسر وذلک ایام النحر فلیس علیه ان یضحي بها لانه معسر وقت الوجوب ولو ضاعت ثم اشتری اخری وهو موسر فضحی ثم وجد الاولی وهو معسر لم یکن علیه ان یتصدق بشئ) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۱۹۶ مخ].

(2) (ولو ملک انسان شاة فنوی ان یضحي بها او اشتری شاة ولم ینو الاضحیة وقت الشراء ثم نوی بعد ذلک ان یضحي بها لاتجب علیه سواء کان غنیا او فقیرا) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۱ مخ]. (لایجب علیه سواء کان غنیا او فقیرا لان النیة لم تقارن الشراء فلاتعتبر) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۱۹۳ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم نسته، او که چيري ئې خپل حيوان د غائب له طرفه حلال کړی او د غائب ملکيت هم نه وو نو دغه اختری نه صحيح کېږي[1].

## که يو څوک د ايصال ثواب لپاره اختری وکړي:

که څوک خپله صاحب نصاب وي نو اختری باندي واجب دئ او که څوک غواړي چي د خپل مړه پلار او مور او نبي کريم ﷺ له طرفه اختری وکړي او ثواب ئې وروبخښي نو هم صحيح دئ ځکه دغه کار ثواب دئ او هر مسلمان ورور چي ئې طاقت لري نو هغه دي دغه ثواب وګټي[2].

## په حيوان کي د تېر کال د اختري نيت کول:

که يو څوک په حيوان کي د تېر کال د اختري نيت وکړي نو د ده اختری صحيح دئ او د تېر کال د اختري قيمت به خيرات کړي[3].

(1) (ولوذبح اضحية غيره عن المالک بغير امره صريحا يقع عن المالک ولاضمان على الذابح استحسانا). وايضا: (لانه لايمكن تجويز التضحية عن الغير الا باتيان الملک لذلک الغير في الشاة ولن يثبت الملک له في الشاة الا بالقبض ولم يوجد قبض الامر ههنا لابنفسه ولابنائبه كذا في الذخيرة) [هنديه: پنځم ټوک - ۳۰۲ مخ].

(2) (وختم ابن السراج عنه رضي الله عنه اكثر من عشرة آلاف ختمة وضحى عنه مثل ذلک.... قلت وقول علمائنا ان يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبي ﷺ فانه احق بذالک) [درمختار مع رد المحتار: دوهم ټوک - ۲۴۴ مخ]. (فينبغي لمن وجد سعة ان يضحي عن حبيبه ونبيه ﷺ كل عام ولو بشاة او بسبع بقرة) [اعلاء السنن: اووه لسم ټوک - ۲۶۹ مخ].

(3) (ولو ارادوا القربة الاضحية اوغيرها من القرب اجزاهم سواء كانت القربة واجبة او تطوعا او وجب علي البعض دون البعض وسواء اتفقت جهات القربة او اختلفت ...) [هنديه: پنځم ټوک - ۳۰۴ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا پر ښځه د مهر مؤجل (ځنډني) په خاطر اختری سته:

که د ښځي پر خپل خاوند تر نصاب زیات مهر باندي وي نو پر دې باندي في الحال اختری واجب نه دئ[1].

## د یوه پسه پر ځای د اوو پسو اختری کول:

که یو سړی د یوه پسه پر ځای د اوو پسو اختری وکړي نو په یوه سره ئې واجب ساقطیږي او نور نفل دي او که یو څوک یو غویی د اوومي حصې پر ځای حلال کړي نو غوایی ټوله اختری وګرځېدی[2].

## د مړي له طرفه اختری کول څو صورتونه لري:

**اول:** که مړي وصیت کړی وي چي زما د مال څخه زما له طرفه اختری وکړئ نو داختري ټولي غوښي و غریبانو او فقیرانو ته خیراتول واجب دي.

**دوهم:** مړي وصیت کړی وي یا ئې نه وي کړی خو قریبانو په خپلو پیسو نفل اختری وکړي په دې صورت کي د اختري غوښي مالدار او غریب دواړه خوړلای سي.

**دریم:** قریبانو د خپل مال څخه او په خپل نامه ئې اختری وکړي او ثواب ئې و مړدګانو ته وروبخښي نو صحیح دئ او غوښي ئې

---

(1) (واما الموجل الذي سمي بالفارسية (كابين) فالمرأة لاتعتبر موسرة بذلک بالاجماع) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۲ مخ].

(2) (و لو ضحى باكثر من واحدة فالواحدة فريضة والزيادة تطوع عند عامة العلماء... وايضا: ولو ان رجلا موسرا ضحى بدنة عن نفسه خاصة كان الكل اضحية واجبة عند عامة العلماء وعليه الفتوى) [قاضي خان: دریم ټوک – ۳۵۰ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


مالدار او غریب دواړه خوړلای سي[1].

**د اختري په ورځو کي د مړي له طرفه اختری کول:**

د اختر په ورځو کي د مړي له طرفه اختری ډېر ثواب لري د اختري د قیمت تر خیراتو لو[2].

**که د اختر د آخري ورځي تر مخه غریب مالداره سو:**

که غریب د اختر په ورځو کي د اخري ورځي ترمخه مالدار سو نو اختری پر واجب دئ[3].

**د اختر په ورځو کي شک کول:**

که د اختر په ورځو کي شک سو چي دوولسم تاریخ د ذو الحجې دئ او که دیارلسم تاریخ نو که چا تر دریمي ورځي اختری وځنډوی نو ټوله د اختري غوښې خیراتول مستحب دي[4].

**که اختری کوونکی مړ سو نو اختری یې میراث دی:**

که اختری کوونکی مړ سو نو د هغه اختری په میراث کي شمارل کېږي او وارثان که د هغه د ایصال ثواب لپاره اختری وکړي

---

(1) (ای لو ضحی عن میت وارثه بامره الزمه بالتصدق بها وعدم الاکل منها وان تبرع بها عنه له الاکل لانه یقع علی ملک الذابح والثواب للمیت) [رد المحتار: شپږم ټوک – ۳۳۵ مخ].

(2) (شراء الاضحیة بعشرة اولی من ان یتصدق بالف لان القربة التي تحصل باراقة الدم لاتحصل بالصدقة) [خلاصة الفتاوی: ځلرم ټوک – ۳۲۰ مخ].

(3) (حتی لو کان فقیرا في اول الوقت ثم ایسر في اخره تجب علیه) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۲ مخ].

(4) (واذا شک في یوم الاضحی فالمستحب ان لایوخر الي الیوم الثالث فان اخر یستحب ان لایاکل منه ویتصدق بالکل الخ) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای ئې سي[1].

**په اختري کي کوم ځای اعتبار لري؟**

په اختري کي و هغه ځای ته اعتبار دي په کوم ځای کي چي د اختري حيوان وي او و اختري کوونکي ته اعتبار نسته[2].

**که ښځه د نصاب خاونده وي نو...:**

که ښځه صاحب نصاب وه نو پر دې اختری واجب دئ پر خاوند ئې واجب نه دئ او که خاوند د هغې له طرفه اختری کوي نو د هغې اجازه ضروري ده[3].

**که د اختر په ورځ د حيوان کال پوره سي:**

که یو حیوان تېر کال د اختر په ورځ زېږېدلی وي او دغه کال د اختر په ورځ د هغه یوه کال پوره کېږي نو ښه دا دئ چي په دوهمه ورځ اختری وکړي او یا د بل حیوان تلاښ وکړي[4].

**د پیچکاری په لګولو که حیوان پیداسي نو اختری یې څنګه دی؟**

که د یو حیوان و رحم ته د نر حیوان مني د پیچکاری په ذریعه ورداخل سي او بیا حیوان پیدا سي نو د دغسي حیوان اختری کول

---

(1) (وان مات احد السبعة المشتركين في البدنة وقال الورثة اذ بحوا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانا لقصد القربة من الكل) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۶ مخ].

(2) (ثم المعتبر في ذلک مکان الاضحية) [هداية: څلرم ټوک – ۴۴۴ مخ].

(3) (وليس على الرجل ان يضحي عن اولاده الكبار وامراته الا باذنه الخ) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۳ مخ].

(4) فتاوی رحیمیه: ۹ – ۱۰ ټوکونه – ۵۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو صحیح دی مګر اختری کول ډېر عظیم عبادت دئ نو د داسي حیوان حلالول ښه دئ چي د شک او شبهې څخه پاک وي[1].

**د هوسۍ اختری کول:**

د هوسۍ اختری کول صحیح نه دئ ځکه چه هوسۍ د وحشي حیواناتو څخه ده[2].

**که یو چا حیوان غلا یا غصب کړی:**

که یو چا یو حیوان غلا یا غصب کړ او بیا ئې د ځان له طرفه اختری کړ نو اختری ئې نه صحیح کېږي ځکه چي دی ئې مالک نه دئ او د حیوان د مالک له طرفه هم اختری صحیح نه دئ ځکه چه د هغه اجازه نسته او که دغه حلال سوی حیوان مالک بیرته واخلي بیا هم د دواړو اختری صحیح نه دي بلکي هر یو به جلا جلا اختری کوي[3].

**په حرام مال کي اختری نسته:**

په حرام مال کي اختری نسته بلکي هغه ټول مال خیراتول واجب دي[4].

---

(1) فتاوی رحیمیه: ۹ – ۱۰ ټوکونه – ۵۱ مخ.

(2) (ولایجوز في الاضاحي شئ من الوحشی) وایضا وان ضحي بظبیة وحشیة انست وببقرة وحشیة انست لم تجز) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(3) (قال في البدائع غصب شاة فضحي بها عن نفسه لاتجزئه لعدم الملک ولا عن صاحبها لعدم الاذن ثم ان اخذها صاحبها مذبوحة وضمنه النقصان فکذالک لا تجوز عنهما وعلی کل ان یضحی باخری) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۳۱ مخ].

(4) (لو کان الخبیث نصابا لایلزمه الزکوة لان الکل واجب التصدق علیه فلا یفید ایجاب التصدق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اختري حيوانان شرعاً ټاکل سوي دي:**

د اختري حيوان شرعاً ټاکل سوی دئ (غوا، غويی، ګامېښه، اوښ، اوښه، سېرلی، بزه، پسه او مېږه) د دغو حيواناتو ماسوا د بل حيوان اختری نه سي کېدلای که څه هم ډېر قيمتي وي او په خوړلو کي ډېر مرغوب وي(1).

**د کوم حيوان اختری ښه دی؟**

کوم حيوان چي د يوه له طرفه وي او شرکت پکښې نه وي د هغه اختری افضل دئ په دې شرط چي د هغه غوښي او قيمت د شراکت تر حيوان کم نه وي او که داسي نه وه نو بيا اوومه حصه افضله ده او که په پسه او سېرلي کښي دواړه خصيان وه نو تر مېږي او بُزې ښه دي او که خصيان نه وه بيا مېږه او بُزه ښه دي مګر اختری د هر يوه صحيح کېږي(2).

**که پيسې د دوو پسو وي نو يو پسه په رانيول ښه دي که دوه؟**

که د يو چا سره دومره پيسې وې چي په هغه دوه مناسب پسونه رانيول کېدلای سوای نو دا ښه دئ تر هغه چي په داغه پيسو يو چاغ

---

ببعضه ومثله في البزازية) [ردالمحتار: دوهم ټوک – ۲۹۱ مخ].

(1) (واما جنسه فهو ان يكون من الاجناس الثلاثة الغنم اوالابل او البقر ويدخل في كل جنسه نوعه والذكر والانثى والخصى والفحل لاطلاق اسم الجنس على ذلک والمعز نوع من الغنم والجاموس نوع من البقر ولايجوز في الاضاحي شئ من الوحشي...) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(2) (الشاة افضل من سبع البقرة اذ استويا في القيمة واللحم والكبش افضل من النعجة اذا استويا فيهما والانثى من المعز افضل من التيس اذا استويا قيمة والانثى من الابل والبقر افضل حاوي وفي الوهبانية ان الانثى من المعز افضل من الذكر اذا استويا قيمة) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


پسه رانیول سي ځکه چي په اول صورت کي دوه عبادته یو واجب بل نفل ادا کېدلای سي او په دوهم صورت کي یوازي واجب ادا کېدلای سي(1).

**د نر حیوان اختری ښه دی او که د ماده حیوان؟**

که د نر او ماده حیوان قیمت او غوښي سره برابري وي نو د ماده حیوان اختری افضل دئ(2).

**که یو حیوان ګران او بل حیوان ارزانه وي نو...:**

کوم حیوان چي په قیمت کي پورته وي د هغه اختری افضل دئ تر هغه حیوان چي قیمت ئې کم یعني ارزانه وي خو دواړه صحیح کېږي(3).

**که نر هوسی د بزې سره جماع وکړي او حیوان پیداسي:**

که نر هوسی د بُزې سره جماع وکړه او حیوان ځني پیدا سو نو د هغه اختری صحیح دئ ځکه چي هغه د مور حکم لري او مور ئې بُزه ده(4).

(1) (وشراء شاتين بثلاثين افضل من شراء شاة بثلاثين) [بزازية: شپږم ټوک – ۲۹۰ مخ]. (غني ضحي شاتين كانت الزيادة على الواحدة تطوعا عند عامة العلماء) [قاضي خان: دريم ټوک – ۳۴۹ مخ].

(2) (والانثى من المعز افضل من التيس اذا استويا قيمة والانثى من الابل والبقر افضل) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۲ مخ].

(3) (سبعة من الرجال اشتروا بقرة بخمسين درهماً للاضحية وسبعة آخرون اشتروا سبع شياه بماة درهم تكلموا ان الافضل هو الاول اوالثاني والمختار ان الافضل هو الثاني كذا في الفتاوى الكبرى) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۹ مخ].

(4) (ولو نزا ظبي علي شاة قال عامة المشائخ يجوز) [حاشية الشيخ الشلبى على تبيين الحقائق:

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د چرګ او چرګي اختری کول:**

د چرګي او چرګ اختری کول د فقیر لپاره مکروه دي او د غني لپاره صحت نه لري(1).

**غني سړي حیوان رانیوی خو اتفاقاً حمل داره سو:**

غني سړي یو حیوان رانیوی خو اتفاقاً هغه حمل دار سو یا هغه د کور لپاره راوګرځوي او دوهم حیوان ئې رانیوی خو په قیمت کي تر اول یو څه کم وو نو په دې صورت کي به زیاتي پیسې خیراتوي(2).

**پر مسافر باندي اختری نسته که څه هم قدرت لري:**

کوم سړی چي په خپل ځای او کور کي صاحب نصاب وي او د سفر په حالت کي پر اختري کولو قدرت ولري یا د قدرت په وخت کي د مال پر راغوبنتلو قدرت ولري نو پر داسي مسافر بیا هم اختری واجب نه دئ ځکه چه د اختري د شرطونو څخه یو شرط دا دئ چي سړی مالداره او مقیم وي(3).

**که چا اختري ونه کړ نو قیمت ئې خیراتولای سي که یا؟**

که پر یو چا باندي اختری واجب وو خو د اختري کولو په ورځو

---

شپږم ټوک – ۴۸۳ مخ]. (والمتولد بین الاهلي والوحشي یتبع الام) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۲ مخ].

(1) (والتضحیة بالدیک والدجاجة في ایام الاضحیة ممن لااضحیة علیه لاعساره تشبیها بالمضحین مکروه لانه من رسوم المجوس) [هندیه: پنځم ټوک – ۳۰۰مخ].

(2) (وان ضحي بالثانیة وقیمتها اقل تصدق بالزائد) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۶ مخ].

(3) (الاضحیة واجبة علی کل حر مسلم مقیم موسر الخ ولیس علي الفقیر والمسافر اضحیة) [القدوري: ۲۰۰ – ۲۰۱ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library


کي ئې د خپلي سستۍ له وجهي اختری ونه کړ نو د اختر د ورځو څخه وروسته د هغه قیمت خیراتولای سي(1).

**د خلګو له طرفه اختری کول خو حیوان نه معلومول:**

که دوه یا درې کسان داسي وکړي چي مالونه ئې یو ځای جمع وي خو خوراک او څښاک ئې سره جلا وي او په ګډه اختری وکړي مګر حصه معلومه نه کړي یا ئې دوې حصې کړي او یا ئې د کسانو مطابق دري څلور حصې کړي نو دغسي اختری کول صحیح کېږي خو ښه دا دئ چي پر هر حیوان باندي د یو چا نوم ولګول سي(2).

**که څوک د اختر په ورځ مسافر سي اختری وکړي بیرته په اوله یا دوهمه ورځ راسي:**

که یو څوک د اختر په ورځ مسافر سي یا د اختر ترمخه مسافر سي او هلته خپل اختری وکړي او بیرته د اختر په اوله ورځ یا دوهمه ورځ یا دریمه ورځ د لمر لوېدو ترمخه مقیم سي نو پر ده باندي دوهم ځل اختری کول واجب نه دي(3).

---

(1) (وتصدق بقیمتها غني شراها اولا لتعلقها بذمته بشرائها اولا فالمراد بالقیمة قیمة شاة تجزي فیها) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(2) (وفي الاضاحي للزعفراني اشترى سبعة نفر سبع شیاه بینهم ولم یسم لکل واحد منهم شاة بعینها فضحوا بها الخ) [هندیه: پنځم ټوک – ۳۰۶ مخ، کذا في امداد الفتاوی: دریم ټوک – ۵۶۲ مخ].

(3) (قوله والاقامة فالمسافر لاتجب علیه وان تطوع بها اجزاته عنها الخ)، (و ایضاً قوله الي اخر ایامه ولو ضحی الفقیر ثم ایسر في اخره علیه الاعادة في الصحیح لانه تبین ان الاولی تطوع بدائع ملخصا لکن في البزازیة وغیرها ان المتاخرین قالوا لاتلزمه الاعادة وبه ناخذ) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۲ – ۳۱۶].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که کورنی غویی د وحشي غوا سره جماع وکړه او حیوان پیداسو:**

که کورنی غویی د وحشي غوا سره جماع وکړه او حیوان پیدا سو نو د داسي حیوان اختری نه صحیح کېږي ځکه چي پیدا سوی حیوان د مور تابع دئ او مور ئې وحشي ده او د دې برعکس صحیح دئ (یعني وحشي غویی د کورنۍ غوا سره جماع وکړه)(1).

## که یو چا حیوان د اختري لپاره رانیوی وروسته ئې خرڅ کړ او د اختر په ورځو کي ئې بل رانیوی، دغه مسئله درې صورتونه لري:

**اول صورت:** حیوان ئې د اختري په نیت رانیوی.

**دوهم صورت:** حیوان ئې د اختري په نیت نه رانیوی خو وروسته ئې د اختر نیت وکړ.

**دریم صورت:** حیوان ئې د اختري په نیت نه رانیوی خو وروسته ئې په ژبه دا الفاظ وویل چي پر ما دغه کال د الله لپاره اختری کول لازم دئ. اوس نو په اول صورت کي تر څو چي ده په ژبه الفاظ نه وي ویلي دغه حیوان اختری نه سي جوړېدلای او په دوهم صورت کي هم دغه حیوان اختری نه سي جوړېدلای، او په دریم صورت کي دغه حیوان اختری جوړېدلای سي(2).

(1) (فلو نزا ثور وحشي علی بقرة اهلیة فولدت ولدا یضحي به دون العکس لانه ینفصل عن الام الخ) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۲ مخ].

(2) (ولو اشتری شاة للاضحیة ثم باعها واشتری اخری في ایام النحر فهذا علی وجوه ثلاثة (الاول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**که په دوو غوایانو کي څوارلس کسان شریکان سي:**

که چیري په دوو غوایانو کي څوارلس کسان د اسي شریکان سي چي نه د هر یوه حصه په غوایي کي معلومه سي او نه دا وویل سي چي دغه غویی د دغو اوو نفرو دئ، بلکي داسي وویل سي چي دغه دوه غوایان د دغه څوارلسو کسانو مشترک اختریان دي نو قیاساً دغه صورت جائز نه دئ البته استحساناً بیا جائز دئ[1].

**د اختري حیوان بدلول:**

که یو چا د اختري په نیت حیوان رانیوی وروسته ئې د بل حیوان سره بدلوي نو دغه دوهم حیوان به د اول حیوان په قیمت رانیسي او که چیري ئې دوهم حیوان د اول حیوان تر قیمت کم رانیوی نو په قیمت کي چي څومره فرق وي هغه زیات به خیراتوي[2].

**پر حاجي اختری نسته:**

پر حاجي باندي چي د حج لپاره تللی وي اختری واجب نه دئ او

---

اذا اشتری شاة ینوي بها الاضحیة (والثاني) ان یشتري بغیر نیة الاضحیة ثم نوی الاضحیة (والثالث) ان یشتري بغیر نیة الاضحیة ثم یوجب بلسانه ان یضحي بها فیقول لله علي ان اضحي بها عامنا هذا ففي الوجه الاول في ظاهر الروایة لاتصیر اضحیة ما لم یوجبها بلسانه ... واما الثاني ... و روی الحسن عن ابي حنیفة رحمه الله تعالی انها لاتصیر اضحیة حتی لو باعها یجوز بیعها وبه ناخذ.... الوجه الثالث تصیر اضحیة في قولهم جمیعا کذا في فتاوی قاضیخان) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۴ مخ].

(1) امداد الاحکام: څلرم ټوک – ۲۷۳ مخ.

(2) رجل اشتری شاة للاضحیة واو جبها بلسانه ثم اشتری اخری جاز له بیع الاولی فی قول ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی وان کانت الثانیة شرا من الاولی وذبح الثانیة فانه یتصدق بفضل ما بین القیمتین ... [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۴ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


که حاجي په خپله خوښه اختری وکي نو ثواب لري[1].

**که په یو ځای کي د اختري لپاره هیڅ حیوان نه پیداکېدی:**

که په یو ملک یا علاقه کي جنګ یا فساد سو، طوفان یا سېلاب راغلی او د اختري لپاره نه کوچنی او نه غټ حیوان پیدا کېدی نو په دې صورت کي به که حیوان وي او که حصه وي قیمت دي خیرات کړي[2].

(1) و ذکر فی الاصل وقال و لا تجب الاضحیة علی الحاج واراد با لحاج المسافر [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۱۹۵ مخ].

(2) قوله وتصدق بقیمتها غنی شراها اولاً تعقبه الشیخ شاهین بان وجوب التصدق بالقیمة مقید بما اذا لم یشتر [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل

### د کوم حیوان اختری صحیح او د کوم حیوان اختری صحیح نه دئ؟

### د خصي حیوان اختری کول:

د خصي حیوان اختری کول صحیح بلکي لازیات فضیلت لري ځکه چي د نبي کریم ﷺ څخه دغسي اختری کول ثابت دی[1].

### د مخنث حیوان اختری کول:

د مخنث (نر ښځي) حیوان اختری کول صحیح نه دي[2].

### د وچ حیوان اختری کول:

وچ حیوان پر دوه قسمه دئ یو هغه چي د شروع څخه ئې بل حیوان نه وي زېږولی، دوهم هغه چي یو وار خو بل حیوان وزېږوي خو د دوهم وار لپاره ئې ونه زېږوي، د دغه دواړو قسمو وچ حیوان اختری صحیح دئ[3].

### د کوم حیوان چي ښکر مات یا ئې یو خول نه وي:

د کوم حیوان چي پیدائشي ښکرونه مات وي د هغه اختری صحیح دئ او یا ئې ښکرونه په بېخ کي مات وي مګر هغه هډوکي چي په هغه کي ماغزه وي هغه هم مات وي بیا نو د داسي حیوان

(1) (عن جابر ﵁ قال ذبح النبی ﷺ یوم الذبح کبشین اقرنین املحین موجوئین) (خصیین) [مشکوة: اول ټوک – ۱۲۸ مخ]. (قوله والخصي لانه اطیب لحما من غیر الخصي قال ابو حنیفة ما زاد في لحمه انفع مما ذهب من خصیتیه) [الجوهرة النیرة: دوهم ټوک – ۲۷۰ مخ].

(2) (لاتجوز ا لتضحیة بالشاة الخنثی) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۹ مخ].

(3) امداد الفتاوی: دریم ټوک – ۵۵۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختری صحیح نه دئ او که هغه هډوکي مات نه وه بیا ئې اختری صحیح دئ[1].

**که دغوا یا اوښي یو تی نه وو:**

که دغوا یا اوښي یو تی نه وو نو اختری ئې صحیح دئ او که دوا ړه تیان ئې نه وه نو اختریٔ ئې صحیح نه دئ[2].

او که د مېږي یا بُزې پیدائشي د یوه تي سر نه وو او یا په یو آفت سره له منځه تللی وو او یو پاته سوی وو بیا ئې اختری صحیح نه دئ[3].

**هغه حیوان چي لېونی وي:**

که یو حیوان داسي لېونی وو چي د هغه لېونتوب مانع د څر وهلو او وښو خوړلو څخه وو نو اختری کول ئې صحیح نه دئ او که مانع نه وو بیا ئې اختری صحیح دئ[4].

---

(1) (قوله ویضحي بالجماء هي التي لاقرن لها خلقة وکذا العظماء التي ذهب بعض قرنها بالکسر او غیره فان بلغ الکسر الي المخ لم یجز قهستاني وفي البدائع ان بلغ الکسر المشاش لایجزي والمشاش رؤوس العظام مثل الرکبتین و المرفقین) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۵ مخ].

(2) (وفي الابل والبقران ذهبت واحدة یجوز او اثنتان لا) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(3) (وفي الشاة والمعز اذا لم یکن لهما احدی حلمتیها خلقة او ذهبت بافة وبقیت واحدة لم یجز) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۹ مخ].

(4) (ویضحي.... والثولاء اي المجنونة اذا لم یمنعها من السوم والرعي وان منعها لاتجوز التضحیة بها) [درمختار: نهم ټوک – ۵۳۵].

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هغه حیوان چي ړوند وي:

د ړانده حیوان اختری صحیح نه دئ[1].

## هغه حیوان چي په هډوکو کي ماغزه نه لري یا ګوډ وي:

هغه حیوان چي په هډوکي کي ماغزه نه لري اختری ئې صحیح نه دئ او هغه ګوډ حیوان چي په خپله مذبح (د حلالیدو ځای) ته نه سي تللای یعني په درو پښو وي اختری ئې صحیح نه دئ البته که څلورمه پښه ئې درلوده پر مځکه ئې لګولای سوای بیا ئې اختری صحیح دئ[2].

## هغه حیوان چي غوږ یا لکۍ ئې پرې وي:

هغه حیوان چي د غوږ او لکۍ ډېره حصه ئې پرې وي او یا ئې د سترګو د ډېري حصې نور (دید) نه لري نو اختری ئې صحیح نه دئ، او د ډېروالي په اندازه کي تفصیل دئ خو صحیح قول دا دئ چي غوږ یا لکۍ ئې تر دریمي حصې زیات نه وي[3].

---

(1) (لا بالعمیاء والعوراء الخ) [درمختار: نهم ټوک – ۵۳۵ مخ].

(2) (والعجفاء المهزولة التي لامخ في عظامها والعرجاء التي لاتمشي الي المنسک اي المذبح الخ اي التي لایمکنهاالمشي برجلها العرجاء انما تمشي بثلاث قوائم حتی لوکانت تضع الرابعة علی الارض وتستعین بها جاز) [درمختارمع رد المحتار: نهم ټوک – ۵۳۵ – ۵۳۶ مخونه، کذا في الهندیه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(3) (ومقطوع اکثر الاذن او الذنب الخ ، روي محمد عنه في الاصل والجامع الصغیر ان المانع ذهاب اکثر من الثلث الخ والاولی هي ظاهر الروایة وصححها في الخانیة حیث قال والصحیح ان الثلث و مادونه قلیل وما زاد علیه کثیر وعلیه الفتوی) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۶ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه حیوان چې لم ئې پرې وي:**

هغه حیوان چې د لم ډېره حصه (تر دريمې حصې زيات) ئې نه وي اختری ئې صحيح نه دئ(1).

**هغه حیوان چې غاښونه نه لري:**

د هغه حيوان اختری چې غاښونه نه لري اختری ئې صحيح نه دئ او که ئې بيا درلوده نو اکثره (تر دريمې حصې زيات) غاښونه به ئې وي بيا ئې اختری صحيح دئ(2).

**هغه حیوان چې پيدائشي غوږونه نه لري:**

هغه حيوان چې خلقة غوږونه نه لري اخترئ ئې صحيح نه دئ او که چيري ئې درلودل خو کوچني وه بيا ئې اختری صحيح دئ(3).

**هغه حیوان چې يو غوږ نه لري:**

د کوم حيوان چې پوره يو غوږ نه وي يا ئې پيدائشي يو غوږ وي نو اختری ئې صحيح نه دئ(4).

---

(1) (او اكثر الالية لان للاكثر حكم الكل بقاء و ذهابا فيكفي بقاء الاكثر و عليه الفتوى) [درمختار: نهم ټوک – ۵۳۷ مخ].

(2) (وايضا ولا بالهتماء التي لا اسنان لها ويكفي بقاء الاكثر وقال قبله والتي لا اسنان لها وهي تعتلف او لاتعتلف لاتجوز) [درمختار: نهم ټوک ۵۳۷ مخ].

(3) (والتي لا اذن لها في الخلقة وتجزي السكاء وهي صغيرة الاذن) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ، كذا في الشامية: نهم ټوک – ۵۳۷ مخ].

(4) (فلاتجوز مقطوعة احدى الاذنين بكمالها والتي لها اذن واحدة خلقة) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



### هغه حيوان چي د تيانو سرونه ئې پرې وي:

د هغه حيوان اختری چي د تيانو سرونه ئې پرې وي يا وچ وي صحيح نه دئ[1].

### هغه حيوان چي پزه ئې پرې وي:

د هغه حيوان اختری چي پزه ئې پرې وي صحيح نه دئ[2].

### هغه حيوان چي په علاج کولو ئې شيدې بندي سوي وي:

د هغه حيوان اختری چي علاج ئې سوی وي بيا ئې شيدې بندي سوي وي يعني خپل بچي ته ئې نه سي ورکولای صحيح نه دئ[3].

### هغه حيوان چي پيدائشي لم نلري:

هغه حيوان چي خلقة نه لم لري او نه غوږونه اخترئ ئې صحيح نه دئ[4].

### هغه حيوان چي يوازي مرداري خوري:

هغه حيوان چي صرف مرداري خوري او بل شی نه خوري اختری ئې نه صحيح کيږي البته که اوښ وو نو څلوېښت ورځي دي وتړل سي تر څو غوښه ئې ښه سي او که غويی وو نو شل ورځي او که پسه وو نو لس ورځي دي وتړل سي بيا دي ئې ا ختری وسي او که چيري

---

(1) (والجذاء مقطوعة رؤوس ضرعها او يابستها) [درمختار: نهم ټوک – ۵۳۷ مخ].

(2) (ولا الجدعاء مقطوعة الانف الخ) [درمختار: نهم ټوک – ۵۳۷ مخ].

(3) (ولاالمصرمة اطباؤها وهي التي عولجت حتي انقطع لبنها) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۷ مخ].
(ولاالمصرمة وهي التي لاتستطيع ان ترضع فصيلها) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۳ مخ].

(4) (وان لم يكن له الية ولا اذن خلقة لايجوز) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئي ګډوډ خوراک کوي بیا ئې اختری صحیح دئ[1].

**هغه حیوان چي غوږونه ئې په اوږدو څیري وي:**

هغه حیوان چي غوږونه ئې طولاً (په اوږدو) څیري وي اختری ئې صحیح دئ[2].

**هغه حیوان چي غوږونه ئې سوري وي:**

هغه حیوان چي غوږونه ئې سوري وي اختری ئې صحیح دئ[3].

**هغه حیوان چي غوږونه ئې دشا یا د مخ له خوا پرې وي:**

هغه حیوان چي غوږونه ئې د مخ د خوا یا د شا له خوا پرې وي خو ځړېږي اخترئ ئې صحیح کېږي[4].

**هغه حیوان چي چپک وي:**

هغه حیوان چي په سترګو کي ئې کوږ واله وي (چپک وي) اختری ئې صحیح کېږي[5].

**هغه حیوان چي سکوستی وي:**

هغه حیوان چي سکوستی وي یعني د بدن وریښتان ئې ورپرې

---

(1) (ولاالجلالة التي تاکل العذرة ولاتاکل غیرها قال في الخانیة فان کانت ابلا تمسک اربعین یوما حتي یطیب لحمها والبقر عشرین والغنم عشرة ، قوله ولاتاکل غیرها افاد انها اذا کانت تخلط تجزي) [درمختار مع ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(2) (وفي البدائع و تجزي الشرقاء مشقوقة الاذن طولا) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(3) (والخرقاء مثقوبة الاذن) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(4) (والمقابلة ماقطع من مقدم اذنها شئ وترک معلقا والمدابرة مافعل ذلک بموخر الاذن من الشاة) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(5) (وتجوز الحولاء مافي عینها حول) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وي اختری ئې صحیح کېږي خو مکروه دئ(1).

**هغه حیوان چي سالم وي:**

د اختري حیوان چونکه د خدای ﷻ په حضور کي پیشېږي ځکه باید ډېر ښه چاغ، تازه، صحیح، سالم او د هر ډول عیبو څخه پاک وي. د حضرت علي کرم الله وجهه ارشاد دئ چي نبي کریم ﷺ و موږ ته دا حکم وکړ چي د اختري د حیوان سترګي ښه وګورئ او د داسي حیوان اختری مه کوئ چي د هغه د غوږ د مخ یا شا طرف پرې وي او د داسي حیوان اختری مه کوئ چي د هغه غوږ څیري وي او یا ئې په غوږ کي سوری وي(2).

**د څلور قسمه حیواناتو اختری صحیح ندی:**

د حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه روایت دئ چه نبي کریم ﷺ د څلورو قسمونو حیواناتو د اختري کولو څخه منع کړېده:

**اول: العرجاء بین ظلعها:** هغه ګوډ حیوان چي ګوډوالی ئې ښکاره وي.

**دوهم: والعوراء بین عورها:** هغه کوڼ حیوان چي کوڼوالی ئې ښکاره وي.

**دریم: ولا بالمریضة بین مرضها:** هغه مریض حیوان چه مرض ئې ښکاره وي.

---

(1) (والمجزوزة التي جزصوفها ، خانیة وقدمنا ان ماجوز هنا جو زمع الکراهة لانه خلاف المستحب) [ردالمحتار: نهم ټوک – ۵۳۸مخ].

(2) (عن علي قال امر نا رسول الله ﷺ ان نستشرف العین والاذن وان لانضحي بمقابلة ولامدابرة ولاشرقاء ولاخرقاء) [الترمذي: اول ټوک – ۴۰۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم: ولاالعجفاء التي لاتنقي:** هغه ډنګر حیوان چي په هډوکو کي ئې طاقت او ماغزه نه وي[1].

فقهاء کرامو د دغو احادیثو په تشریح کي فرمایلي دي چي کوم حیوان بالکل ړوند وي او یا بالکل کوڼ وي یا د یوې سترګي د دریمي حصې زیاته روښنایي ئې تللې وي یا د پوره غوږ د دریمي حصې زیاته حصه ئې پرې سوې وي یا ئې لکۍ پرې سوې وي او یا ئې د لکۍ د دریمي حصې زیاته پرې سوې وي یا دومره ډنګر او کمزوری حیوان وي چي په هډوکو کي ئې بالکل ماغزه پاته سوي نه وي د هغه اختری کول جائز نه دي که ییا حیوان ډېر ډنګر نه وي نو د هغه اختری کول جواز لري[2].

**هغه حیوان چي پر درو پښو تللای سي:**

کوم حیوان چي پر درو پښو تللای سي او څلرمه پښه ئې نه وي او یا څلرمه پښه ایښولای خو سي مګر پر تللای نه سي یعني د تګ

---

(1) الترمذي: اول ټوک – ۴۰۸ مخ.

(2) (ولاتجوز العمیاء والعوراء البین عورها والعرجاء البین عرجها وهي التي لاتقدر ان تمشي برجلها الي المنسک والمریضة البین مرضها و مقطوعة الاذنین والالیة والذنب بالکلیة والتي لا اذن لها في الخلقة.... ولوذهب بعض هذه الاعضاء دون بعض من الاذن والالیة والذنب والعین ذکر في الجامع الصغیر انکان الذاهب کثیرا یمنع جواز التضحیة وان کان یسیرا لایمنع واختلف اصحابنا بین القلیل والکثیر فعن ابي حنیفة رحمه الله تعالی.... اربع روایات وروي محمد رحمة الله علیه في الاصل وفي الجامع انه اذا کان ذهب الثلث او اقل جاز وان کان اکثر لایجوز والصحیح ان الثلث وما دونه قلیل وما زاد علیه کثیر وعلیه الفتوی کذا في فتاوی قاضیخان.... ولاتجزي العجفاء التي لاتنقی.... فان کانت مهزولة فیها بعض الشحم جاز یروي ذلک عن محمد رحمه الله تعالی) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۷ – ۲۹۸ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library


په وخت کي کومک نه سي ورکولای نو د هغه اختری کول جائز نه دئ او که پر ځلورو پښو باندي تللای سي مګر په پښه کي ئې لږ ګوډوالی وي د هغه اختری کول هم جائز دي(1).

**هغه حیوان چي پیدائشي ښکرونه نه لري خو عمر ئې د اختري و عمر ته رسېدلی وي:**

د کوم حیوان چي پیدائشي ښکرونه نه وي مګر عمر ئې د اختري د حیوان و عمر ته رسېدلی وي نو د هغه اختری کول صحیح دي او که ئې ښکرونه راوتلي وي خو یو یا دواړه یو څه مات سوي وي نو د هغه اختری هم کېدلای سي مګر که په بېخ کي ئې ښکرونه مات سوي وي او ماغزه ئې ختم سوي وي نو د هغه اختری صحیح نه دئ(2).

**هغه حیوان چي د مور تر حلالېدلو وروسته ژوندی پیدا سي:**

که د مؤنث (ماده) حیوان اختری وسو او د هغه په نس کي اولاد وو اختری صحیح دئ او که اولاد ژوندی وو نو هغه دي هم حلال کړي(3).

---

(1) (والعرجاء التي لاتمشي الی المنسک (قوله والعرجاء) اي التي لایمکنها المشي برجلها العرجاء انما تمشي بثلاث قوائم حتی لو کانت تضع الرابعةعلی الارض وتستعین بها جاز عنایة) [درمختار مع رد المحتار: شپږم ټوک – ۳۲۳ مخ].

(2) (ویجوز الجماء التي لاقرن لها وکذا مکسورة القرن کذا في الکافي وان بلغ الکسر المشاش لایجزیه والمشاش رؤوس العظام مثل الرکبتین والمرفقتین کذا في البدائع). [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(3) (في اضاحي الزعفراني فان ولدت ولدا ذبحها وولدها معها) [هندیه: پنځم ټوک – ۳۰۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه حيوان چي سالم رانيول سي او وروسته عيب پکښې پيدا سي:**

که د اختري حيوان رانيول سو او بيا په هغه کي داسي عيب پيدا سو چي د هغه د وجهي څخه اختری صحيح کېدلای نه سو ای نو که غني وو د هغه په بدله کي دي بل حيوان رانيسي اختری دي ئې وکړي او که غريب سړی وو اختری باندي واجب نه وو نو د داغه حيوان اختری دي وکړي(1).

**هغه حيوان چي چاغ وي:**

چاغوالی په اختري کي عيب نه دئ بلکي ښه وصف دئ نو که داسي يو چاغ پسه وي چي په قيمت او غوښو کي د غوا سره برابر وي اختری ئې افضل دئ(2).

**هغه حيوان چي تيان ئې په آفت سره ضائع سي:**

که چيري د غوا، ګامېښي، يا اوښي دوه تيان په يو آفت سره ضائع سوه يا پيدائشي دواړه نه وه نو اختری ئې صحيح نه دئ(3).

---

(1) (ثم كل عيب يمنع الاضحية ففي حق الموسر يستوي ان يشتريها كذلک او يشتريها وهي سليمة فصارت معيبة بذلک العيب لاتجوز على كل حال وفي حق المعسر تجوز علي كل حال كذا في المحيط) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۹ مخ]. (ولو اشتراها سليمة ثم تعيبت بعيب مانع عن التضحية كان عليه ان يقيم غيره مقامها ان كان غنيا وان كان فقيرا يجزئه ذلک) [تبيين الحقائق: شپږم ټوک – ۴۸۲ مخ، كذا في مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۳ مخ].

(2) (وكان الاستاذ يقول بان الشاة العظيمة السمينة تساوي البقرة قيمة ولحما افضل من البقرة لان جميع الشاة تقع فرضا بلاخلاف) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(3) (وفي الشاة والمعز اذا لم تكن لهما احدى حلمتيها خلقة او ذهبت بافة وبقيت واحدة لم تجز وفي الابل والبقر ان ذهبت واحدة تجوز وان ذهبت اثنتان لاتجوز كذا في الخلاصة) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۸ – ۲۹۹ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library



### هغه حیوان چې وطي ورسره سوي وي:

که د اختري د حیوان سره وطي سوي وي او هغه د خپل مالک په ملک کي وو او دی صاحب نصاب وو نو هغه دي حلال کړي او غوښه دي ئې وسوځي یا دي ئې په مځکه کي ښخه کړي او د اختري لپاره دي بل حیوان رانیسي[1].

### هغه حیوان چې پر مځکه باندي تر پرې ایستلو وروسته عیب پکښي پیدا سي:

که د حلالیدلو په وخت کي ئې حیوان پر مځکه پرې ایستی او په دې وخت کي عیب پیدا سو مثلاً پښه ئې ماته سوه یا سترګه ئې ړنده سوه نو اختری ئې صحیح دئ[2].

### هغه حیوان چې د اختر تر لمانځه دمخه ناجوړه سي:

که چیري د اختر تر لمانځه دمخه حیوان داسي ناجوړه سو چې د ژوند نه وو نو که حلال سي بیا به بل حیوان رانیسي چې د اختر تر لمانځه وروسته ئې اختری وکړي[3].

### هغه حیوان چې د بل چا واښه خوري:

که چا خپل حیوان ته د بل چا واښه بې له اجازې ورکول نو حرام

---

(1) (ثم ان کانت البهیمة ملک الواطي قیل انها تذبح ولاتوکل ولارواية فیه عن اصحابنا لکن روي محمد رحمة الله علیه عن سید نا عمر رضي الله عنه انه لم یحد واطئ البهیمة وامر بالبهیمة حتي احرقت بالنار) [بدائع الصنائع: پنځم ټوک – ۴۸۸ مخ].

(2) (ولایضر تعیبها من اضطرابها عند الذبح) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(3) (عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم النحر من کان ذبح قبل الصلوة فلیعد...). [سنن النسائي: دوهم ټوک – ۲۰۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار کوي خو اختری ئې صحيح دئ[1].

**هغه حيوان چي د خنزير په شيدو لوی سوی وي:**

که يو حيوان د خنزير په شيدو لوی سوی وي او بيا يو څه وخت پاک خوراک ورکول کېږي نو اختری ئې صحيح دئ[2].

**هغه حيوان چي د سپي شيدې ئې رودلي وي:**

که يو حيوان د سپي شيدې څو واره رودلي وې نو اختریٔ ئې صحيح دئ[3].

**هغه حيوان چي داغ سوی وي:**

که حيوان داغ سوی وي نو اختری ئې صحيح دئ[4].

**هغه حيوان چي حمل داره وي:**

د حامله حيوان اختری خو صحيح دئ مګر په دې کي د بل حيوان ضياع هم ده لهذا د کراهت څخه ئې اختری خالي نه دئ[5].

**هغه حيوان چي جماع نه سي کولای:**

داسي حيوان چي د جماع کولو څخه عاجز وي (آله ئې پرې وي)

---

(1) (لان لحمه لايتغير وماغذی به يصير مستهلکا لايبقي له اثر) [قاضيخان: دريم ټوک – ۳۵۹ مخ].

(2) (کما حل اکل جدي غذي بلبن خنزيرلان لحمه لايتغير وما غذي به يصير مستهلکا لايبقی له اثر) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۴۱ مخ].

(3) (ولو اکلت النجاسة وغيرها بحيث لم ينتن لحمها حلت) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۴۰ مخ].

(4) (والتي بها کي والتي لاينزلها لبن من غير علة والتي لها ولد يجوز) [خلاصة الفتاوی: څلرم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(5) (وفی النوازل رجل له شاة حامل فاراد ذبحها ان تقارب الولادة يکره لانه فيه تضييعا لما في بطنها من غير فائدة) [کفايه شرح الهدايه مع فتح القدير: نهم ټوک – ۱۴۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختری ئې صحیح دئ[1].

**هغه حیوان چي ناجوړه وي:**

داسي حیوان چي د زکام (ټوخي) ناجوړي ورپېښه وي اختری ئې صحیح کېږي[2].

**هغه حیوان چي د ډېر عمر وي:**

داسي حیوان چه عمر ئې ډېر وي او د عمر د ډېروالي د وجهي ئې اولاد هم نه کېږي اختری ئې صحیح کېږي[3].

**هغه حیوان چي ژبه نه لري:**

په کوچنیو حیواناتو کي مثلاً پسه، بُزه او نور ... که کوم حیوان ژبه ونه لري نو اختری ئې صحیح کېږي ځکه هغوی په غاښو سره خوراک کوي او په غټو حیواناتو کي مثلاً غوا، اوښ او نور... که کوم حیوان ژبه ونه لري نو اختری ئې نه صحیح کېږي ځکه چي هغوی په ژبه سره خوراک کوي[4].

**هغه حیوان چي ښځي تی ور کړي وي:**

که پسه یا بُزې ته ښځي خپلي شیدې یعني تی ورکړی وي او هغه د یوه کال سوی وي نو اختری ئې صحیح دئ[5].

---

(1) (تجوز التضحیة بالمجبوب العاجز عن الجماع الخ) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(2) (والتي بها سعال) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(3) (والعاجزة عن الولادة لکبر سنها) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(4) (والتي لالسان لها في الغنم خلاصة اي لاالبقر لانه یاخذ العلفة باللسان والشاة بالسن کما في القهستاني عن المنیة) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۵ مخ].

(5) (لان لحمه لایتغیر وما غذي به یصیر مستهلکا لایبقی له اثر) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۴۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم فصل

## د اختري د حیوان عمرونه

### د اختري حیوان باید څو کلن وي؟

د غوا ،غویي، ګامیښي عمر باید کم از کم دوه کاله وي او د اوښ، اوښي عمر باید کم از کم پنځه کاله وي او د نورو حیواناتو عمر باید کم از کم یو کال وي مګر که پسه یا مېږه تر کال کمه وه خو دومره چاغه وه چي که د یوه کال د حیواناتو سره پرېښودل سي نو فرق ئې ونه سي بیا نو د هغه اختری صحیح دئ په دې شرط چي تر شپږو میاشتو به کم نه وي(1).

### پسه او مېږه به د یوه کال وي:

په پسه او مېږه کي ښه دا دئ چي پوره د یوه کال وي(2).

### سېرلی او بزه به څو کلن وي؟

که یو سېرلی یا بزه تر یوه کال یو څو ورځي په عمر کي کمه وي خو په ظاهره د یوه کال معلومېږي بیا ئې هم اختری صحیح نه دئ

---

(1) (عن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاتذبحوا الامسنة الا ان يعسر عليكم فتذبحوا جذعة من الضان) [رواه مسلم: دوهم ټوک – ۱۵۵ مخ]. (واما سنه فلايجوز شئ مما ذكرنا من الابل والبقر والغنم عن الاضحية الاثنى من كل جنس والا الجذع من الضان خاصة اذا كان عظيما واما معاني هذه الاسماء فقد ذكر القدوري ان الفقهاء قالوا الجذع من الغنم ابن ستة اشهر والثني ابن سنة والجذع من البقر ابن سنة والثني منه ابن سنتين والجذع من الابل ابن اربع سنين والثني ابن خمس وتقدير هذه الاسنان بما قلنايمنع النقصان ولايمنع الزيادة حتي ولوضحي الخ) [هنديه: پنځم ټوک ۲۹۷ مخ].

(2) (ويوخذ في زكاتها اي الغنم الثني عن الضان والمعز وهو ماتمت له سنة لاالجذع الا بالقيمة وهو ما اتى عليه اكثرها علي الظاهر) [درمختار: دوهم ټوک –۲۸۱مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلکه پوره د یوه کال به وي او دوهم کال به ئې شروع سوی وي[1].

**که د اختري د حيوان د حلالېدو تر مخه بچی پيدا سو:**

که د اختري د حيوان د حلالېدو ترمخه بچی پيدا سي نو د هغه حلالېدل هم ضروري دي او کوم تصرف چي په اصلي اختري کي کېږي هغه تصرف به په دغه بچي کي هم وسي[2].

**په اختري کي و عمر ته اعتبار دی:**

په اختري کي اعتبار و عمر ته دئ نه و غاښو ته که چيري د يو حيوان عمر پوره وي خو غاښونه نه لري او خوراک کولای سي نو د هغه اختری صحيح دئ[3].

---

(1) (قوله وصح الجذع ... و قيد بقوله شرعا لانه في اللغة ماتمت له سنة نهاية) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ]، (وتقدير هذه الاسنان بما قلنا يمنع النقصان ولايمنع الزيادة حتي لوضحي باقل من ذلک شيئا لايجوز) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(2) (فان ولدت الاضحية ولدا يذبح ولدها مع الام كذا ذكر في الاصل) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۲۲۰ مخ].

(3) (وتخصيص هذه القربة بسن دون سن امر لايعرف الا بالتوقيف فيتبع ذلک واما معاني هذه الاسماء فقد ذكر القدوري رحمه الله تعالي ان الفقهاء قالوا: الجذع من الغنم ابن ستة اشهر والثني منه ابن سنة الخ) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۲۰۶ مخ]. (وفي رواية تجوز اذا كان تعتلف وهو الاصح لانها حينئذ صارت بمنزلة الصحيحة) [حاشية الشيخ الشلبی: شپږم ټوک – ۴۸۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نهم فصل

## د اختري په حیوان کي شرکت

### په غټو حیوانانو کي څو حصې کېدلای سي؟

په غټو حیواناتو لکه اوښ، غوا، غوائي کښي صرف اووه حصې کېدلای سي زیاتي حصې نه سي کېدلای(1).

### که چا حیوان رانیوی بیا يې شپږ کسان شریک کړل:

که چا حیوان رانیوی بیا ئې شپږ کسان شریک کړل نو اختری صحیح دئ خو ښه دا دئ چي د حیوان تر رانیولو دمخه د نورو شریکانو تلاښ وکړي(2).

### که شریک نفر د حیوان تر حلالېدو مخکي مړ سو:

که یو نفر په حیوان کي شریک وو خو د حیوان تر حلالېدلو دمخه مړ سو نو د ده د وارثانو څخه بل څوک حصه رانیولای سي او دغه حصه د ده په میراث کي بلل کېږي(3).

### که یو شریک مړ سو خو وارثان يې بالغان وه:

که د شریکانو څخه یو مړ سي او د هغه وارثان بالغان وي نو د

(1) (واما وجه ذلک من طریق النظر فانا قد رایناهم قد اجمعوا ان البقرة لاتجزئ في الاضحیة عن اکثر من سبعة وهي من البدن باتفاقهم فالنظر علی ذلک ان تکون الناقة مثلها ولاتجزئ عن اکثر من سبعة) [شرح معاني الاثار للطحاوي: دوهم ټوک – ۲۷۵ مخ].

(2) (ولو شری بدنة للاضحیة ثم اشرک فیها ستة جاز استحسانا والاشتراک قبل الشراء احب) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۶۹ مخ].

(3) (رجل اشتری اضحیة واوجبها علي نفسه بلسانه ثم مات قبل ان یضحي بها کان میراثا عنه في قول ابي حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی) [قاضیخان: دریم ټوک – ۳۴۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په اجازه سره اختری کېدلای سي[1].

**که شریک د شراکت اجازه وکړه بیا یې انکار وکړی:**

که یو چا په حیوان کي د شراکت اجازه وکړه چي زه شریک یم بیا ئې انکار وکړ اوس نو که هغه د قیمت اجازه ورکړې وي چي زما له طرفه د دومره پیسو اختیار دئ که ئې اجازه صراحةً وي او که بل څوک د ده په اجازه باندي د ده د کردار او ګفتار څخه پوه سوی وي چي د ده اجازه تر دغه ځایه پوري ده نو دغه حصه د هغه اجازه ورکوونکي ده د دغه حصې قیمت پر هغه باندي لازم دئ[2].

**که یو شریک یوه حصه د نبي کریم ﷺ له طرفه رانیسي:**

که په شریکانو کي یو شریک یوه حصه د نبي کریم ﷺ له طرفه رانیسي صحیح دئ او که ټول شریکان ئې په ګډه رانیسي هم صحیح دئ[3].

**یو اختری د ځان له طرفه او نور اختریان د نورو له طرفه کول:**

که یو څوک یو اختری د ځان لپاره کوي او یو د نورو کسانو

---

(1) (وان مات احد سبعة الذين شاركوا في البدنة وقال ورثته وهم كبار اذبحوها اي البدنة عنكم وعنه اي عن الميت صح) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۳ مخ].

(2) (اذا ادى الوكيل بالشراء ثمن المبيع من ماله وقبضه كان له حق الرجوع علي الموكل يعني ان له ان ياخذ مثل الثمن الذي اداه) [شرح المجلة لرستم باز الماده: ۱۴۹۱]. (و اذا دفع الوكيل بالشراء الثمن من ماله من غير صريح اذن الموكل وقبض المبيع فله ان يرجع به على الموكل لوجود الاذن دلالة لان الحقوق لما كانت الى العاقد وقد علمه الموكل يكون راضيا بدفعه) [اللباب في شرح الكتاب: دوهم ټوک – ۶۹ مخ].

(3) (عن الحكم عن حنش قال رايت عليا رضي الله عنه يضحي بكبشين فقلت له ما هذا؟ فقال ان رسول الله ﷺ اوصاني ان اضحي عنه فانا اضحى عنه) [سنن ابي داؤد: دوهم ټوک – ۲۸۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


مثلاً مور، پلار، نیکه ورور له طرفه کوي نو صحیح دئ ځکه نبي کریم ﷺ یو پسه د خپل امت د هغو کسانو له طرفه حلال کړی چي اختری ئې نه وو کړی او ثواب ئې مړو او ژوندو ټولو ته وربخښل کېدلای سي(1).

## په پسه کي شراکت صحیح ندی:

په یوه پسه کي شراکت صحیح نه دئ او په دې سره دلیل ویل چي نبي کریم ﷺ د امت لپاره یو پسه حلال کړی دئ صحیح نه دئ ځکه چي مقصد په هغه کي ایصال ثواب وو نه د وجوب ساقطول(2).

## په اختري کی یوه حصه د واده د ډوډۍ لپاره ټاکل:

که یو څوک غواړي چي د اختري په حیوان کي یوه حصه د ولیمې (د واده د ډوډۍ) لپاره وټاکي نو صحیح کېږي په دي شرط چي نیت ئې د سنت ادا کول او د نکاح د نعمت شکر وي ځکه چي دا قربت دئ او د قربت کومه خاصه نوعه معتبره نه ده(3).

---

(1) (لان الموت لایمنع التقرب عن المیت بدلیل انه یجوز ان یتصدق عنه ویحج عنه و قد صح ان رسول الله ﷺ ضحي بکبشین احد هما عن نفسه والاخر عمن لم یذبح من امته ) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۶ مخ].(من صام او صلي او تصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة کذا فی البدائع) [رد المحتار: دوهم ټوک – ۲۴۳ مخ].

(2) (ثم المشارکة اما محمولة على الثواب واما علي الحقیقة فیکون من خصوصیة ذلک الجناب والاظهر ان یکون احدهما عن ذمته الشریفة والثاني عن امته الضعیفة) [بذل المجهود: څلرم ټوک – ۷۱ مخ].

(3) (ولم یذکر الولیمة وینبغي ان تجوز لانها تقام شکرا لله علي نعمة النکاح وردت به السنة فاذا قصدبها الشکر او اقامة السنة فقد اراد القربة) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۶ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که یو شریک یو اختری په مزدوري حلال کړي:**

که په شریکانو کي یو یا دوه شریکان اختری په مزدوري حلال کړي نو مزدوري اخیستل په دوو وجهو ناروا ده:

**اول:** یو خو اختری پر ده باندي یا اصالتاً واجب دئ یا نیابتاً او پر واجب علی التعیین باندي مزدوري اخیستل ناروا ده.

**دوهم:** په مشترک کار کي د مزدوري اخیستلو حق ځوک نه لري(1).

**که په غوایي کي تر اوو کسانو کم شریکان وي:**

که په یوه غوائي کي تر اوو کسانو کم شریکان وي مثلاً دری، څلور، پنځه یا شپږ وي نو اختری ئې صحیح کیږي(2).

---

(1) (ولو استاجره لحمل طعام مشترک بینهما فلااجر له لانه لایعمل شیئا لشریکه الا ویقع بعضه لنفسه فلایستحق الاجر (قوله لانه لایعمل الخ) فان قیل عدم استحقاقه للاجر علي فعل نفسه لایستلزم عدمه بالنسبة الی ما وقع لغیره فالجواب انه عامل لنفسه فقط لانه الاصل وعمله لغیره مبني علی امر مخالف للقیاس فاعتبر الاول ولانه مامن جزء یحمله الا وهو شریک فیه فلایتحقق تسلیم المعقود علیه لانه یمنع تسلیم العمل الی غیره فلا اجر عنایة وتبیین) [درمختار مع ردالمحتار: شپږم ټوک – ٦٠ مخ]. (وقال العلامة الرافعي رحمه الله تعالی : قوله وعمله لغیره مبني علي امر مخالف للقیاس الخ للحاجة وهي تندفع بجعله عاملا لنفسه لحصول مقصود المستاجر عنایة) [تقریرات الرافع علی حاشیة ابن عابدین: شپږم ټوک – ٢٦٧ مخ].

(2) (ویجوز اشتراک اقل من سبعة ولو کان البدنة بین اثنین نصفین في الاصح قال العیني في شرح الکنز وتجوز عن ستة او خمسة او اربعة او ثلاثة ذکره محمد في الاصل لانه لما جاز عن السبعة فعن دونه اولی) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ١٦٨ مخ، کذا في الهدایة: څلرم ټوک – ۴۴۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم فصل

## د اختري کولو مستحبات، اداب او مکروهات

### د حیوان د حلالېدلو ښه طریقه دا ده:

**اول**: د اختري د حیوان د حلالولو ښه طریقه دا ده چي اول د اختري حیوان مخ پر قبله شریفه پرېباسئ او بیا دغه دعا ووایاست[1]:

**دوهم**: وروسته **بسم الله الله اکبر** ووایاست او اختري په تېره چاړه حلال کړئ او تر حلالیدلو وروسته دغه دعا ووایاست:

**(اللهم تقبله مني کما تقبلته من حبیبک محمد وخلیلک ابراهیم علیهما السلام)**[2].

### یو حیوان د بل حیوان مخ ته حلالول:

یو حیوان د بل حیوان مخ ته مه حلالوئ[3].

### په حلالېدلو کي د حیوان غاړه مه ماتوئ:

په حلالېدلو کي د حیوان غاړه مه ورماتوئ او د ژر سړېدلو لپاره حرام مغز مه ور پرې کوئ په پوستولو او د غوښو په ټوټه ټوټه کولو

---

(1) (عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه .... فقال حین وجهها اني وجهت وجهي للذي فطر السموات والارض حنیفا مسلماً وما انا من المشرکین، ان صلاتي ونسکي ومحیاي ومماتي لله رب العلمین، لاشریک له وبذالک امرت وانا من المسلمین اللهم منک لک...) [سنن ابن ماجه: ۲۲۵ مخ].

(2) آپ کے مسائل اور ان کا حل: ځلرم ټوک – ۲۱۶ مخ. (و منها التسمیة حالة الذکاة عندنا اي اسم کان وسواء قرن بالاسم الصفة بان قال الله اکبر الله اعظم الخ) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۸۵ مخ]. (و منها انه یستحب في الذبح حالة الاختیار ان یکون ذلک بآلة حادة من الحدید کالسکین والسیف ونحو ذلک الخ) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۱۸۸ مخ].

(3) (عن ابیه عبدالله بن عمر رضی الله عنه قال: امر رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یحد الشفار وان تواري عن البهائم...) [سنن ابن ماجه: ۲۲۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي چابکي مه کوئ تر څو چه حيوان ښه سوړ سوی نه وي[1].

**په اختري کي نيت په زړه سره کول کافي دی:**

د اختري نيت کول صرف په زړه سره کول کافي دي په ژبه ويل ضروري نه دي البته د حلالېدلو پر وخت **بسم الله اكبر** په ژبه ويل ضروري دي[2].

**خپل اختری پخپله حلالول:**

مستحب کار دا دئ چي هر څوک خپل اختری په خپله حلال کړي که ئې حلالولای سوای او که ئې نه سوای حلالولای نو بل چا ته دي د حلالېدلو اجازه ورکړي خو په دغه وخت کي خپله حاضرېدل ښه دي[3].

**که حلالونکي د بسم الله، الله اكبر پر ځای بل ذكر ووايي:**

که ذبح کوونکی د **بسم الله، الله اكبر** پر ځای **بسم الله الرحمن الرحيم** یا

---

(1) (ومنها الاكتفاء بقطع الاوداج ولايبلغ به النخاع وهو العرق الابيض الذي يكون في عظم الرقبة ولايبان الراس ولو فعل ذلک يكره ...) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۱۸۹ مخ]. (وايضا واما الذي هو بعد الذبح فالمستحب ان يتربص بعد الذبح قدر ما يبرد ويسكن من جميع اعضائه وتزول الحيوة عن جميع جسده ويكره ان ينخلع ويسلخ قبل ان يبرد لما ذكرنا في كتاب الذبائح ) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۲۲۳ مخ].

(2) (ويكفيه ان ينوي بقلبه ولايشترط ان يقول بلسانه مانوى بقلبه كما في الصلاة لان النية عمل القلب والذكر باللسان دليل عليها ) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۲۰۸مخ].

(3) (واما الذي يرجع الى من عليه التضحية فالافضل ان يذبح بنفسه ان قدر عليه لانه قربة فمباشرتها بنفسه افضل من توليتها غيره كسائر القربات... واذا لم يذبح بنفسه يستحب له ان يامر مسلما فان امر كتابيا يكره لما قلنا ويستحب ان يحضر الذبح ...) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۲۲۱ – ۲۲۲ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ذکر ووائي هم ذبح صحيح ده شرط ئې دا دئ چي ذکر خالص به وي هر نوم چي د الله ووايي که يو صفت ورسره يو ځای کي لکه **الله اکبر** يا **اجل** يا **اعظم** او که هيڅ صفت ورسره يو ځای نه کړي لکه **الله** يا **الرحمن** يا **الرحيم** او که ئې پر ځای د **بسم الله، الله اکبر** دعاء و ويل نو ذبح نه ده حلاله دا خو دعاء ده او شرط ذکر خالص وو ، نو په **اللهم اغفر** سره کار نه کېږي مګر په **الحمدلله** يا **سبحان الله** سره ذبح صحيح ده چي د **بسم الله** په نيت سره ئې ووايي(1).

## په حلالېدو کي کوم ذکر ويل مستحب دی:

**بسم الله، الله اکبر** ويل مستحب دي مګر هر ذکر چه کفايت کوي که په عربي وي که په بله ژبه سره وي(2).

## پر حلالونکي او کومک کونکي څه شي ويل واجب دي؟

پر ذبح کوونکي باندي بسم الله ويل واجب ده او همدارنګه پر

---

(1) (والشرط في التسمية هو الذكر الخالص عن شوب الدعاء غيره فلا يحل بقوله اللهم اغفرلي لانه دعاء وسؤال بخلاف الحمد لله او سبحان الله مريدا به التسمية فانه يحل، (قوله والشرط في التسمية هو الذكر الخالص) باى اسم كان، مقرونا بصفة كالله اكبر او اجل او اعظم اولا كالله او الرحمن، وبالتهليل والتسبيح جهل التسمية اولا...) [درمختار مع ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۰۱ مخ].

(2) بسم الله کہنا بھي کافی ہے خواہ کسی زبان میں کہے [فتاوی محموديه: اووه لسم ټوک – ۲۴۱ مخ]. (قال الله تعالي : لاتاكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه ، حالة الذبح لقوله تعالى (فاذكروا اسم الله عليها صواف) وهي حالة النحر ويدل عليه قوله تعالى (فاذا وجبت جنوبها فكلوا منها) [تبيين الحقائق: شپږم ټوک – ۴۵۲ مخ]. (بسم الله، الله اکبر کہنا مستحب ہے [فتاوی محموديه: اووه لسم ټوک – ۲۴۱ مخ]. لو ان رجلا سمى علي ذبيحته او الرمية بالفارسية وهو يحسن العربية او لايحسنها اجزاه ذلك من التسمية والمستحب ان يقول باسم الله، الله اكبر...) [حاشية الشيخ الشلبى: شپږ ټوک – ۴۵۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومک کوونکي باندي هم واجب ده او کومک کوونکی په حقیقت کي هغه څوک بلل کېږي چي د حلالوونکي سره د چړې په راکشولو کي کومک وکړي حلالوونکی کمزوری وي د حیوان د حلالولو په وخت کي دغه بېره وي چي حیوان به ځني ولاړ سي نو یو بل څوک د ده سره چاره نیسي دواړه ئې په زوره د حیوان پر غاړه تېروي او هغه نور کومک کوونکي چه یا ئې پښه ورسره نیسي یا نور بدن د حیوان ټینګوي پر هغو بسم الله ویل واجب نه دي(1).

## د حلالېدو په وخت کي حیوان پر اړخ پرېږي ایستلای سي:

د حلالولو په وخت کي د حیوان مخ د قبلې و خوا ته ګرځول مناسب کار دئ البته پر هر اړخ چي ئې پرېباسي اختیار لري په شریعت کي د یوه اړخ تخصیص نسته او که د حیوان سر د جنوب و طرفته سي نو په حلالولو کي زیاته اساني راځي(2).

## که د حیوان مخ قبلې ته ونه ګرځي:

د حیوان مخ قبلي طرف ته کول سنت کار دئ که ئې مخ د قبلې طرف ته نه وګرځوی سنت کار ئې پرېښووی او حیوان ئې نه

---

(1) درمختار: شپږم ټوک – ۳۰۲ – ۳۳۴ مخونه. مسئلہ یہ ہے کہ ذبح پر بسم اللہ پڑہنا واجب ہے اسی طرح معین ذابح پر بہی واجب ہے اور معین ذابح حقیقتاً وہ ہے جو چہری چلانے میں مدد دے مثلا ایک شخص کمزور ہے اس میں چہری چلانے کي پوری قوت نہیں تو دوسرا آدمی اس کے ہاتہ پر ہاتہ رکہ کر قوت سے چلادے تو اس پر بہی بسم اللہ پڑہنا لازم ہے او جو آدمی جانور کے پیر و غیرہ پکڑے وہ حقیقتاً معین ذابح نہیں [فتاوی محمودیه: اووه لسم ټوک – ۲۴۳ مخ].

(2) (منہ قبلہ کی جانب ہونا چاہے اور کوئی تخصیص نہیں جس طرح سہولت ہو ذبح کرد یاجائے سرجنوب کی طرف ہونے سے زیادہ سہولت ہوتی ہے فقط واللہ تعالی اعلم الخ) [فتاوی محمودیه: اووه لسم ټوک – ۲۴۴ مخ]. (فلما وجهھما نحو القبلة) [بذل المجهود: څلرم ټوک – ۷۰ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



مردار يږي[1].

**تر غوټو لوړ حيوان حلالول:**

تر غوټو لوړ حيوان حلالولو کي اختلاف دئ بعضي علماء وائي چي هغه شيان چه د هغو پرېکول ضروري دي که حيوان تر غوټو لوړ حلال سي هغه ضروري شيان نه پرې کېږي نو ځکه ذبح نه ده حلاله بعضي علماء وايي چه ذبح که څه هم تر غوټو لوړه وسي هغه ضروري شيان پرې کېږي نو ځکه ذبح صحيح ده خلاصه دا ده چي بايد څوک ځان د اختلافي مسئلې څخه وساتي او ذبح تر غوټو لاندي وکړي چي غوټو د سر سره يو ځای سي د بدن څخه جلا سي که بالفرض دغسي ذبح څوک وکي نو شيخ المشائخ شيخ الفقه والحديث مولانا خليل احمد صاحب سهارنپوري رحمة الله عليه دغه خبره مختاره کړېده چي دغه مذبوحه حلاله ده په دغه خاطر چه ټول ضروري شيان پرې کېږي که څه هم ذبح تر غوټو لوړه سوې وي او ده ويلي دي چي ما خپله دغه مشاهده کړيدي چي ضروري شيان پرې کېږي او نورو هم دغسي فيصله کړېده چي حلال دئ[2].

---

(1) (وکره ترک التوجه الی القبلة لمخالفته السنة) [درمختار: شپږم ټوک – ۲۹۶ مخ].

(2) (اختلف العلماء في حکم المذبوح فوق العقدة فذهب البعض الي حله والبعض الي عدمه والحق ان لاخلاف في اصل ا لمسئلة بل في الرای اي هل يحصل قطع اکثر العروق بالذبح فوق العقدة ام لا؟ کما قال الشامي ونقله السائل في العبارة السادسة واختار شيخ مشائخنا شيخ الفقه والحديث مولانا خليل احمد السهارنفوري انه يحل اذ بالذبح فوق العقدة يحصل قطع اکثر العروق وقال شاهدته فوجدته کذلک) [فتاوی محمودیه: اووه لسم ټوک – ۲۴۹ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په حلالو کي د حیوان سر ور پرې کول:**

د حیوان سر که ئې د حلالولو په وخت کي ګرسره ور پرې کړ حیوان حلال دئ مګر مکروه دئ[1].

**تر حلالولو مخکي حیوان ته کرنټ ورکول:**

تر حلالولو مخکي حیوان ته د برق شاټي کرنټ ورکول د سنت متوارثه خلاف او مکروه تحریمي کار دئ حیوان ته داسي عذاب او ازار ورکول جائز کار نه دئ او په دغه کار سره د حیوان وینه وچېږي غوښي يې هم بې خونده او بې قوته کېږي البته که د برق تر کرنټ وروسته د حلالولو په وخت کي ژوند پکښې کي وو وینه ئې په جوش سره راووتل نو غوښه ئې حلاله ده مرداره نه ده او که ژوند او د ژوند اثار نه وه پکښې پاته تر کرنټ وروسته ذبیحه مرداره ده خوراک ئې حرام کار دئ[2].

**که د حیوان د ژوند او مرګ حال معلوم نه وو:**

که د یو حیوان د ژوند او مرګ حال سړي ته نه معلومېږي یا د

---

(1) (وکره کل تعذیب بلافائدة مثل قطع الراس والسلخ قبل ان تبرد...) [درمختار: شپږم ټوک – ۲۹٦ مخ].

(2) (وکره کل تعذیب بلافائدة) [در مختار: شپږم ټوک – ۲۹٦ مخ]. (المتردیة والمنخنقة والموقوذة والشاة المریضة والنطیحة ومشقوقة البطن اذا ذبحت ینظران کان فیها حیاة مستقرة حلت بالذبح بالاجماع وان لم تکن الحیاة فیها مستقرة تحل بالذبح سواء عاش او لایعیش عند ابي حنیفة رحمه الله تعالی وهو الصحیح وعلیه الفتوی) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۸٦ مخ]. (واختلف المشائخ علی قول ابي حنیفة رحمه الله تعالی ذکر الطحاوي والفقیه ابو اللیث رحمهما الله تعالی ان تلک الحیاة معتبرة في قول ابي حنیفة رحمه الله تعالی حتی لو ذکاها تحل.... و الفتوی علی ماذکر نا لابي حنیفة رحمه الله تعالی اولاً) [قاضیخان: دریم ټوک – ۳٦۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


مریضۍ په خاطر یا موټر وهلی وي یا بل څه په وسوه نو د حلالولو په وخت کي که سره وښوریږي یا د هغه څخه ویني راووتلې نو حلال دئ دغه د ژوند علامې دي کنه نو حرام دئ[1].

## په چپه لاس حلالول:

په چپه لاس ذبح کول صحیح ده مګر د سنت خلاف کار دئ که بې له عذره وي او که چیري عذر موجود وو مثلاً راسته لاس ئې پرې وو یا خوږ وو نو بیا د سنت خلاف کار هم نه دئ[2].

## که چاړه خالص د اوسپني وه:

که چاړه خالص د اوسپنې وه لاستی ئې هم د لرګي نه وو په دغسي چاړه سره ذبح کول جائز دي دا غلط مشهور دئ چه که د چړې سره لرګی نه وي ذبح ئې صحیح نه ده[3].

## په ماشین حلال سوی حیوان خو به حرام نه وي؟

په ماشین حلال سوی حیوان علماوو صحیح نه دئ بللی نو ځکه ځان ساتل ځني مناسب کار دئ[4].

---

(1) (ولو ذبح شاة لم تعلم حیاتها فتحرکت او خرج منها دم حلت لانه دلیل الحیاة والا فلا تحل) [درمنتقي: څلرم ټوک – ۱۶۴ مخ].

(2) جائز ہے مگر خلاف سنت اگر کوئی عذر ہو پھر خلاف سنت نہ ہوگا [آپ کے مسائل اور ان کا حل: څلرم ټوک – ۲۲۲ مخ].

(3) ج : خالص لوہے کی یا کسی بھی دہات کی بنی ہوئی چھری کا ذبیحہ جائز ہے او یہ خیال بالکل غلط ہے کہ چھری میں اکر لکڑی نہ لگی ہو تو ذبیحہ مردار ہوجاتاہے [آپ کے مسائل اور ان کا حل: څلرم ټوک – ۲۲۲ مخ].

(4) ج: مشینی ذبیحہ کو اہل علم نے صحیح قرار نہیں دیا اس لئے اس سے احتراز کرناچاہے [آپ کے مسائل اور ان کا حل: څلرم ټوک – ۲۲۳ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ښځي او کوچني ذبح څنګه ده؟**

د ښځي، کوچني او کتابي کافر ذبح صحيح ده[1].

**د ګونګي ذبح څنګه ده؟**

ګونګی که مسلمان وي او که کتابي وي ذبيحه ئې صحيح ده او تکبير دي په اشاره سره ور وښودل سي[2].

**د ذو الحجې په اولو لسو ورځو کي د ورېښتانو او نوکانو حکم:**

**اول حديث: [عن ام سلمة ﵂ ان النبي ﷺ قال اذا دخلت العشر واراد احدكم ان يضحي فلا يمس من شعره وبشره شيئا]**[3].

**ترجمه:** د حضرت ام سلمه ﵂ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چي: کله د ذو الحجې مياشت شروع سي او په تاسي کي د يو چا د اختري کولو اراده وي نو هغه دي خپل ورېښتان او نوکان نه پرې کوي.

**تشريح:** د دې روايت او داسي نورو روايتونو څخه معلومېږي چي علماء کرامو فرمايلي دي د اختري کوونکي لپاره مستحب کار دا دئ چه د ذو الحجې د مياشتي د ليدلو څخه بيا تر اختري کولو پوري نه خپل نوکان پرې کړي او نه د سر ورېښتان پرې کړي او نه د بغل او زير ناف ورېښتان پاک کړي بلکي د بدن د يو ځای ورېښتان به هم نه پرې کوي، البته چي ممنوع حد ته نه وي رسېدلي. د اختري

---

(1) (وحل ذبيحة مسلم وكتابي وصبي وامراة) [البحر الرائق: اتم ټوک – ۳۰۶ مخ].

(2) (وتؤكل ذبيحة الاخرس مسلما كان او كتابيا كذا في قاضيخان) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۸۶ مخ].

(3) مسلم: دوهم ټوک – ۱۶۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولو څخه وروسته دي نوکان او وریښتان پرې کړي مګر دا خبره د یاد وړ ده چه دا کار کول مستحب دئ او حتی الامکان پر مستحب هم عمل کول په کار دي مګر که یو سړی تر لوی اختر مخکي یوه یا دوې ورځي د بدن د یو ځای وریښتان پرې کړي نو پر هغه هیڅ ګناه نسته او اختري ته ئې هم هیڅ تاوان نه رسیږي او اختری ئې صحیح دئ دغه حکم د هغه چا لپاره دئ چي اختری کوي.

**دوهم حدیث: [حدثنا عبیدالله بن معاذ قال نا ابي قال نا محمد بن عمرو قال نا عمرو بن مسلم اللیثي قال سمعت سعید بن المسیب یقول سمعت ام سلمة تقول قال رسول الله ﷺ من کان له ذبح یذبحه فاذا اهل هلال ذي الحجة فلا یاخذن من شعره ولامن اظفاره شیئا حتي یضحي]**(1).

**ترجمه:** حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک چي اختری کوي کله چي د ذو الحجې میاشت راغله نو د وریښتانو او نوکانو څخه دي هیڅ شي نه پرې کوي تر څو چي اختری کوي.

**که د چا څخه د حلالولو په وخت کي بسم الله، الله اکبر هیره سوه:**

که د یو چا څخه د حیوان د حلالولو په وخت کي بسم الله، الله اکبر هیر سول او حیوان ئې حلال کړ، نو غوښه حلاله ده او خوراک ئې جائز دئ ځکه چي د حلالوونکي د اسلام په خاطر دا خبره فرض

(1)ابو داؤد: دوهم ټوک – ۳۸٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي چي د الله د نامه ماسوا ده د بل چا پر نامه ذبح نه ده کړې[1].

❁ ❁ ❁

(1) فان ترکها ناسیاً حل [درمختار: شپږم ټوک - ۲۹۹ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوولسم فصل

## د اختري د غوښو تقسيم او خرڅول

### د غوښو تقسيم به څنګه وي؟

که څوک د اختري د غوښو په اوو حصو کي پر څلورو حصو يوه يوه پښه کښېږدي او پر دوو حصو باندي د مغزو سره پوست او سر کښېږدي او پر يوه حصه کلمې او ژبه کښېږدي نو صحيح دئ او ښه دا دئ چي غوښي وتلل سي او تقسيم سي[1].

### که شريکان د غوښو تقسيم ونکړي:

اووه نفره يو ځای اوسېږي او د يوه غوايي يا اوښ اختری وکړي نو هغوی که خپلي حصې سره تقسيم نه کړي صحيح دي[2].

### که شريکان غوښي په اټکل سره تقسيم کړي:

که چيري په حيوان کي اووه نفره شريکان وي او اختری وکړي او غوښي په اټکل سره تقسيم کړي وئې نه تلي نو اختری ئې صحيح دئ خو بې له تللو تقسيمولو کي د ربا احتمال سته او د ربا ګناه ده او که چيري بيا تقسيم داسي وکړي چي ځيني يو څه غوښي او سر او

---

(1) (ويقسم لحمها وزنا لاجزافاالا اذا اخلط به من اكارعه او جلده اي يكون في كل جانب شئ من اللحم ومن الاكارع) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱٦۸ مخ].

(2) (قوله و يقسم اللحم انظر هل هذه القسمة متعينة اولا؟ حتى لو اشترى لنفسه و لزوجته واولاده الكبار بدنة ولم يقسموها تجزيهم اولا؟ والظاهر انها لاتشترط لان المقصود منها الاراقة وقد حصلت.... وحاصله ان المراد بيان شرط القسمة ان فعلت لانها شرط) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۷مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني يو څه غوښي او پښې واخلي نو په ظاهره خو به ئې تقسيم صحيح سي مګر دلته هم شبه د ربا پيدا کېږي او د ربا د شبهې څخه ځان ساتل هم ضروري دي[1].

## د اختري غوښي بايد څو حصې سي؟

د اختري غوښي بايد درې حصې سي او دا کار سنت دئ او که يو څوک ټوله غوښي د کور لپاره راوګرځوي هم صحيح دئ يا ټوله غوښي مسکينانو ته ورکړي هم صحيح دئ، په درو حصو کي دي يوه حصه د کور لپاره راوګرځوي يوه حصه دي و خپلو قريبانو ته ورکړي او يوه حصه دي و مسکينانو ته ورکړي[2].

## د اختري غوښي اومې تقسيمول:

د اختري غوښي که څوک اومې تقسيم کړي او که ئې پخې کړي قريبانو ته ئې ورکړي او يا مېلمستيا په وکړي ټوله صحيح کېږي[3].

---

(1) (ويقسم لحمها وزنا لانه موزون لاجزا فا لاحتمال الربا) [درمنتقي: څلرم ټوک – ۱۶۸ مخ]. (والشبهة في باب الربا ملحقة بالحقيقة) [مجمع الانهر: دريم ټوک – ۱۲۱ مخ، كذا في مشكوة المصابيح: اول ټوک – ۲۴۱ مخ].(ويقسم اللحم وزنا لاجزافا الا اذا ضم معه من الاكارع او الجلد صرفا للجنس لخلاف جنسه... قوله الا ذا ضم معه: بان يكون مع احدهما بعض اللحم مع الاكارع و مع الاخر البعض مع الجلد) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۱۷ – ۳۱۸ مخونه].

(2) (وندب ان لاينقص التصدق عن الثلث ... والافضل ان يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لاقربائه واصدقائه ويدخر الثلث ويستحب ان ياكل منها ولو حبس الكل لنفسه جاز لان القربة في الاراقة والتصدق باللحم تطوع) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۸ مخونه].

(3) (والافضل ان يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لاقاربه واصدقائه ويدخر الثلث) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۲۲۴ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د خدمت په عوض کي غوښي ورکول:**

قصاب، نانوای، دوبي وغيره ... ته د خدمت په عوض کښي د اختري غوښي ورکول صحيح نه دي البته بې له عوضه ئې ورکولای سي(1).

**که مړي د اختري کولو وصيت کړی وو:**

که مړی وصيت وکړ چي زما له طرفه اختری وکړئ نو د هغه اختري ټوله غوښه بايد خيرات سي او که ئې وصيت نه وو کړی نو اختری کوونکی ئې خپله هم خوړلای سي او خپله د غوښو مالک دئ(2).

**د اختري غوښي وچول:**

که يو څوک د اختري غوښي وچي کړي او تر ډېره وخته ئې استعمالوي نو پروا نه لري(3).

**که په شريکانو کي د يوه شريک نيت د غوښو وي:**

که چيري اووه کسان په يوه حيوان کي سره شريکان وي خو د

---

(1) (ولايعطي الجازر باجرته شيئا منها.... ولان ما يدفعه الي الجزار اجرة عوض من عمله وجزارته ولاتجوز المعاوضة بشئ منها فاما ان دفع اليه لفقره او على سبيل الهدية فلاباس لانه مستحق للاخذ فهو كغيره بل هو اولى لانه باشرها وتاقت نفسه اليها) [اعلاء السنن: اووه لسم ټوک – ٢٦٣ مخ].

(2) (من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع في اضحية نفسه من التصدق والاكل والاجر للميت و الملک للذابح والمختار أنه ان كان بامر الميت لاياكل منها والا ياكل) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ٣٢٦ مخ].

(3) (عن سليمان بن بريدة عن ابيه ﷺ قال قال رسول الله ﷺ كنت نهيتكم عن لحوم الاضاحي فوق ثلاث ليتسع ذو الطول على من لاطول له فكلوا ما بدا لكم واطعموا وادخروا) [الترمذي: اول ټوک – ٤٠٩ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه نفر نيت صرف د غوښو وي او د نورو نيت د اخترې وي نو په دې صورت کي که دا نور کسان د هغه يوه حصه رانيسي او بيا اخترى وکړي نو صحيح کېږي او که ئې رانه نيسي نو د ټولو اخترى صحيح نه سو[1].

## د اختري کولو وروسته که يو شريک خپله حصه خرڅه کړي:

که اوو کسانو يو ځاى اخترى وکړ او تر اختري کولو وروسته يوه شريک خپله حصه پر بل چا خرڅه کړه نو داسي اخترى نه صحيح کېږي او د خپلي حصې قيمت به بيرته ورکړي[2].

## د اختري غوښي خرڅول:

د اختري غوښي خرڅول مکروه دي او که ئې خرڅي کړي وي نو قيمت ئې خيراتول واجب دي او که بل چا د اختري غوښي راوړې نو د هغه خرڅول پروا نه لري[3].

---

(1) (وان کان شريک الستة نصرانيا او مريدا للحم لم يجز عن واحد منهم لان الاراقة لاتتجزأ) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲٦ مخ، کذا في تبيين الحقائق: شپږم ټوک – ۴۸۴ مخ].

(2) (واما رکنها فذبح ما يجوز ذبحه في الاضحية في ايامها لان رکن الشي ما يقوم به ذلک الشئ والاضحية انما تقوم بهذا الفعل فکان رکناً) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۱ مخ].

(3) ( ثم ان کان الحق لادمي رده اليه بطريقه ) [ابن کثير: شپږم ټوک – ۲٦۰ مخ]. [التحريم:۸]. (فان بيع اللحم او الجلد به اي بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه ومفاده صحة البيع مع الکراهة وعن الثاني باطل لانه کالوقف) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۸ مخ]. (فان بدل اللحم او الجلد به يتصدق به) [ملتقى الابحر مع مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۴ مخ]. (وللغني ان يشتري الصدقة الواجبة من الفقير وياکلها وکذا لو وهبها له لما علم ان تبدل الملک کتبدل العين) [البحر: دوهم ټوک – ۴۲۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اختري پوست او غوښه کافر ذمي ته ورکول کېدلای سي:**

د اختري پوست او غوښي و کافر ذمي ته ورکول جائز دي[1].

**که شريکان د غوښي پر خيراتولو راضي سي:**

که ټوله شريکان د غوښو د تقسيم ترمخه په دې راضي سي چي غوښي خيرات کړي نو خيراتولای ئي سي[2].

**په پسه کي د اوو شيانو خوړل مکروه تحريمي دي:**

پسه چي کله حلال سي نو د لاندي شيانو خوړل مکروه تحريمي دي:

**اول:** د نر حيوان الهٔ تناسلي (ذکر) يا د ماده حيوان الهٔ تناسلي (فرج).

**دوهم:** خايې.

**دريم:** تريخي.

**څلورم:** مرغړي.

**پنځم:** مثانه (د بولو د جمع کېدلو ځای).

**شپږم:** حرام مغز (د ملا د هډوکو ماغزه).

**اووم:** بهېدونکې وينه[3].

---

(1) (ويهب منها ماشاء للغني والفقير والمسلم والذمي كذا في الغياثية) [هنديه: پنځم ټوک – ٣٠٠ مخ].

(2) (قوله: يقسم اللحم انظر هل هذه القسمة متعينة اولا حتى لو اشترى لنفسه و لزوجته و اولاده الكبار بدنة ولم يقسموها تجزيهم اولا؟ والظاهر انها لاتشترط لان المقصود منها الاراقة وقد حصلت) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ٣١٧ مخ].

(3) ١٩٧٠٠ ... عن مجاهد قال: كان رسول الله ﷺ يكره من الشاة سبعاً الدم والمرار والذكر والانثيين والحيا والغرة والمثانة ... [السنن الكبرى للبيهقي: لسم ټوک – ١٢ مخ]، فالمراد منه كراهة التحريم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوولسم فصل

## د اختري د پوست مصرف

### د اختري غوښي او پوست و پلار او اولاد ته ورکول کېدلای سي:

لکه څنګه چي د اختري غوښي و پلار او اولاد ته ورکول کېدلای سي نو د اختري پوست هم ورکول کېدلای سي[1].

### د اختري د پوست قیمت و اصولو او فروعو ته ورکول:

د اختري د پوست قیمت و پلار او اولاد ته نه سي ورکول کېدلای که څه هم غریبان وي ځکه چي د هغه قیمت خیراتول هم واجب دي[2].

### د اختري د پوست او غوښو حکم یو دی:

د اختري د پوست حکم د اختري د غوښو په ډول دی لهذا پوست ئې د مسجد و امام ته ورکول کېدلای سي البته د خدمت په عوض کي به نه وي ځکه د خدمت په عوض کي پوست نه امام ته روا دئ نه

... [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۱۹۰ مخ].

(1) (و یاکل من لحم الاضحیة ویوکل غنیا ویدخر وندب ان لاینقص التصدق عن الثلث وندب ترکه لذي عیال توسعة علیه (قوله وندب الخ).... ویستحب ان یاکل منها ولو حبس اکل لنفسه جاز) [رد المحتار: شپږم ټوک – ۳۲۷ – ۳۲۸ مخ]. (و ذکر بکر رحمه الله تعالی ان الجلد کاللحم لیس له بیعه) [بزازیه: شپږم ټوک – ۲۹۴ مخ].

(2) (قال الله تعالي: انما الصدقات للفقراء والمساکین) [سورة التوبة: ۶۰]، (ولایدفع الي اصله وان علا وفروعه وان سفل) [هندیه: اول ټوک – ۱۸۸ مخ]، (فان بیع اللحم او الجلد به اي بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه اي وبالدراهم فیما لو ابد له بها) [در مختار مع رد المحتار: شپږم ټوک – ۳۲۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


مؤذن ته نه فقير ته نه صاحب نصاب ته[1].

**د پوست قيمت په تعمير کي مصرفول:**

د پوست قيمت د مدرسې او مسجد په تعمير کي مصرفول صحيح نه دئ بلکي د هغه خيراتول واجب دي[2].

**د اختري پوست په مسجد او مدرسه کي مصرفول:**

د اختري پوست په مسجد او مدرسه کي مصرفول صحيح نه دئ ځکه چي د هغه قيمت د زکوة حکم لري او تمليک پکښې شرط دئ[3].

**و مستحقينو ته د پوست قيمت په ملکيت ورکول:**

که چيري په مدرسو کي د پوست قيمت و طالبانو ته د کالو، ډوډۍ او داسي نورو شيانو لپاره تمليکاً ورکول سي صحيح دئ مګر په دي شرط چي هغوی به مستحق وي يعني صاحب نصاب او سيدان به نه وي ... او مدرسينو ته په تنخواه کي ورکول يا په تعمير کي مصرفول يا کتابونه په رانيول او وقف کول بې له حيلۀ تمليک نه

---

(1) (ويتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال وجراب و قربة وسفرة ودلو او يبدله بما ينتفع به باقيا لابمستهلک کخل ولحم ونحوه کدراهم فان بيع اللحم او الجلد به اي بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه اي وبالدراهم فيما لو ابدله بها.... ولايعطي اجر الجزار منهالانه کبيع لان کلامنهما معاوضة لانه انما يعطي الجزار بمقابلة جزره والبيع مکروه فکذا ما في معناه کفاية) [درمختار مع ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۸ – ۳۲۹ مخونه].

(2) (فان بيع اللحم او الجلد اي بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۸ مخ].

(3) (فان بدل اللحم والجلد به يتصدق به ای بالبدل لان القربة انتقلت الی بدله فيجبر علی التصدق به کما فی البرهان) [در منتقي علی هامش مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۴مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي صحيح کېدلای[1].

**د پوست په قیمت د هدیرې لپاره مځکه رانیول:**

که یو څوک د پوست په قیمت باندي د هدیرې لپاره مځکه رانیسي نو هغه وخت ئې رانیولای سي چي هغه قیمت چي کوم چاته ورکول سوی دئ د هغه مالک سي او د قبضه کولو وروسته ئې د هدیرې د مځکي لپاره ورکړي او فشار نه باندي واچول سي نو صحیح دئ[2].

**د اختري د پوست او غوښو او د عقیقې د غوښو حکم یو دی:**

د اختري د پوست او غوښو او د عقیقې د غوښو حکم یو دئ، عالم، غیر عالم، مالدار او غریب و ټولو ته ورکول کېدلای سي مګر قیمت ئې یوازي غریب ته ورکول کېدلای سي[3].

**که څوک د مړي له طرفه اختری وکړي نو د پوست د قیمت خیراتول واجب دي:**

که څوک د مړي له طرفه اختری وکړي نو د پوست قیمت و خپلو اصولو (پلار، نیکه، مور، انا...) او فروعو (زوي، لمسی، لور،

---

(1) (فان بدل اللحم او الجلد به ای بالخل وشبهه یتصدق به اي بالبدل لان القربة انتقلت الی بدله فیجبر علي التصدق به کما في البرهان) [درمنتقی علی هامش مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۴ مخ].

(2) (وقدمنا ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره ولم اره والظاهر نعم) [درمختار: دوهم ټوک – ۳۴۵ مخ].

(3) (ویاکل من لحم الاضحیة ویؤکل غنیا ویدخر ... ولانه لما جاز له ان یاکل منه وهو غني فاولي ان یجوز له اطعام غیره وان کان غنیا) [تبیین الحقائق: شپږم ټوک – ۴۸۵ مخ]. (واللحم بمنزلة الجلد فی الصحیح) [مجمع الانهر: څلرم ټوک – ۱۷۴مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمسیٖ ...) ته نه سي ورکولای ځکه چي د قیمت خیراتول واجب دي[1].

## د پوست خیراتول ښه دي که د قیمت؟

د پوست خیراتول افضل دئ تر قیمت[2].

## د پوست قیمت د ځاه په تعمیر کي مصرفول:

د اختري د پوست قیمت د ځاه په تعمیر کي مصرف کېدلای نه سي ځکه چي د قیمت خیراتول ئې واجب دئ البته که یو غریب ته ورکول سي او قبضه ئې کړي بیا ئې مصرفولای سي[3].

## د پوست په قیمت سره قبر پوخ جوړول:

د پوست په قیمت سره قبر پوخ جوړول او پر هغه باندي ګنبته جوړول جائز نه دي ځکه چي د قیمت خیراتول او تملیک واجب دئ او په دې ځای کي تملیک نه راځي[4].

## که د پوست قیمت د چا څخه ورک سي:

که د اختري د پوست قیمت د یو چا څخه ورک سي نو هغه مقدار

---

(1) (مصرف الزکوة والعشر وهو مصرف ا یضا لصدقة الفطر والکفارة والنذور وغیر ذلک من الصدقات الواجبة) [درمختار مع رد المحتار: دوهم ټوک – ۳۳۹ مخ].

(2) (وحاصله کراهة بیع اللحم والجلد جمیعا بمستهلک وجواز بیعهما بما ینتفع به باقیا مع الخلاف في اللحم والاولی التصدق بالکل) [اعلاء السنن: اووه لسم ټوک – ۲۵۹ مخ].

(3) (وانما یصرف الی الفقراء لاغیر ولو صرف الی المحتاجین ثم انهم انفقوا في عمارة الرباط جاز ویکون ذلک حسنا) [قاضي خان: دریم ټوک – ۳۱۵ مخ].

(4) (لایصرف الي بناء نحو المسجد ... کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکري الانهار.... وکل مالا تملیک فیه) [درمختار مع رد المحتار: دوهم ټوک – ۳۴۴ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې به د ځان له طرفه خیراتوي[1].

**د اختري پوست د مسجد په تعمیر کې مصرفول:**

که څوک غواړي چې د اختري پوست د مسجد په تعمیر کې مصرف کړي نو اختري کوونکی دي بل څوک د دغه پوست مالک وګرځوي او خرڅ دي ئې کړي خپله مالک دي ئې نه خرڅوي او بیا چې ئې هر ځای خوښه سي مصرف دي ئې کړي که مسجد وي او که بل ځای[2].

**د پوست قیمت په تنخوا کې ورکول:**

که یو څوک غواړي چې د پوست قیمت په تنخواه کې ورکړي نو هغه وخت ئې ورکولای سي چې یو وار ئې تملیکاً په یو چا قبضه کړي خو هیڅ فشار به پر هغه نه اچوي او بل دا چې تملیک به په کوچني هلک یعني نابالغ باندي نه کوي بلکي په بالغ باندي به ئې کوي نو تر تملیک وروسته ئې امام او معلم ته  په تنخواه کې ورکولای سي[3].

**امام او معلم ته د خدمت په عوض کې پوست ورکول:**

امام او معلم ته د خدمت په عوض کې د اختري پوست نه سي

---

(1) (ولایخرج من العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء ... فلو ضاعت لاتسقط عنه الزکوة ولو مات کانت میراثا عنه) [درمختار مع رد المحتار: دوهم ټوک – ۲۷۰ مخ].

(2) (فان اراد الحیلة فالحیلة ان یتصدق به المتولي علی الفقراء ثم الفقراء ید فعونه الي المتولي ثم المتولي یصرف الی ذلک) [هندیه: دوهم ټوک – ۴۷۳مخ].

(3) (وانما یصرف الي الفقراء لاغیر ولو صرف الي المحتاجین ثم انهم انفقوا في عمارة الرباط جاز ویکون ذلک حسنا) [خانیه: دریم ټوک – ۳۱۵ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکول کېدلای البته بې له عوضه ئې ورکولای سي او که چيري وغواړي چي مهتمم يا ناظم پوست په تنخواه کي ورکړي نو ورکولای ئې سي خو اول به د دغه پوست مالک مهتمم ياناظم جوړېږي[1].

**که څوک امامت، اذان او استاذي د پوست لپاره کوي:**

که چيري امام امامت، مؤذن اذان او استاذ استاذي صرف د دې لپاره کوي چي حتماً به پوست ورکول کېږي او که نه ورکول سي، دی دغه امامت، اذان او استاذي پرېږدي نو په دې صورت کي پوست ورکول جائز نه دي او که د پوست په ورکولو او نه ورکولو هغه پروا نه کوي او خپله وظيفه ادا کوي بيا نو ورکول صحيح دي[2].

**مهتمم ته د پوست قيمت وکالة ورکول:**

که چيري خلک و مهتمم ته وکالة د پوست قيمت ورکړي نو مهتمم امين دئ هغه به پيسې په صحيح مصرف کي استعمالوي او که چيري خلکو ته قرض ورکړي نو پر مهتمم باندي د هغونده مقدار پيسو ضمان سته کوم چه ده ته خلکو ورکړی وي[3].

---

(1) (فان اراد الحيلة فالحيلة ان يتصدق به المتولي على الفقراء يدفعونه الي المتولي ثم المتولي يصرف الى ذلک) [هنديه: دوهم ټوک – ۴۷۳ مخ].

(2) (ولو دفعها المعلم لخليفته ان کان بحيث يعمل له لولم يعطه صح والا فلا قوله ولو دفعها المعلم لخليفته اي من هو نائب عنه ونظيره اذا دفعها المؤجر لمن استاجره) [حاشية الطحطاوي على الدر المختار: اول ټوک – ۴۳۲ مخ].

(3) (ولو خلط زکوة موکليه ضمن وکان متبرعا (قوله ضمن وکان متبرعا) لانه ملکه بالخلط وصار موديا مال نفسه قال في التتارخانية الا اذا وجد الاذن او اجاز المالکان) [درمختار مع رد المحتار:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو څوک د اختري پوست استعمالولای سي خو د زکوة پيسې نسي استعمالولای دا ولي؟**

د اختري پوست يو څوک خپله استعمالولای سي او د زکوة پيسې نه سي استعمالولای دا ځکه چي فرق دا دئ چي په اختري کي عبادت د ويني توئېدل دي او دغه عبادت د ويني په توئېدلو سره ادا سو نو که څوک دغه پوست خرڅ کړي نو په دې سره هغه سړی مالداره کېږي او د اختري مقصد دا دئ چي ګټه ځني واخيستل سي خو مالداره په نه سي او د زکوة حقيقت تمليک مال يعني بل چا ته د مال ملکيت ورکول دي او په دې کي د خپل ملک څخه پيسې ايستل ضروري دي(1).

**که د اختري د حيوان په تيانو کي شيدې وي:**

که د اختري لپاره حيوان رانيول سي او په تيانو کي ئې شيدې وي نو شيدې ئې لوشل او استعمالول مکروه دي او که چيري د اختري و خت ليري وو نو شيدې دي ولوشي او خيرات دي ئې کړي(2).

**د اختري کولو مخکي د حيوان وړی استعمالول:**

د اختري د حيوان وړی تر حلالولو ترمخه استعمالول مکروه

---

دوهم ټوک – ۲۶۹ مخ].

(1) (لان القربة في الاضحية هي اراقة الدم) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۱۹۷ مخ، کذا في فتح القدير: نهم ټوک – ۵۲۰ مخ]. (لان الواجب عليه الاخراج من ملکه رقبة ومنفعة) [البحر الرائق: دوهم ټوک – ۴۲۵ مخ].

(2) (ويکره الانتفاع بلبنها قبله ... فان کانت التضحية قريبة ينضح ضرعها بالماء البارد والاحلبه وتصدق به) [درمختار مع رد المحتار: شپږم ټوک – ۳۲۹ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او که چیري يو چا پرې کړي وي نو خيراتول ئې واجب دي[1].

## د اختري کولو وروسته د حيوان وړۍ استعمالول:

د حيوان وړۍ د حلاليدلو وروسته استعماليدلای سي[2].

## د اختري د حيوان ويني د دوا لپاره چيښل:

ډېر خلګ د اختري ويني د دواء لپاره څښني دا کار په شريعت کي حرام دئ[3].

## د حيوان وينه بايد چيري واچول سي؟

د اختري د حيوان ويني دي په يو کنډي کي واچول سي او خاوري دي پر واچول سي[4].

## د پسه الويل ښه دي که د پوسته کښل؟

زموږ د معلوماتو له مخي پسه د پوسته کښل ښه دي او الويل ئې ښه کار نه دئ، البته که يو چا پسه والوايه نو ناروا کار نه دئ[5].

---

(1) (ولو اشترى شاة للاضحية يكره ان يحلبها اويجز صوفها فينتفع به لانه عينها للقربة ... او جز صوفها يتصدق به) [هنديه: پنځم ټوک – ۳۰۰ – ۳۰۱ مخونه].

(2) (و اذا ذبحها في وقتها جاز له ان يحلب لبنها ويجز صوفها وينتفع به لان القربة اقيمت بالذبح والانتفاع بعد اقامة القربة مطلق كالاكل) [هنديه: پنځم ټوک – ۳۰۱ مخ].

(3) (قل لااجد فيما اوحي الي محرما علي طاعم يطعمه الا ان يكون ميتة او دما مسفوحا اولحم خنزير فانه رجس ...) [سورة الانعام: ۱۴۵].

(4) (ويدفن اربعة : الظفر والشعر وخرقة الحيض والدم) [رد المحتار: شپږم ټوک – ۴۰۵ مخ].

(5) ليكن كهال سميت پكانے سے اس كا امكان جاتا رها اس لئے يه پسنديده عمل نهيں تاهم جائز ہے. [كشف الباري، كتاب الاطعمه: ص ۹۰، هكذا فى فتح الباري: نهم ټوک: ٦٦٣ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم فصل

## یو څو ضروري مسائل

### که چا د اختري کولو نذر کښېښودی:

چا چه د اختری کولو نذر کښیښوی وروسته هغه کار پوره سو کوم چي د هغه په خاطر ده نذر ایښی وو نو اختری کول واجب دي که غني وي او که نه وي او د نذر اختری ټوله غوښي و فقیرانو ته ور خیراتول واجب دي مه ئې تاسي خورئ مه ئې غنیانو ته ورکوئ څونه چي تاسو وخوری یا ئې امیرانو ته ورکړی هغومره غوښي یا قیمت خیراتول لازم دي(1).

### که چا د اختري په نیت اختری رانیوی خو باندي واجب نه وو:

که پر چا اختری واجب نه وو مګر هغه د اختري په نیت حیوان رانیوی نو د هغه حیوان اختری کول واجب سو(2).

---

(1) (قوله ویاکل من لحم الاضحیة الخ هذا في الاضحیة الواجبة والسنة سواء اذا لم تکن واجبة بالنذر وان وجبت به فلایاکل منها شیئا ولایطعم غنیا سواء کان الناذر غنیا او فقیرا لان سبیلها التصدق ولیس للمتصدق ذلک ولو اکل فعلیه قیمة ما اکل.... سئل القاضي بدیع الدین عن الفقیر اذا اشترى شاة لها هل یحل له الاکل قال نعم وقال القاضي برهان الدین لایحل) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۷ مخ].

(2) (فان اشتراها للاضحیة فقد تعینت الشاة للاضحیة) [هندیه: پنځم ټوک – ۲۹۹ مخ]. (و فقیر عطف علیه شراها لها لوجوبها علیه بذلک حتی یمتنع علیه بیعها (قوله لوجوبها علیه بذلک) اي بالشراء وهذ اظاهر الروایة لان شراءه لها یجري مجرى الایجاب وهو النذر بالتضحیة عرفا کما في البدائع) [درمختار مع ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که مړی وصیت وکړي چي زما په ټوله مال غوایي رانیسي:**

که مړی وصیت وکړي چي زما په ټوله مال سره غوائی رانیسئ او اختری ئې کړئ نو د ده وصیت د ده د ترکه (د پاته سوي مال) په دریمه حصه کي نافذېږي[1].

**که یو چا د خاص حیوان د اختري کولو نذر وکړی:**

که یو چا پر ځان باندي حیوان نذر کړ چي دا به اختری کوم نو نذر ئې صحیح دئ او پر ده باندي د هغه حیوان حلالېدل لازم دي او که چیري ئې د اختر په ورځو کي هغه حیوان حلال نه کړ نو بیا به دا غه حیوان و یوه فقیر ته چي د زکوة مستحق وي په خیرات کي ورکړي[2].

**مستحق طالب ته دیني کتابونه رانیول تر اختري ښه دي:**

پر کوم طالب چي اختری واجب نه وي نو د هغه لپاره دیني کتابونه رانیول تر اختري کولو ښه دي[3].

---

(1) (ولو اوصی بان یشتری بقرة بجمیع ماله ویضحي بها عنه فمات ولم تجز الورثة فالوصیة جائزة بالثلث بلاخلاف ویشتري بالثلث شاة ویضحي بها عنه) [هندیه: پنځم ټوک – ۳۰٦ مخ].

(2) (اما الذي یجب علي الغني والفقیر فالمنذور به بان قال لله عليَّ ان اضحي شاة اوبدنة اوهذه الشاة او هذه البدنة او قال جعلت هذه الشاة ضحیة او اضحیة وهو غني وفقیر) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۱۹۲ مخ]. (ولو ترکت التضحیة ومضت ایامها تصدق بها حیة ناذر.... فاعل تصدق لمعینة ولو فقیرا) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۲۰ مخ].

(3) (لان الاصل في الاموال التقرب بالتصدق بها لا بالاتلاف وهو الاراقة) [بدائع الصنائع: ځلرم ټوک – ۲۰۲ مخ]. (قال الرحمتي: والحق التفضیل فما کانت الحاجة فیه اکثروالمنفعة فیه اشمل فهو الافضل کما ورد (حجة افضل من عشر غزوات) وورد عکسه فیعمل علی ما کان انفع فاذا کان اشجع وانفع في الحرب فجهاده افضل من حجه او بالعکس فحجه افضل وکذا بناء الرباط ان کان محتا جا الیه افضل من الصدقة وحج النفل) [ردالمحتار: دوهم ټوک – ٦۲۱ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که هر وارث ته په میراث کي د نصاب په اندازه حصه ورسېدل:**

که پلار مړ سو او وارثان ئې نارینه او ښځینه پاته سول نو که د متروکه مال څخه و هر یوه ته د نصاب په اندازه یا زیاته حصه رسېدل نو اختری پر هر یوه جلا جلا واجب دئ دا هغه وخت چي وارثان بالغان وي او که په وارثانو کي نابالغ هم وه نو پر نابالغو اختری کول واجب نه دي او دا چي ډېر خلګ دا وایي چي زموږ مشرتوب زموږ مشر ورور کوي نو باید یو اختری وسي دا خبره غلطه ده او په شریعت کښي هیڅ اعتبار نه لري بلکي شریعت دا وایي چي د هر یوه ملکیت ته کتل کېږي او بل دا چي د ورونو په مابین کي ګډه وېش د اختري کولو مانع نه سي ګرځېدلای[1].

**که د ښځي زېورات و نصاب ته رسېدل:**

که ښځي یوازي زېورات درلودل او د اختري نصاب ته رسېدل خو نور مبلغ ئې نه درلودی نو دا به زیورات خرڅوي او حتماً به اضحیه کوي ځکه چه واجب او فرض په عمل کي یو دي[2].

---

(1) (اما شرائط الوجوب منها اليسار وهو مايتعلق به وجوب صدقة الفطر دون ما يتعلق به وجوب الزكاة) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۲مخ]. (فتجب التضحية علي حر مسلم مقيم موسر عن نفسه لا عن طفله) [درمختار: شپږم ټوک – ۳۱۳ – ۳۱۵ مخونه]. (والاصل في العبادات الا تجب علي احد بسبب غيره بخلاف صدقة الفطر لان فيها معنى المؤونة والسبب فيها راس يمونه (ينفق عليه ) ويلي عليه وهذا ارجح الاراء) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۱۲ مخ].

(2) (انها واجبة مرة في كل عام علي المقيمين من اهل الامصار) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۰۳مخ].(وصح دفع عرض ومكيل وموزون عن زكوة النقدين بالقيمة وان ادى من عين النقدين فالمعتبر وزنهما اداء كما اعتبر وجوبا الخ) [مراقى االفلاح: دوهم ټوک – ۳۹۴ مخ، كذا في فقهي مقالات: دريم ټوک – ۱۶۴ مخ، و في فتاوى مفتي محمود: دريم ټوک – ۲۴۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مځکه کي کوم وخت اختری واجب دی؟

مځکه که حاصل خېزه وي او که غیر حاصل خېزه هغه وخت اختری او زکوة پکښي واجب دئ چي د هغې قیمت او یا د هغې د حصول مجموعه د نصاب و اندازي ته ورسېږي خو په دې شرط چي دغه قیمت یا د حصول مجموعه به ئې تر حاجت اصلیه زیاته وي(1).

## که د پوروړي سره د نصاب په اندازه پیسې وي:

که د یو چا سره د اختري نصاب پوره وو خو پر ده باندي قرض هم وو نو که دی دغه قرض ادا کړي او دونده اندازه پیسې ور پاته سي چي بیا هم نصاب ته رسېږي نو پر ده اختری واجب دئ او که پاته پیسې نصاب ته نه رسېدلې نو بیا پر ده اختری واجب نه دئ(2).

## پر قرض ورکونکي اختری سته:

که د یو چا پر بل چا باندي قرض باندي وو او امید ئې دا وو چي ده ته خپل قرض رسېږي نو پر مقرض (پور ورکوونکي) باندي

---

(1) (سئل محمد بن الحسن عمن له اراضي یزرعها او حانوت یستغلها وفي الخانیة او دار غلتها تساوي ثلاثة آلاف: قال: ان کانت غلتها تکفي لنفقته و نفقة عیاله سنة لایحل له اخذ الزکاة وهو قول ابي حنیفة وابي یوسف رحمهما الله تعالی وان کانت غلتها لاتکفي لنفقته ونفقة عیاله سنة قال محمد یحل له اخذ الزکاة وان کان قیمتها یبلغ ألوفا وفي الفتاوی العتابیة وعلیه الفتوی) [تاتارخانیة: دوهم ټوک – ۲۰۹ مخ]، (ولو له عقار یستغله فقیل تلزم لو قیمته نصابا وقیل لو یدخل منه قوت سنة تلزم وقیل قوت شهر فمتی فضل نصاب تلزمه ولو العقار وقفا فان وجب له في ایامها نصاب تلزم) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۲ مخ].

(2) (ولو کان علیه دین بحیث لو صرف الیه بعض نصابه ینقص نصابه لاتجب لان الدین یمنع وجوب الزکاة فلان یمنع وجوب الاضحیة اولی لان الزکاة فرض والاضحیة واجبة والفرض فوق الواجب) [بدائع الصنائع: څلرم ټوک – ۱۹۶ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختری واجب دئ البته که د اختري له پاره ئې نغدي پیسې نه درلودې او نه تر ضرورت زيات سامان وو چي دی ئې خرڅ کړي او اختری په وکړي نو بیا اختری نه دئ باندي واجب[1].

**که په کور کي ښځي نصاب ولري خو خاوندان يې څه نلري:**

که په کور کي څو ښځي وي او هره یوه د نصاب په اندازه زر هم لري خو خاوندان ئې دومره پیسې یا نور څه ... نه لري چي و نصاب ته رسیږي نو پر هري ښځي جلا جلا اختری واجب دئ[2].

**د اختري لپاره بل ملک ته پیسې لیږل:**

پر کوم چا چي اختری واجب وي که هغه د اختري کولو له پاره پیسې و بل ملک ته ولیږي او و بل چا ته د اختري کولو ووايي چي زما له طرفه اختری وکړي نو په دغه طریقه سره په نورو ملکو کي اختری کول صحیح دئ شرعاً په دې کي هیڅ قباحت نسته مګر دومره خبره ضروري ده چي دا اختری به د دواړو ممالکو په مشترکه ورځو کي وي یعني په کومه ورځ چي اختری کیږي هغه ورځ به د دواړو مملکتو تر منځ د اختر مشترکه ورځ وي.

مثلاً که د سعودي عرب یوه ورځ د افغانستان تر حساب مخکي اختر وي نو په دغه ورځ چي کوم چا افغانستان ته پیسې د اختري

---

(1) (له مال کثير غائب في يد مضاربه او شريکه و معه من الحجرين او متاع البيت ما يضحی به تلزم) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۱۲ مخ]، و لو کان عليه دين بحيث لو صرف فيه نقص نصابه لا تجب و کذا لو کان له مال غائب لا يصل اليه فی ايامه) [هنديه: پنځم ټوک – ۲۹۲ مخ].

(2) فتاوی مفتي محمود: دريم ټوک – ۲۴۶ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولو له پاره لېږلي وي نو په همدغه ورځ به اختری نه کوي بلکي په دوهمه يا دريمه ورځ به ئې کوي[1].

## په اختري کي نيابت او وکالت صحيح دی:

په اختري کي نيابت او وکالت صحيح دي يو نفر بل نفر د اختري کولو له پاره خپل وکيل جوړولای سي که دواړه په يوه ملک کي وي که په جلا جلا ملکو کي وي، په خوله، ټليفون، خط، برېښناليک، فاکس يا په کومه بله ذريعه وکيل ټاکل يو رکم دي[2].

## حيوانات په تول سره رانيول:

په کوم ځای کي چي په تول سره حيوانات رانيول کېږي پروا نه لري او صحيح دي ځکه چي يو خو په دې کار کي چم کم وي او بل ناتجربه کاره خلک د تاوان څخه ساتل کېږي البته د داسي سودا څخه به جنګ او جنجال نه پېښېږي[3].

---

(1) و روی عنهما ايضاً ان الرجل اذا کان فی مصر و اهله فی مصر آخر فکتب اليهم ليضحوا عنه فانه يعتبر مکان التضحية فينبغی ان يضحوا عنه بعد فراغ الامام من صلاته فی المصر الذی يضحی عنه فيه [ردالمحتار: پنځم ټوک – ۲۹۶ مخ].

(2) مصری و کل وکيلاً بان يذبح شاة له و خرج الی السواد فاخرج الوکيل الاضحية الی موضع لا يعد من المصر فذبحها هناک فلو کان الموکل فی السواد جازت اضحيته عنه ولو کان قد عاد الی المصر و علم الوکيل بقدومه لم تجز الاضحية عن الموکل بلا خلاف [ردالمحتار: پنځم ټوک – ۲۹۷ مخ].

(3) احسن الفتاوی: شپږم ټوک – ۴۹۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوارلسم فصل

## د عقيقي د مسائلو په باره کي يوه مفصله او مدلله رساله

### د عقيقې معنى:

عقيقه لفظ د عق څخه اخيستل سوی دئ او د عق معنى څيرل دي او په دې ځای کي د هغو وربښتانو نوم دئ کوم چي د زېږېدني پر وخت د هلک پر سر راشنه وي او اوومه ورځ خرول کېږي او عقيقه هغه حيوان ته هم ويل کېږي کوم چي په اوومه ورځ د هلک د وربښتانو د خريلو پر وخت حلالېږي(1).

### د عقيقې کولو وخت:

عقيقه کول هر وخت ادا کېدلای سي خو اوومه ورځ عقيقه کول سنت او ښه عمل دئ(2).

### په عقيقه کي د غوايي خيراتول:

په عقيقه کي د پسه پر ځای غوايی هم خيراتولای سي او د عقيقې سنت پکښې ادا کېږي(3).

---

(1) (المغرب: العق الشق ومنه عقيقة المولود وهي شعره لانه يقطع عنه يوم اسبوعه وبها سميت الشاة التي تذبح عنه. [مرقاة المفاتيح: اتم ټوک – ۷۴ مخ]. (والعقيقة: الذبيحة التي تذبح عن المولود يوم اسبوعه والاصل في معناها اللغوي : انها الشعر الذي على المولود ثم سمت العرب الذبيحة عند حلق شعر المولود عقيقة على عادتهم في تسمية الشئ باسم سببه او مايجاوره) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۴۵مخ].

(2) (ولو قدم يوم الذبح قبل يوم السابع اواخره عنه جاز الا ان يوم السابع افضل) [تنقيح الحامدية: دوهم ټوک – ۲۳۳مخ].

(3) (هي في الجنس والسن والسلامة من العيوب مثل الاضحية من الانعام الابل والبقر والغنم ) [فقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوچني عقيقه پر چا ده:

د کوچني نفقه چي په مور او پلار کي پر هر چا واجبه وي نو د استطاعت په صورت کي عقيقه هم بايد هغه وکړي[1].

## په يوه حيوان کي د اختري، عقيقې او وليمې نيت کول:

که يو څوک په يوه غوايي کي اضحيه (اختری)، وليمه (د واده ډوډۍ) او عقيقه (پر کوچني باندي پسه حلالول) درې سره جمع کړي نو دغه کار صحيح دئ[2].

## د عقيقې د حيوان هډوکي بايد مات نسي:

ښه دا دئ چي د عقيقې د حيوان هډوکي مات نه سي بلکي ټول اعضاء سره جلا سي په دې کي د کوچني د هډوکو د سلامتيا نېک فالي ده[3].

## په عقيقه کي څو پسونه حلالول سنت دي؟

پر هلک باندي دوه پسونه حلالول سنت دي او پر نجلۍ باندي يو پسه حلالول سنت دئ[4].

---

اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۴۷مخ].

(1) حقانيه: شپږم ټوک – ۴۸٦ مخ، رحيميه: لسم ټوک – ٦١ مخ].

(2) (وشمل ما لو كانت القربة واجبة على الكل او البعض اتفقت جهاتها اولا كاضحية واحصار... لان المقصود من الكل القربة وكذا لو اراد بعضهم العقيقة عن ولد قد ولد له من قبل لان ذلک جهة التقرب بالشكر على نعمة الولد) [ردالمحتار: شپږم ټوک – ۳۲٦ مخ].

(3) (ويستحب ان تفصل اعضاؤها ولاتكسر عظامها تفاؤلا بسلامة اعضاء المولود لماروي عن عائشة رضى الله عنها انها قالت السنة شاتان مكافئتان عن الغلام وعن الجارية شاة تطبخ حدولا (اي لايكسرلهاعظم وانما تطبخ عضوا عضوا) [فقه اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۴۹ مخ].

(4) (عن ام كرز رضي الله عنها.... قالت وسمعته يقول عن الغلام شاتان وعن الجارية شاة ولايضركم ذكرانا كن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عقیقې د پوست څخه ګټه اخیستل:**

د عقیقې د پوست څخه خپله ګټه اخیستل او یا د هغه د قیمت څخه ګټه اخیستل جائز دي ځکه چې کوم شرائط په اختري کي واجب دي هغه په عقیقه کي مستحب دي(1).

**د هلک او انجلۍ حکم یو دی:**

په عقیقه کښي د هلک او انجلۍ حکم یو دئ(2).

**دعقیقې په نیت د رانیول سوی حیوان حلالېدل ضروري ندي:**

د عقیقې په نیت چي کوم حیوان رانیول سي د هغه حلالېدل واجب نه دي بل کار هم ځني اخیستل کېدلای سي لکه خیرات، صدقه، هدیه و غیره ځکه چي عقیقه مسنون عمل دئ(3).

---

او اناثا) [ابوداؤد: دوهم ټوک – ۳۹۲ مخ، کذا فی مرقاة المفاتیح: اووم ټوک – ۷۴ مخ]. (ولوذبح عن الغلام شاة وعن الجاریة شاة جاز لان النبي ﷺ عق عن الحسن والحسین کبشا کبشا الخ) [تنقیح الحامدیه: دوهم ټوک – ۲۳۳ مخ].

(1) (وحکمها کاحکام الاضحیة) [تنقیح الحامدیة: دوهم ټوک – ۲۳۳ مخ]. الجواب: چونکه شرائط واجبه في الاضحیه عقیقه میں محض مستحب هیں اس لئے تصدق بالقیمت بهي مستحب هوگا اور انتفاع بالجلد کے جواز میں کوئي شبه نهیں [امداد الفتاوی: دریم ټوک – ٦١٩ مخ].

(2) (مالک عن جعفر بن محمد عن ابیه انه قال وزنت فاطمة بنت رسول الله ﷺ شعر حسن وحسین وزینب و ام کلثوم فتصدقت بزنة ذلک فضة. (مالک عن ربیعة بن ابي عبدالرحمن عن محمد بن علي بن الحسین انه قال وزنت فاطمة بنت رسول الله ﷺ شعر حسن وحسین فتصدقت بزنته فضة) [موطا امام مالک: ۴۹۴ مخ].

(3) (وکان من جنسه واجب اي فرض کما سیصرح به تبعا للبحر والدر وهو عبادة مقصودة الضمیر راجع للنذر بمعنی المنذور.... فهذا صریح في ان الشرط کون المنذور نفسه عبادة مقصودة) [ردالمحتار: دریم ټوک – ۷۳۵ مخ]، (لان الشراء بنیة العقیقة وان کان بمعنی النذر ولکن یشترط لانعقاد النذر ان یکون المنذور عبادة مقصودة) [امداد الاحکام: څلرم ټوک – ۲۰۷ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عقیقه د ژوند سره اړه لري:**

هلک یا نجلۍ چي ژوندي وي نو عقیقه کول ئې مستحب دي او تر مرګ وروسته د عقیقې کولو استحباب ثابت نه دئ مګر که ئې څوک په دې امید کوي چي کوچنی به زما شفاعت وکړي نو ګنجائش ئې سته[1].

**د عقیقې مشروعیت او فلسفه:**

د شرعي احکامو په مشروعیت کي ځیني حکمتونه پټ وي، د عقیقې د مشروعیت او د اوومي ورځي د رعایت ځیني حکمتونه علماوو بیان کړیدي محض د مشروعیت د حکمتو او فلسفو په باره کي د اسلام لوی محدث او مفسر حضرت شاه ولي الله صاحب دهلوي رحمة الله علیه فرمائي:

**(وکان فیها مصالح کثیرة راجعة الي المصلحة الملية والمدنية والنفسية فابقاها النبي صلی الله علیه وسلم وعمل بها ورغب الناس فیها)**[2].

**ترجمه:** په عقیقه کولو کي ډېر مصلحتونه دي چي د هغوی تعلق د ځان، ټولني او د ملک د مصالحو سره وو نو د دغه مصالحو د وجهي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هغه باندي عمل وکړ او خلکو ته ئې هم رغبت ورکړ.

---

(1) عقیقه زندگي میں کیاجاتاهے مرنے کے بعد عقیقه کا مستحب هونا ثابت نهیں اکر مرده بچه کے عقیقه کو مستحب نه سمجها جائے محض شفاعت کي امید او مغفرت کي لالچ سے کر دیا جائے تو گنجائش معلوم هوتي هے. [فتاوی رحیمیه: لسم ټوک – ٦٢ مخ].

(2) حجة الله البالغة: دوهم ټوک – ۱۴۴ – ۱۴۸ مخونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library


**حضرت شاه ولي الله رحمة الله علیه د عقیقې فائدې داسې بیانوي:**

**اوله فائده:** په معاشره کې د هلک خپل نسب متعارف او په خلکو پېژندل يو ضروري کار دئ تر څو د معاشرې خلکو ته دا معلومه سي چي دغه هلک د فلانکي سړي زوی دئ او هیڅوک د هغه هلک په باره کې نامناسبه خبره ونه کولای سي، د دغه تعارف لپاره خو يو صورت دا هم وو چي دغه سړی خپله په کوڅو کې ګرځېدلای چي زما کره هلک پیدا سوی دئ نو ښکاره خبره ده چي دغه خبره د برداشت نه وه ځکه نو که خلګ و عقیقې ته راوغوښتل سي او یا هغوی ته غوښې ور ولېږدول سي نو د هغه د وجهې څخه خلګو ته دا معلومېږي چي د دغه سړي کره نجلۍ یا هلک پیدا سوی دئ.

**دوهمه فائده :** په انسان کي د سخاوت ماده پیدا کېږي او د بدو صفاتو لکه بخل او کنجوسۍ څخه د ساتلو يو تدبير دئ چي د انسان يو خوبي بلل کېږي.

**د عقیقې مذهبي او ملي فائدې:**

**اوله فائده :** د عقیقې د مذهبي او ملي فوائدو څخه يوه اهمه فائده دا ده چي په دې کي د ملت ابراهیمي سره د تعلق مظاهره وي ځکه چي په عیسایانو کي چي کوم هلک پیدا کېږي نو هغه ته په ژړ رنګ په اوبو کي رنګ ورکول کېږي چي هغه ته دغه خلګ (معمودیه)، ( بپتسمه) وائي او د دې په باره کي دغه آیت کریمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نازل سو:

صِبۡغَةَ ٱللَّهِ ۖ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبۡغَةً ۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ﴿١٣٨﴾ [البقرة–١٣٨].

**ترجمه:** موږ د الله رنګ قبول کړی او د الله تر رنګ بل د چا رنګ ښه کېدلای سي او موږ د دغه الله عبادت کوونکي يو.

**دوهمه فائده** : او بل د دې په مقابل کي د مسلمانانو لپاره دا ضروري ده چي هغه خپل نسبت د ملت ابراهيمي سره واضح کړي د مسلمانانو د ژوند په عامو کارونو کي بايد داسي طريقې وي چي د هغوی څخه د ملت ابراهيمي تعلق معلومېږي، په ملت ابراهيمي کي دا خبره مشهوره او معلومه ده چي ده مبارک د خپل زوی پر ځای يو پسه حلال کړ.

د دې څخه ماسوا په مشهورو کارو کي يو حج هم دئ چي په هغه کي ذبح او د وربښتانو خريل هم دي په عقيقه کولو سره د ملت ابراهيمي سره د دغه معلومو افعالو او امورو سره نسبت پيدا کېږي ځکه نو د مذهبي تعلق د مظاهرې لپاره يو غټ صورت دئ.

**دريمه فائده** :يوه بله اهمه نکته دا هم ده چي په دې عقيقه کي د تابعدارۍ او انقياد يوه نمونه ده ځکه چي د هلک پر پيدا کېدو باندي د دغي عقيقې څخه داسي وسول لکه څنګه چي ده مبارک خپل زوی د الله پاک په دربار کي پيش کړ چي د اتباع او

(c) ketabton.com: The Digital Library


فرمانبردارۍ معراج دی(1).

**څلورمه فائده** : په عقیقه کولو کي يوه نکته او راز دا هم دئ چي وانسان ته خپل زوی ډېر ګران وي د هلک پر زېږېدنه باندي مور او پلار ته ډېره خوشحالي وي او د مستقبل د اميدونو د فکر او سوچ له وجهي د کور هر فرد د خوشحالۍ او سرور څخه ډک وي د دې لپاره ضروري ده چي د تشکر په خاطر يو څه خيرات کړي او د خيرات کولو ښه صورت دغه قرباني يعني عقيقه ده(2).

**پنځمه فائده:** د عقيقې غوښي و فقيرانو، مسکينانو، دوستانو او قريبانو ته تر مړېدو پوري ورکول طبعاً د هغوی د زړونو څخه دعاوي راوزي چي په هغه سره د هلک مستقبل روښانه کېږي، عقيقه د فقيرانو او مسکينانو، دوستانو او قريبانو د دعاوو د حصول يو ښه ذريعه ده.

**تسبيع يعني د اوومي ورځي د رعايت کولو فلسفه:**

دا خبره ثابته ده چي په عقيقه کي ښه دا دي چي عقيقه د هلک يا نجلۍ د زېږېدني پر اوومه ورځ وي حضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه فرمائي که د هلک د زېږېدني پر وخت دا ضروري وبلل سي نو دا امکان لري چي د هلک و مور او پلار ته تکليف وي ځکه چي په دې وخت کي د کور ټول خلګ د کوچني او د مور په حال معلومولو کي

---

(1) حجة الله البالغة: دوهم ټوک – ۱۴۴ – ۱۴۸ مخونه].

(2) الذبائح في الشريعة الاسلامية: ۲۸۳ مخ، د حقانيه: شپږم ټوک ۴۸۵ مخ په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مصروف او مشغول وي، په داسي وخت کي و هغوی ته د عقیقې کولو حکم کول داسي نه وي چي د هغوی د تکلیف باعث سي، پر دې سربېره کله کله د حیوان په پیدا کولو کي تکلیف پېښېږي او د لزوم په صورت کي ټوله خاندان د دغو ټولو مشکلاتو سره مخامخ نه سي ځکه نو دا سنت سول چي عقیقه پر اوومه ورځ وي او یوه هفته قابل اعتماد وخت دئ[1].

**د لوی اختر په ورځو کي عقیقه کول:**

د لوی اختر په ورځو (ایام نحر) کي عقیقه کول صحیح ده[2].

**عقیقه سنت ده که مستحب؟**

د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمة الله علیه په نزد عقیقه سنت مؤکده ده او د امام احمد په نزد په یوه روایت کي واجب ده او د امام اعظم رحمة الله علیه په نزد مستحب ده او د امام اعظم رحمة الله علیه و طرف ته چي د عقیقې د بدعتوالي قول منسوب سوی دئ دا پر امام ابو حنیفه رحمة الله علیه باندي بهتان دئ[3].

**اول حدیث:** په بخاري شریف کي د حضرت سلمان الضبي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي د هر کوچني پر پیدا کېدو باندي عقیقه سنت ده پس تاسي د ده د طرف

---

(1) حجة الله البالغه: دوهم ټوک - ۱۴۴ - ۱۴۸ مخونه].
(2) فتاوی رحیمیه: لسم ټوک - ۵۹ مخ.
(3) مالابد منه: دوهم ټوک - ۴۹۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ويني توی کړئ (يعني يو حيوان حلال کړئ) او د ده څخه هغه شيان ليري کړئ کوم چي تکليف ورکوي (مطلب د سر وريښتان ور وخرياست)[1].

**دوهم حديث:** او په نسائي شريف کي د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي: هر کوچنی د خپلي عقيقې په بدل کي ګرو دئ د ده د طرفه څخه دي اوومه ورځ ذبح وسي نوم دي پر کښېښول سي او د سر وريښتان دې ور وخريل سي[2]. امام احمد رحمة الله عليه فرمايلي دي چي د ګرو معنی دا ده چي کوم وخت د کوچني عقيقه ونه سي نو د قيامت په ورځ دي د خپل مور او پلار شفاعت نه کوي لکه څرنګه چه ګرو اېښوول سوی شی و خپل مالک ته ګټه رسولای نه سي[3].

## د عقيقې د حيوان غوښه بايد څنګه تقسيم سي؟

دا مستحب ده چه د عقيقې د حيوان سر (کله) و سر خريونکي ته ورکړي يو ورون يې و دائي ته ورکړي، دريمه حصه غوښي ئې و فقيرانو ته ورکړي نوري پاته غوښي ئې په خپله وخوري يا ئې پر

(1) (عن سلمان بن عامر الضبي ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مع الغلام عقيقة فاهريقوا عنه دما واميطوا عنه الاذى) [بخاري دوهم ټوک – ۸۲۲ مخ، كذا فى مرقاة المفاتيح: اتم ټوک – ۷۴ مخ].
(2) (عن سمرة بن جندب ﷺ عن رسول الله ﷺ قال كل غلام رهين بعقيقته يذبح عنه يوم سابعه ويحلق راسه ويسمى) [سنن النسائي: دوهم ټوک – ۱۸۸ مخ].
(3) مالابد منه: دوهم ټوک – ۴۹۲ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپلو دوستانو او اشنایانو باندي تقسیم کړي. د عقیقې پوست دي خیرات کړي یا دي ئې خپله استعمال کړي او په مځکه کي دي ئې نه پټوي ځکه چي دا د مال ضائع کېدل دي(1).

**د پیدا سوي کوچني سر وروخروئ:**

د نوي زېږېدلي کوچني سر ور وخروئ تر خریلو وروسته د دغه کوچني د سر د وریښتانو د وزن په اندازه سپین زر خیرات کړئ د سر وریښتان او نوکان ئې په مځکه کي پټ کړئ، دغه راز د همیشه لپاره په مځکه کي د هغو شیانو پټول په کار دي کوم چه د انسان د بدن څخه جلا کېږي لکه وریښتان، نوکان، غاښونه او داسي نور، دا په کار ده چي د زېږېدلي کوچني په سر پوري زعفران یا صندل ور وموږي(2).

**د عقیقې کولو مستحبه ورځ:**

د عقیقې مستحبه طریقه دا ده چي په اوومه ورځ وسي او که اوومه ورځ نه وي نو څوارلسمه ورځ یا یویشتمه ورځ(3).

**کوم حیوان چي د اختري لپاره مناسب وي هغه...:**

کوم حیوان چي د اختري لپاره مناسب وي هغه حیوان د عقیقې

---

(1) مالابد منه: دوهم ټوک – ۴۹۶ مخ.

(2) (قال سمعت ابي بریدة یقول کنا في الجاهلیة اذا ولد لاحدنا غلام ذبح شاة ولطخ راسه بدمها فلماجاءالله بالاسلام کنا نذبح شاة ونحلق راسه ونلطخه بزعفران [ابوداؤد: دوهم ټوک – ۳۹۳ مخ، کذا في الفقه الاسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۴۸ مخ]

(3) (والحق ان مذهبنا استحبابها السابع بعد یوم الولادة او للرابع عشر او الحادي وعشرین ویسمیه في ذلک الیوم) [العرف الشذی شرح الترمذي: دوهم ټوک – ۴۱۰ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره هم مناسب دئ[1].

**د غبرګولیانو عقیقه کول:**

که دوه غبرګولیان یو ځای پیدا سي نو عقیقه ئې مکرره کیږي[2].

❁ ❁ ❁

## د مولود (پیدا سوي هلک یا انجلۍ) احکام

**د هلک په غوږ کي اذان او اقامت کول:**

د هلک د پلار لپاره مستحب دا دئ چي د هلک په راسته غوږ کي اذان وروکړي او په چپه غوږ کي ئې اقامت وروکړي[3].

**په راسته غوږ کي دغه الفاظ ویل:**

دا هم سنت دئ چي د مولود په راسته غوږ کي دغه الفاظ ووائي: **(واني اعیذها/ اعیذه بک وذریتها/ وذریته من الشیطان الرجیم)** وفي مسند ابن رزین **انه قرا في اذن مولود (اي الیمني) سورة الاخلاص**[4].

---

(1) هی فی الجنس والسن والسلامة من العیوب مثل الاضحیة [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۴۷ مخ].

(2) (وتتعدد العقیقة بتعدد الاولاد فلو ولد له توامان کان لهما عقیقتان ولاتکفي واحدة عنهما) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۴۷ مخ].

(3) (یستحب للوالد ان یؤذن في اذن المولود الیمنی وتقام الصلوة في الیسری حین یولد) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۰ مخ].

(4) فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د هلک یا انجلۍ پر تالو خورما ورموږل:

دا هم سنت دي چې خرما وژول سي او د هلک یا انجلۍ پر تالو باندي ورومووږل سي او خوله ئې ورخلاصه کړي تر څو نس ته یې یو څه ور داخل سي او که خرما نه وه نو بل خوږ شی دي استعمال سي[1].

### مور او پلار ته مبارکي ورکول:

دا هم مستحب او ښه کار دئ چي و پلار او مور ته ئې مبارکي ورکول سي چي الله تعالی دي په هلک یا نجلۍ کي برکت واچوي او داسي نور...[2].

### په اوومه ورځ سر خرول او نوم ایښول:

او دا هم مستحب دئ چي په اوومه ورځ د هلک سر ورو خرول سي او د عقیقې تر ذبح وروسته نوم پر کښېښول سي او ورېښتان ئې د سپینو یا سرو زور سره وتلل سي او خیرات سي[3].

### سنتول څه وخت مکروه دي؟

د زیږېدني په ورځ او په اوومه ورځ سنتېدل د احنافو په نزد

(1) .... عن ابي موسى قال ولد لي غلام فاتيت به النبي ﷺ فسماه ابراهيم وحنكه بتمرة) [بخاري: دوهم ټوک – ۸۲۱ مخ]. (ويسن ان يحنك المولود بتمرة بان تمضع ويدلک بها داخل فمه ويفتح فمه حتى ينزل الى جوفه منها شئ فان لم يكن تمر فيحنكه بحلو.... [فقه ا سلامي: ځلرم ټوک – ۲۷۵۰ مخ].

(2) (ويندب ان يهنأَ الوالد بان يقال له بارک الله في الموهوب لک وشكرت الواهب وبلغ اشده ورزقت بره) [فقه اسلامي: ځلرم ټوک – ۲۷۵۱ مخ].

(3) (ويستحب حلق راس المولود في اليوم السابع من ولادته وان يسمي فيه بعد ذبح العقيقة ويتصدق بوزن شعره ذهبا اوفضة) [فقه اسلامي: ځلرم ټوک – ۲۷۵۱مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکروه دي[1].

## د هلک او انجلۍ سنتول:

د هلک او نجلۍ دواړو سنتېدل د احنافو په نزد سنت مؤکده دي[2].

## د سنتولو حکم:

د سنتېدلو حکم دا دئ چي ډېره پاکي راسي او مسلمان د نورو کفارو څخه جلا سي او دا هم سنت دئ چي پلار پر خپل زوی ښه نوم کښېږدي[3].

## څه ډول نومان ایښول ښه ندي؟

داسي نومونه چي د هغه معنی غلطه وي او یا بد نومونه وي ایښوول ئې مکروه دي لکه شیطان، ظالم، عاصیه[4].

## زیات نومونه ایښول:

تر یوه زیات نومونه ایښول صحیح دي مګر ښه دا دئ چي یو نوم وي[5].

---

(1) (ویکره الختان یوم الولادة ویوم السابع عند الحنفیة لانه من فعل الیهود) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۱ مخ].

(2) (والختان للذکر بقطع الجلدة التي تغطي الحشفة سنة مؤکدة عند المالکیة والحنفیة للذکور والخفاض في النساء مکرمة وهي قطع ادلی جزء من الجلدة التي في اعلی الفرج) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۱مخ].

(3) (وحکمة الختان المبالغة في الطهارة والنظافة وتمییز المسلم من غیره ویسن ان یحسن الوالد اسم المولود ...) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۲ مخ].

(4) (وتکره الاسماء القبیحة کشیطان وظالم وشهاب...) [فقه اسلامي: څلرم ټوک – ۲۷۵۲مخ].

(5) (ویجوز التسمیة باکثر من اسم واحد والاقتصار علی اسم واحد اولی لفعله ﷺ باولاده) [فقه

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شهنشاه او شاه جهان نوم ایښول:**

شهنشاه او شاه جهان نوم ایښول جائز نه دي[1].

**د عبدالنبي د نوم ایښول:**

د عبدالنبي د نوم ایښولو څخه ډېرو علماوو منع کړې ده[2].

**یو څوک په ښه القابو نومول نه په بدو:**

یو څوک په داسي نوم نومول چي هغه بد په وړي حرام دي مګر په ښه القابو سر نومول بیا ښه دي لکه فاروق، اسدالله ...[3].

**داسي نوم ایښول چي لائق يې الله ﷻ وي:**

داسي نوم پر يو چا ایښوول چي د هغه لائق یوازي الله ﷻ وي حرام دئ[4].

**د سر وربښتان په مځکه کي ښخول:**

د نجلۍ او هلک وربښتان چي وخریل سي نو ښه دا دئ چي په مځکه کي دفن سي[5].

---

اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۵۳ مخ].

(1) (ولاتجوز التسمية بملک الاملاک وشاهان شاه ومعناه ملک الاملاک ولیس ذلک الاالله) [فقه اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۵۳ مخ].

(2) (والتسمية بعبدالنبي قد تجوز اذا قصد به التسمية لا النبي ﷺ ومال الاکثرون الی المنع منه ) [فقه اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۵۳ مخ].

(3) (ویحرم تلقیب الشخص بمایکره وان کان فیه کالاعور والاعمش الخ وتجوز الالقاب الحسنة کالقاب الصحابة مثل عمر الفاروق...) [فقه اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۵۳ مخ].

(4) (ویحرم التسمية بمالایلیق الا بالله کقدوس والبروخالق، والرحمن، لان معنی ذلک لایلیق بغیره تعالی) [فقه اسلامي: ثلرم ټوک – ۲۷۵۳ مخ].

(5) (فاذا قلم اظفاره او جز شعره ینبغي ان یدفن ذلک الظفر والشعر المجزوز) [هندیه: پنځم ټوک –

(c) ketabton.com: The Digital Library



وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين
ولا تنسونا من صالح دعائكم

# مآخذ او مراجع

---

۳۵۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شماره | کتاب | طبع |
|---|---|---|
| ۱ | تفسیر ابن کثیر | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲ | معارف القران | ادارة المعارف کراچي |
| ۳ | صحیح البخاري | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۴ | صحیح المسلم | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۵ | سنن ابي داؤد | میرمحمد کتب خانه کراچي |
| ٦ | جامع الترمذي | مکتبه رحمانیه لاهور |
| ۷ | سنن النسائي | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۸ | شرح معاني الاثار للطحاوي | مکتبه حقانیه ملتان |
| ۹ | سنن ابن ماجه | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۱۰ | مؤطا امام مالک | نورمحمد کارخانه کراچي |
| ۱۱ | مشکوة المصابیح | امیر حمزه کتب خانه کوئټه |
| ۱۲ | الترغیب والترهیب | دارالفکر بیروت |
| ۱۳ | اعلاء السنن | ادارة القرآن والعلوم الاسلامیه کراچي |
| ۱۴ | فیض القدیر | دارالکتب العلمیه بیروت |
| ۱۵ | السنن الکبری للبیهقی | دارالکتب العلمیه بیروت |
| ۱٦ | بذل المجهود | مکتبة الشیخ کراچي |
| ۱۷ | عرف الشذی شرح الترمذي | مکتبه رحمانیه لاهور |
| ۱۸ | مرقاة المفاتیح | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۱۹ | نصب الرایه | مکتبه حقانیه پشاور |
| ۲۰ | زادالمعاد | مؤسسة الریان بیروت |
| ۲۱ | فتح الباري | قدیمي کتب خانه کراچي |
| شماره | کتاب | طبع |
| ۲۲ | کشف الباري | مکتبه فاروقیه کراچي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | الدر المختار مع رد المحتار | مکتبه رشیدیه کوئټه، ایچ ایم سعید کراچي |
| ۲۴ | تقریرات الرافعی | ایچ ایم سعید کراچي |
| ۲۵ | بدائع الصنائع | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲٦ | الهندیه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲۷ | البزازیه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲۸ | الخانیه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲۹ | مجمع الانهر | مکتبة المنار کوئټه |
| ۳۰ | ملتقی الابحر | مکتبة المنار کوئټه |
| ۳۱ | درمنتقی | مکتبة المنار کوئټه |
| ۳۲ | تنقیح الحامدیه | مکتبه امدادیه کوئټه |
| ۳۳ | خلاصة الفتاوی | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۳۴ | الفقه الاسلامي وادلته | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۳۵ | التاتارخانیه | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۳٦ | البحر الرائق | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۳۷ | تبیین الحقائق | مرکز اهل السنة هند |
| ۳۸ | حاشیة الشیخ الشلبی علی تبیین الحقائق | مرکز اهل السنة هند |
| ۳۹ | فتح القدیر | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۴۰ | مراقي الفلاح | مکتبة القدس کوئټه) |
| ۴۱ | حاشیة الطحطاوي علی مراقي الفلاح | مکتبة القدس کوئټه |
| ۴۲ | القدوري | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۴۳ | الجوهرة النیرة | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۴۴ | اللباب في شرح الکتاب | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۴۵ | **کتاب** | **طبع** |
| ۴٦ | الاختیار لتعلیل المختار | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۴۷ | الهدایة | مکتبه حنفیه کوئټه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۴۸ | الکفایه شرح الهدایه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۴۹ | حاشیة الطحطاوي علی الدر المختار | دار المعرفة بیروت |
| ۵۰ | شرح المجله لسلیم رستم باز | مکتبه فاروقیه پشاور |
| ۵۱ | صغیري و کبیري | مکتبه اسلامیه کوئټه |
| ۵۲ | المبسوط للسرخسي | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۵۳ | مجموعه رسائل اللکنوي | انتشارات شیخ الاسلام احمد جامي |
| ۵۴ | حجة الله البالغه | نور محمد کارخانه کراچي |
| ۵۵ | امداد الفتاوی | مکتبه دار العلوم کراچي |
| ۵۶ | امداد الاحکام | مکتبه دار العلوم کراچي |
| ۵۷ | کفایت المفتي | دار الاشاعت کراچي |
| ۵۸ | فتاوی رحیمیه | دار الاشاعت کراچي |
| ۵۹ | احسن الفتاوی | ایچ ایم سعید کراچي |
| ۶۰ | فتاوی حقانیه | اکوړه خټک پشاور |
| ۶۱ | فتاوی مفتي محمود | مشتاق پریس لاهور |
| ۶۲ | فتاوی محمودیه | جامعه فاروقیه کراچي |
| ۶۳ | آپ کے مسائل اور ان کا حل | مکتبه لدهیانوي کراچي |
| ۶۴ | خیر الفتاوی | مکتبه امدادیه ملتان |
| ۶۵ | فقهي مقالات | میمن اسلامک پبلشرز |
| ۶۶ | فتاوی فریدیه | اهتمام و اشاعت حافظ حسین احمد پشاور |
| ۶۷ | ما لابد منه (مسائل حنفي مدلل) | فیضي کتب خانه کوئټه |
| ۶۸ | قرباني کے فضائل و مسائل | ادارۀ اسلامیات لاهور |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**